۱ـ ضابطه: په حالت د رفعي كي به په تقد ير د ضمي سره ځكه وي چي واو او ياء حرف علت ضعيف دي اوضمه ثقيله ده، اوپه حالت نصبي كي به په ظهور د فتحي سره ځكه وي چي فتحه خفيف ده، او په حالت د جزم كي سقوط د حرف علت ځكه وي چي حرف علت په شان د حركت دي.

۲ـ ضابطه: معتل الفي كي هم اعراب پردوه قسمه دي:۱ـ تقد يري په حالتين كي، رفع او نصب
۲ـ او جزم په حذ ف دلام سره وي.

### د څلرم قسم د اعراب حكم او د ليل:

۳ـ ضابطه:په حالت د رفعي او نصب كي به تقد يري ځكه وي چي د دي په اخيره كي الف دي اوالف ساكن وضعي دي حركت نه قبلوي، اوپه حالت د جزم كي به په سقوط د الف سره ځكه وي چي الف په شان د حركت سره دي.

۲ـ دوهم قسم: ۱ـ تثنيه.۲ـ جمع مذ کر.۳ـ واحد ه مؤنثه مخاطبه.

اعراب د دي قسمه:رفعه په اثبات د نون، او نصب او جزم په سقوط د نون. ددي دپاره اوه ـ۷ـ يغي دي:

۱ـ يفْعَلا نِ: تثنيه مذ کرغائب.۲ـ تَفْعَلا نِ: تثنيه مؤنثه غائبه.۳ـ تَفْعَلا نِ: تثنيه مذ کر مخاطب ۴ـ تَفْعَلِينَ: واحده مؤنثه مخاطبه.۵ـ تَفْعَلا نِ: تثنيه مؤنثه مخاطبه.۶ـ يَفعَلونَ: جمع مذ کرغائب.۷ـ تفْعَلُوْنَ: جمع مذ کر مخاطب.

د تثنيه مثال : حالتي رفعي، نصبي، جري. هما يَفْعَلانِ: ويدعُوَانِ، ويَرْمِيَانِ، ويَرْضَيَانِ،لن يفعلا ولن يَدْعُوَا،ولن يَرْمِيَا ولن يَرْضَيَا ولم يفعلا ولم يَدْعُوَا،ولم يرميا ولم يرضيا.

د مؤنث مخاطبه مثال: انت تفعلين: وتدعين، ترمين، ترضين، ولن تفعلي، ولن تدعي ولم ترمي ولن ترضي، ولم تفعلي لم تدعي لم ترمي، لم ترضي.

مثال: د جمع مذکرغائب: هم يفعلون، ويدعون، ويرمون، ويرضون، لن يفعلو، لن يدعوا، ولن يرموا ولن يرضوا دا رکم مخاطب باندي قياس ده.

ضابطه: په دغه دوهم قسمه کي معتل واوي، او يايي، او الفي، فرق نه سره لري.

## د دوهم قسم د اعراب حکم او د ليل:

۱ـ ضابطه: په حالتي رفعي کي اثبات د نون او په حالتي نصبي او جزمي کي سقوط د نون دا ځکه وي نون په شان د حرکت د مفرد سره دي .

د ريم قسم : معتل واوي او يايي مفرد چون يدعو او يرمي.

۲ـ ضابطه: د دغه قسمه حکم مخکي په اول قسم کي ذ کر سوي دي.

څلرم: قسم معتل الفي مفرد دي:

ضابطه: د د غه قسمه حکم په اول قسمه کي ذ کر سوي دي.

فصل: بدانکه عوامل بردو قسم است:.

تشريح: هرکله چي مصنف فارغ سو د بيان څخه د اعراب د اسم متمکن او فعل مضارع نو يي شروع وکړه په بيان دعواملوکي.

## دعامل تعريف

د عامل لغوي اواصطلا حي معنا:

عوامل: جمع دعامل ده عامل په لغة کي مؤثر ته وايي

اوپه اصطلاح کي عا مل پر دوه قسمه دي: ۱ـ عامل د اسم .۲ـ مطلق عامل .

د اسم د عامل تعريف: د يته وايي چي حاصليږي په هغه سره معنى مقتضيه د اعراب چي هغه فاعليت اومفعوليت او اضافت دي.

د مطلق عامل تعريف: ما اوجب كون اخرالكلمة على وجه مخصوص من رفع،ونصبب ،وجر.

يعنى د يته وايي چي گرځوي اخر د كلمي پر وجه خاصه چي اعراب او بناء دي.

## عامل په اعتبار د تلفظ او عد م تلفظ پردوه قسمه دي

عامل په اعتبار د تلفظ او عد م تلفظ پردوه قسمه دي:١ـ عامل لفظي.٢ـ عا مل معنوي.

دعامل لفظي تعريف: ما يعرف بالقلب ويتلفظ بالّسان)

يعني په زړه سره يي علم پرراځى، اوپه خوله سره تلفظ هم په كيږي.

د عامل معنوى تعريف:ما يعريف با لقلب ولايتلفظ به )

يعني په زړه سره يى علم پرراسي اوپه خوله تلفظ نه په كيږي .

سوال:د عا مل لفظي اومعنوى فرق په څه كي دي؟جواب:په د خل اوعدم د خل د لسان كي دي.

## ثم اعلم:عا مل لفظي بيا پردوه قسمه دي

ثم اعلم: عا مل لفظي بيا پردوه قسمه دي:١ـ قياسي.٢ـ سماعي.

د عامل قياسي تعريف:چي سماع يي د عربوځخه سوي وي اوقانون اوقاعده هم ولري بل پرقيا سيږي،

دعامل سماعي تعريف: چي سماع يي د عربوځخه راغلي وي ليكن بل نه پرقيا سيږي.

## د معمول او عمل تعريف

سوال:عامل خومعمول غواړي اوعمل كوي نود معمول اوعمل تعريف يي څنگه دي؟

جواب:د معمول تعريف:ما يتغيراخره برفع ،ونصب،وجر،وجزم،يعني چي اخريي متغيرسي،

دعمل تعريف:هوالاثرالحا صل بتا ثيرالعا مل.

## دعامل سماعي لفظي د اقساموبيان

سوال:عامل سما عي لفظي پرڅوقسمه دي؟

جواب:پردري قسمه دي:١ـ اسماء عامله.٢ـ افعال عامله.٣ـ حروف عامله.

اسماء عامله تعريف : هغه عوامل دى چي ذات يي اسماء وي.

اسماء عامله پر دولس قسمه دي:١ـ اسماء شرط.٢ـ اسماء افعال بمعنى فعل ماضي.

۳ـ اسماء افعال بمعنى امرحاضر.۴ـ اسماء افعال بمعنى فعل مضارع.۵ـ اسم فاعل.۶ـ اسم مفعول.۷ـ صفة مشبه.۸ـ اسم تفضيل.۹ـ اسم مصد ر.۱۰ـ اسم مضاف.۱۱ـ اسم تام.۱۲ـ اسماء كنا يات.

۱ـ **ضابطه**: وجه دحصر: دغه عامل به خالي نه وي يا به بالذات عامل وي او يا بالواسطه دوهم اسم دي،او كه بالذات وي بيا به خالي نه وي يا به قوي وي، او يا به ضعيف وي:اول فعل اودوهم حرف.

## اسم پر دري قسمه دي

تفصيل: اسم پر دري قسمه دي:۱ـ جامد دا هيڅ كله عمل نه كوي هميشه بى عمله وي .۲ـ مشتق.۳ـ مصدر. دغه دواړه عامله دي ليكن عمل د دوي بالذات نه دي بلكي د فعل څخه د مشابهت په وجه سره دي څكه مشتق د فعل سره په وزن او معنا دواړو كي مشابهت لري او مصدر يواځي په معنا كي مشابهت لري، نو مشتق ترمصدر قوي سو.

سوال: تا وويل چي جامد عمل نه كوي زه به يي درته وښيم لكه مضاف چي په خپل مضاف اليه كي عمل كوي؟

جواب: مضاف عامل نه دي بلكي د لته د مضاف او مضاف اليه ترمابين حرف جر مقدر دي هغه عمل كوي.

**افعال عامله تعريف**: هغه عوامل دي چي ذات يى افعال وي.

## افعال عامله شپږ داني دي

**افعال عامله** : شپږ داني دي:۱ـ فعل معلوم.۲ـ فعل مجهول.۳ـ افعال نا قصه.۴ـ افعال مقاربه.
۵ـ افعال مدح وذم.۶ـ فعال تعجب.

**حروف عامله تعريف**: هغه عوامل دي چي ذات يي حروف وي.

**بحث د معمولات**: اسماء ټول معمولات دي ما سوي د اسماء افعال.۲ـ فعل مضارع هم معمول په دي شرط چي مبني نه وي. او حرف غيري معموله دي.

۲ـ **ضابطه**:افعال ټول عامله دي او اسماء او حروف بعضي عامله او بعضي غير عامله .

## معمول پر دوه قسمه دي

۳ـ **ضابطه**: معمول پر دوه قسمه دي:۱ـ بالاصاله. ۲ـ بالتبعيه.

**تعريف معمول بالاصاله**: هغه معمول دي چي عامل بالذات پكښي اثر كړي وي، اوهغه په لاندي ډول دي:۱ـ الفاعل.۲ـ النائب فاعل.۳ـ فعل مضارع.۴ـ اسماء وخبردافعال نا قصه.۵ـ اسم وخبر دافعال المقاربه .۶ـ فاعل د افعال المدح والذ م .۷ـ فا عل د افعال التعجب ومفعولها.۸ ـ شرط اسماء الشرطيه وجزاء ها.۹ـ

فاعل داسماء افعال بمعنى فعل ماضي.۱۰ـ فاعل داسماء افعال بمعنى امر حاضر.۱۱ـ فا عل داسم فاعل ومفعول.۱۲ـ فاعل د اسم مفعول.۱۳ـ فاعل د صفة مشبه.۱۴ـ فاعل اسم تفضيل.۱۵ـ فا عل المصدر ومفعوله.

۱۶ـ المضاف اليه.۱۷ـ التميز الاسم تام.۱۸ـ تميز كم استفهاميه وكم خبريه .۱۹ـ وتميزكذا.۲۰ـ مجرور بالحرف. ۲۱ـ اسم د ان واخواتها وخبراها.۲۲ـ اسم وخبر د مالامشبهتان بليس.۲۳ـ اسم وخبر دلاي نفي جنس.۲۴ـ منصوب بحرف مضاف ومرفوع بحرف نداء( منادى مفرد معرفه).۲۵ـ مفعول مطلق.۲۶ـ مفعول معه.۲۷ـ مفعول فيه.۲۸ـ حال.۲۹ـ مستثنى،۳۰ـ مبتداء وخبر.

معمولات بالتبعيه: په لاندي ډول دی : ۱ـ صفت .۲ـ بدل.۳ـ تاكيد.۴ـ عطف بالحرف.۵ـ عطف بيان .

## ثم اعلم :عامل معنوي بيا پر دوه قسمه دي

ثم اعلم : عامل معنوي بيا پر دوه قسمه دي:۱ـ په مبتداء اوخبر كي .۲ـ په فعل مضارع په حالت د رفعي كي.

د مبتداء او خبر په عامل كي ا ختلا ف د مذهبين: د مبتداء اوخبر په عامل كي دوه مذهبه دي:

۱ـ جارالله الزمخشري.په د واړو كي معنوي دي چي هغه خالي والي دي دعامل لفظي څخه.

۲ـ كوفين چي مبتداء په خبر كي عامل ده اوخبر په مبتداء كي.

د فعل مضارع په عامل كي اختلا ف دي: په دي كي د ري مذهبه دي: ۱ـ كوفين: په حالت د رفعي كي معنوي دي.۲ـ بصرين: وقوعه موقع الاسم.۳ـ امام كسائي وائي عامل د مضارع لفظي دي چي حروف اتين دي دا مذهب غيري مختا ردي.

باب اول د رحروف عامله ودرو دوو فصل ست.

فصل: اول د رحروف عامله د راسم:

## حروف عامله پر دوه قسمه دي

سوال:حروف عامله پرڅوقسمه دي؟

جواب:پردوه قسمه دي :۱ـ چي پراسم دا خليږي .۲ـ چي پرفعل دا خليږي .

سوال:حروف عامله چي پر ا سم باندي دا خليږي پرڅوقسمه دي؟جواب:پرپنځه قسمه دي.

سوال:دغه پنځه قسمه حروف عامله چي پراسم باندي دا خليږي پرڅوقسمه دي ؟

جواب:پردوه قسمه دي: ۱ـ چي پرمفرد دا خليږي .۲ـ چي پرجمله دا خليږي.

سوال:هغه حروف عا مله چي پراسم مفرد دا خليږي پرڅوقسمه دي؟

جواب: پر دوه قسمه دي: ۱- جاره چي حروف جاره دي .۲- ناصبه چي حروف نداء دي.

سوال: هغه حروف عامله چي پردوواسمو يعني پرجمله باندي دا خليږي څو داني دي؟

جواب: د ري داني :۱- حروف مشبه بالفعل.۲- ما ولا المشبهتين بليس. ۳- لا لنفي الجنس.

قوله: قسم اول حروف جر وآن هفتده است.

## د حروف جاره بيان

ضابطه: د لته د پنځو شيانوپيژند ل ضروري دي: ۱- ذات د دي حروف.۲- نوم د دي حروف او وجه د نامه.۳- عمل .۴- عد د او شمير.۵- مد خول د دوي.

سوال: حروف جاره په اعتبارد ذات سره پرڅوقسمه دي؟

جواب:پردري قسمه دي :۱- حروف فقط چي۹داني.۲- كله حروف اوكله اسماء چي۵ داني.
۳- كله حروف اوكله افعال چي۳داني دي.

تفصيل: اول قسم چي نه -۹- دا ني دي : ۱- من.۲- الی. ۳- حتی.۴- في.۵- باء.۶لام.
۷- رُبَّ.۸- واوقسم.۹- تاء د قسم.

دوهم قسم چي پنځه داني دي :۱- عن.۲- علی. ۳- كاف.۴- منذ.۵- مذ.

د ريم قسم: چي د ري داني دي:۱- خلا.۲- حاشا.۳- عدا.

سوال: د دي حروف نومان څه دي، او وجهه د نا مه يي څه ده؟

جواب:نومان د دي حروف د ري دي:۱- حروف جاره.۲- حروف معاني.۳- حروف اضافه
جاره ، ځكه ورته وايي چي خپل مد خول ته جر وركوي نوتسميه د مؤثر ده په اسم د اثر .
جارمصد ردي معنی يي كشول نودي هم خپل مد خول ته فعل يا شبه فعل راكشوي.

د فعل مثال:مررت بزيدٍ. د شبه فعل مثال: اَنَا مَارٌّ بزيدٍ.

جرتعريف: الجر حركة او حرف تد ل علی كون الاسم مضافًا اليه.

حروف معاني: ځكه ورته وايي چي دوي مختلف معناګاني لري.

حروف اضافه: ځكه ورته وايی چي دوي د خپل ماقبل نسبت وما بعد ته كوي.

د ريم:عمل د دوي جر دي

سوال: جر پرڅو قسمه دي؟جواب:پر دري قسمه دي:۱جرلفظي.۲- تقديري.۳- جرمحلي.

جرلفظي بيا پر دوه قسمه دي: ١ـ بالحركت.٢ـ بالحرف.
جرلفظي بالحركت مثال: مررت بزيدٍ.
جر لفظي بالحرف مثال: مررت بالمسلمين، مررت باخيک.
جرتقد يري مثال: مررت بموسى .
جرمحلي مثال: به بها بهما بهم الخ.
**څلرم:** عد د اوشمير د دوي اوه لس ـ ١٧ـ دي عند الجمهور،
او اتلس ـ ١٨ـ دي: عند ابن حا جب په ز ياد ت د واو د ربَّ.
**پنځم:** مد خول د دوي اسم دي

## اسم بيا پر د ري قسمه دي:

١ـ **ضابطه:** اسم بيا پر د ري قسمه دي:١ـ اسم حقيقي.٢ـ اسم حكمي.٣ـ اسم تا ويلي.

٢ـ **ضابطه:**اسم حقيقي لس ـ ١٠ـ داني دي:١ـ اسم جامد.٢ـ اسم مصد ر. ٣ـ اسم فاعل.۴ـ اسم مفعول . ۵ـ صفت مشبه. ۶ـ اسم تفضيل. ٧ـ اسم آله. ٨ـ اسم ظرف.٩ـ اسم مبالغه.١٠ـ اسم منسوب.

٣ـ **ضابطه:** اسم حكمي د يته وايي چي پرفعل باندي د حروف مصد ريه څخه يودا خل وي او دغه جملي ته اسمی حكمي وايي، حروف مصد ريه دغه لاندي دي:١ـ ما.٢ـ إن. ٣ـ أن.۴ـ كي. ۵ـ لو.۶ـ همزه تسويه.

۴ـ **ضابطه:** اسم تاويلي هغه فعل او حرف ته وايي چي مراد دهغه څخه لفظ وي او معنى نه وي په هغه كي بتاويل هذا للفظ او بتاويل هذا التركيب، تاويل كيدي سي
مثال:ضرب فعل.من حرف. زيدٌ قائم جمله.په اول مثال كي فعل مبتداء واقع ده .
او په دوهم مثال كی حرف. او په د ريم كي جمله مبتداء واقع ده او مبتداء خوهميشه اسم وي.

## د جارمجرود متعلق مبحث

١ـ **ضابطه:** هرجارومجرورته ظرف وائي اوظرف متعلق غواړي او متعلق د دوي به مخكي ذ كروي لفظا او يا تقد يراً.

٢ـ **ضابطه:**په متعلق د ظرف كي چي تقد يرًا ذ كروي مذ هبين دي:١ـ بصرين .٢ـ كوفين. د بصرين پرمذ هب با ندي فعل مقد ر وي، اود كوفين پرمذ هب با ندی اسم مقد روي.

**سوال:** د د واړو ډلو د پاره د ليل څه دي چي يو اسم او بل فعل ورسره مقد ر وي؟

**جواب:** د بصرين د پاره د ليل دادي چي هرمتعلَق عا مل وي په خپل متعلِق كي اواصل په عمل كي فعل دي نوځكه فعل مقد روو،

اوكوفين وايي چي هرمتعلَق سره د خپل متعلِق خبروي اواصل په خبركي افراد دي نوځكه اسم مقد روو.

**سوال:** د د وی ترمابين اتفاقي ما ده سته چي يومذهب والا دهغه بل مذهب تابعداری كړي وي اوكنه؟

جواب:هوسته دوه ځا يه:۱ـ بصرين د كوفين سرموافق دي چي ظرف مستقرپه اعتبارد متعلق د معرفي د پاره صفت واقع سي نوپه اتفا ق متعلق اسم رابا سي .

۲ـ كوفين د بصرين سره موافق دي په هغه ځايي كي چي ظرف مستقرپه اعتبارد متعلق صله واقع سي نوپه اتفا ق فعل راباسي.

سوال: وجه د دواړو د پاره څه د ه چي يو د بل تابع سوي دي؟

جواب:په اول ځا يي كي ځكه بصرين د كوفين تابع سوي دي كه متعلق فعل راوبا سي نود هغه

څخه جمله جو ړيږي اوجمله صفت د معرفي نه وا قع كيږي، اوپه دوهم ځاي كي ځكه كوفين د بصرين تابع سوي دي كه متعلق اسم راوبا سي نومفرد به سي اومفرد صله نه واقع كيږي.

سوال: كم مذهب صحيح د ي؟جواب:دواړه ليكن د بصرين له اصح دي اودكوفين له بيا صحيح دي.

سوال: متعلَق كه اسم وي اوكه فعل عا مه به وي اوكه خا صه؟

جواب:عامه به وي چي هغه څلوردي:۱ـ كون .۲ـ ثبوت.۳ـ وجود.۴- حصول.

ليكن كه قرينه د فعل، يا اسم خا ص موجود وه نوبيا به خا ص وي .

## د ظرف لغو او مستقربيان

سوال: جارمجرورته په اصطلا ح كي د نحويينوظرف وايي نوظرف پرڅوقسمه دي؟

جواب: پردوه:۱- ظرف لغو .۲- ظرف مستقر.

سوال: وجه د حصريي په دغه دووكي څه ده ؟ جواب:دغه متعلق به خالي نه وي يابه په متن كي مذ كور وي اويا به نه وي، اول ته لغو او دوهم ته مستقر وايي.

سوال:وجه د نا مه يه څه ده ؟

جواب:ځكه اول ته لغو وايي چي لغومعنى بيكاروالي نودي هم بيكاره دي چي نه مسند اليه دي اونه مسند

اودوهم ته ځكه مستقروايي چي معنى قراريي نيولاي نو دهم د متعلق محذوفه پرځاي قرارنيولي دي.

۱ـ ضابطه: ظرف لكه څنګه چي فعل تام پوري تعلق نيسي همدا سي په فعل قاصر اوفعل مدح اوذ م پوري تعلق نيسي.

۲ـ ضابطه: بعض حروف جاره دي چي متعلق نه غواړي هغه حروف زائده دي: رُبَّ. لولا . لعل . لات. حا شا، خلا . عدا . دي.

۳- ضابطه: كه چيري متعلق د ظرف د افعال عامه څخه وو نو په څلور ځايو كي د فعل حذ ف كول لا زم دي:۱- چي خبرد مبتداء واقع سي لكه زيدٌ في الدار اي ثبت يا ثابتٌ.۲- چي صله د موصول واقع سي لكه اَلَّذي في الدار قائمٌ اي ثبت ياثابت.۳- چي صفت د موصوف واقع سي.۴- چي د ذوالحال د پاره حال واقع سي.

## مذ او منذ پر دوه قسمه دي

۴- ضابطه: مذ او منذ پر دوه قسمه دي:۱- اسمي.۲- حرفي.

فرق په مابين د منذ ، مذ اسمي او حرفي كي هم لفظي سته او هم معنوي:

لفظي فرق: دادي چي مد خول د اسمي به مرفوع وي او د حرفي له به مجرور وي.

معنوي فرق: كه حرفي وي نو هغه دوه استعماله لري په اعتبار د مد خول :۱- چي مد خول ماضي وي. ۲- چي حال حاضروي.

په اول كي په معنا د من ابتدا ئيه سره دي لكه:" ما رئيته مذ يوم الجمعة" اومنذ يوم الجمعة" اي ابتداء عد مي رؤيتي اياه كان من يوم الجمعة.

اوپه دوهم ځاي: كي په معنى د في سره دي لكه:" مارئيته مذ يومنا" اي في يومنا .

اواسمي هم دوه استعمال لري:۱- چي پر معرفه دا خل سي.۲- پر نكره.

كه مد خول معرفه وي نو په معنا د اول مد تي سره راځي لكه:" مارئيته مذ يوم الجمعة" اي اول مدة زمان عد م رؤيتي.

او كي مد خول نكره وو بيا په معنا د جميع مد تي سره دي لكه ما رئيته مذ يومان اي جمع اجزاء مدة زمان عد م رؤيته.

## حاشا، خلا، عدا، دوي پردوه قسمه دي

۵- ضابطه: حاشا، خلا، عدا، دوي پردوه قسمه دي:۱- حرفي.۲- فعلي .

فرق يي دادي: كي مد خول منصوب وو نو دوى فعلي دي او دا جمله حال واقع كيږي د ماقبل د پاره لكه جاء ني القوم حا شا زيدًا.

او كي مد خول مجرور وو نو بيا دوي حرفي دي بيا د لته دوي د استثناء د پاره راځي .

## في پر د ري قمسه ده

۶- ضابطه: في پر د ري قمسه ده: ۱- اسمي.۲- فعلي.۳- حرفي.

اسمي: دا يو اسم دي د اسماء سته مكبره څخه نوبيا قاعده دا ده چي دي معرب وي په اعراب بالحرف سره مرفوع به وي په حالت د رفعي كي بالواو، او منصوب به وي په حالت د نصب كي په الف سره او مجرور به وي په حالت جري كي په ياء سره.

فعلي: دا صيغه د وا حده مؤنثه امرحاضر معلوم د في يفي لكه فى يقى سره راځي.

حرفي: هغه ده چي پر اسم باندي دا خليږي جر وركوي او دغه په لس -۱۰- معناګانو سره راځي .

## عن پرد ري قسمه دي

۷- ضابطه: عن پرد ري قسمه دي: ۱- اسمي .۲- فعلي.۳- حرفي.

عن اسمي: په معنى د جانب سره راځي، او علا مه يي دا ده چي پرده باندي به بل حرف دا خل سوي وي. لکه دا قول د شاعر لقد اراني للرماح د رية من عن يميني.

عن فعلي: را ځي په تشد يد د نون سره په معنى د ظهور سره وي.

عن حرفي: دا د تميميانو په نيز پردوه قسمه دي: ١ـ عن حرفي مصد ريه لکه اعجنبي عن تفعلٍ د لته دا عن په معنى د ان مصدريه سره دي.٢ـ عن حرفي جاره د ا بيا نه ـ٩ـ قسمه معانوي سره راځي.

## على پر دري قسمه دي

٨ـ ضابطه: على پر دري قسمه دي:١ـ اسمي.٢ـ فعلي.٣ـ حرفي.

على اسمي: دا هغه دي چي بل حرف باندي دا خل سوي وي لکه زيدٌ سقط من على الجدا ر.

على فعلي: دا ما خوذ د علا يعلُوْ.

على حرفي: دا جاره دي او د ا بيا پر څوارلس ـ١۴ـ معانوي سره راځي.

## من پردري قسمه دي

٩ـ ضابطه: من پردري قسمه دي: ١ـ اسمي.٢ـ من فعلي. ٣ـ من حرفي.

من اسمي: د يته وايي چي دا من علم وي دهغه من د پاره چي په تراکيبوکي استعماليږي لکه من حرف جر.

من فعلي: داهغه من دي چي صيغه د امر حاضرمعلو م ده لکه مان يمين مينا من .

من حرفي: دا هغه من دي چي پر اسم باندى دا خليږي او اسم لره جر ورکوي او دغه من پر ١٩ معناګانو باندي راځي.

١٠ـ ضابطه: رُبَّ دانشاء تقليل د پاره حقيقة راځي او د انشاء تکثر د پاره مجازاً راځي.

١١ـ ضابطه: د ا ربَّ صدا رت د کلا م غواړي په شان د کم .

١٢ـ ضابطه: مد خول د ربَّ به نکير ه مو صو فه وي.

١٣ـ ضابطه: جواب به فعل ماضي وي لکه ربَّ رجلٌ کريمٌ لقيته .

١۴ـ ضابطه: تر من عن باء وروسته کله کله ما زائده راځي ليکن د ا ما نع دهغوي دعمل څخه نه ګرځي لکه : مما خطيئتهم اغرقوا . وعما قليل. وفبما رحمة من الله .

١۵ـ ضابطه: تر کا ف وروسته هم ما زائده راځي خوهغه کله کافه او کله غيرکافه وي لکه : ربما ضربة بسيف ثقيل. کما الناس مجروم عليه وجارم.

او کا فه چي پر جمله باندي دا خل سوي وي لکه : ربما يود الذين کفر ولوکان مسلمين.

١۶ـ ضبباطه: تر "واو" وروسته ډ ير اوتر فا اوبل وروسته قليل کله کله رب مقد روي لکه:"وليل کموج البحر ارخى سدوله".

## حروف جاره پر دوه قسمه دي

١٧ـ ضبباطه: حروف جاره پر دوه قسمه دي:١ـ چي اسم ظاهر او ضمير دواړو ته جر ورکوي لکه: الى ـ في ـ على ـ من ـ لام..

۲ـ چي یواځي اسم ظاهرته جرورکوي لکه:حتي ـ کاف ـ واو القسم ـ ربـ مذ منذ.

قوله: دوم حروف مشبه بالفعل.

هرکله چي مصنف فارغ سو د بیا ن څخه د حروف جاره نو یي شروع وکړه په بیا ن د دوهمي نوعي چي حروف مشبه بالفعل دي.

وجه د تسمي:

سوال: دي حروفو ته ولي مشبه بالفعل وایي؟

جواب: دي حروف ته ځکه مشبه بالفعل وایي چي دوي د فعل سره مشابه دي :۱ـ لفظا.۲ـ معنا. ۳ـ عملاً.۴ـ اقساماً.

لفظي مشابت په ډيرو شیانو کي دي: ۱ـ وزن اِنَّ پر وزن د فَرَّ ، لیت پر وزن د لیس، کَأَنَّ كأنْنَ پر وزن ضربن، لکنَّ لکنْنَ، پر وزن ضاربن،
لعل په دي کي ډيرلغات دي لعن پر وزن د ضربن.

۲ـ فعل پوري کاف د خطاب پیوسته کیږي هم دا رنګه په دوي پوري پیوسته کیږي.

۳ـ فعل پوري نون وقایه پیوسته کیږي نو په دوي پوري هم لکه انني انا الله .

هرچي مشابهت معنوي: دي ځکه دا حروف د فعل معنی ورکوي لکه اِنَّ اَنَّ په معنی د حققت كأن په معنی د شبهت لیت په معنی د تمنیت لعل په معنی د ترجیت لکن په معنی د استدرکتُ.

هرچي مشابهت عملی: دي هغه د ا چي دا حروف اسم لره نصب ورکوي او خبر لره رفع ورکوي لکه اِنَّ الله غَفُوْرٌ رَّحیم.

هرچي اقساما: دي هغه دا چي دوي مشابه دي د فعل سره په ثلا ثیت او رباعیت او خماسیة کي .

۱ـ ضابطه: د ا حروف پر مبتداء او خبر باندي دا خلیږي.

۲ـ ضابطه: د دوي عمل مشروط دي په شرطین سره :۱ـ رعایت الترتیب بین الاسم والخبر. ۲ـ عد م وجود ماء الکافه بعدها.

۳ـ ضابطه: خبر د اِنَّ پر اسم د ان په اعتبار د تقد یم سره پر دري قسمه دي:۱ـ واجب .۲ـ جائز. ۳ـ ممتنع التقد یم .

۴ـ ضابطه: د ري ځاي تقد یم د خبر د اِنَّ پر اسم د ان واجب دي:

۱ـ چي اسم د اِنَّ نکره وي لکه اِنَّ مع العسر یسرًا.۲ـ که چیري معرفه متلبس باللا م تاکید لکه: قوله تعالی واِنَّ من شیعته لابراهیمُ.۳ـ چي معرفه متلبس په ضمیر سره وي چي هغه راجع وجز د خبرته وي لکه: اِنَّ فی الدار صا حبها.

۵ـ ضابطه: تقد یم د خبر د اِنَّ پر اسم د ان یوځایي جائز دي چي معرفه وي او متلبس په لام د تاکید سره نه وي او هم دغه رکم متلبس په ضمیر سره نه وي نو د لته بیا تقد یم د خبر د ان پراسم ان جائز دي، لکه اِنَّ الینا ایابهم ، وان علینا حسابهم.

۶ـ ضابطه: د دغه مخکي مذ کرو ځایوڅخه ماسوی نور ځایونه تقد یم ممتنع دي.

## اِنَّ په اعتبار د حرکت د همزي پر دري قسمه دي:

۷ـ ضابطه: اِنَّ په اعتبار د حرکت د همزي پر دري قسمه دي:۱: مکسور الهمزه وجوبا چي مقام د جملي وي.
۲ـ مفتوحه الهمزه وجوابا چي مقام د مفرد وي.۳ـ جوازد وجهين چي دا مقام محتمل د احتمالين وي.
۸ـ ضابطه: لس ـ ۱۰ـ ځايونه:۱ـ ابتداء د کلا م کي يعني ديو عامل معمول به نه وي. حقيقتاً په ابتداء کي لکه: اِنَّ الله غفُوْر رَحِيم.
حکما لکه: کلا اِنَّ الانسان لَيَطْغٰى تر کلا زجريه وروسته راغلي دي.
۲ـ بعد القول لکه قَالَ اِنِّي عَبْدُالله .. ۳ـ په جواب د قسم کي لکه وَالله اِنَّک لَصَادِ قٌ.
۴ـ په ابتداء کي د صلة الموصول لکه: جَاءَ الَّذِي اِنَّه مُجْتَهِدٌ. ۵ـ اذا وقعت مع ما بعد ها حالاً لکه:قصد ته واَنَّي واثقٌ بِه. ۶ـ اذا وقعت بعد حيث او اذا لکه: اجلس حيث ان خليلاً جالس.
۷ـ اذا وقعت بعد عامل علق بالام لکه :علمت ان خليلا لمحسن. ۸ـ اذا وقعت خبراً عن اسم ذات اوصفة له لکه: سليم انه کريم جاء خليل انه فاضل.
۹ـ اذا و قعت صدر جملة استنافيه لکه :يَزْعَمُوْن اِنِّ مُتَکَاسِل.
۱۰ـ بعد حتي ابتدا ئيه لکه: مرض سليم حتى انه لايرجونه.
۱۱ـ ترنهي وروسته لکه: ولاتسرفوا ان الله لايحب المسرفين.
۹ـ ضابطه: د اَنَّ مفتوحه نه ـ۹ـ مقامونه دي:۱ـ اذا وقعت موضوع الفاعل لکه: اَعْجَبَنِي انک قائم.
۲ـ يا نا ئب د فاعل لکه: سُمِع اَنَّ العدو قاد م.۳ـ يا په موضوع د مبتداء لکه: مِنْ أيَاتِه اَنَّک تري الْاَرْضَ خَاشِعَة.
۴ـ په موضوع الخبر د اسم څخه معنا لکه: اِعْتِقَادِي اَنَّک فاضل الحق .
۵ـ په موضوع المضاف اليه لکه: اَحِبُّک مع اَنَّک ظالم.
۶ـ په موضوع د مجرور کي په حرف سره لکه: سررت من اَنَّک مجتهد.
۷ـ په موضوع المفعول به لکه: عرفت اَنَّک قائم.
۸ـ يا معطوف على احد المذکور وي.۹ـ يا بد ل من احد المذ کور وي.
۱۰ـ ضابطه: جواز الوجهين دا شپږمحلونه دي: ۱ـ بعد اذا مفاجة لکه: خرجت فاذا اَنَّ اَسَدًا واقِفٌ.
۲ـ بعد فاء جزائيه لکه: اِن تجتهد فانک تنجح.۳ـ د تعليل په مقام کي لکه: اطلب العلم انه جميل الفلاح.
۴ـ بعد فعل القسم بغير دلام څخه لکه: اقسم ان الدار ملک سليم.
۵ـ بعد لام جزم لکه: لاجرم ان الله يعلم.۶ـ بعد خير القول لکه: اني احمدٌ .
۱۰ـ ضابطه: په کأَنَّ کي اختلا ف دي چي بسيط دي، او که مرکب صحيح دادي چي دي مرکب دي د تشبيه د پاره راځي ليکن کله د تعجب د پاره راځي لکه: « وَيْکَأَ نَّه لايفلحُ الکا فرون»
۱۱ـ ضابطه: په لکن کي اختلاف دي چي مرکب دي او که بسيط صحيح د ادي چي بسيط دي.

## د اِنَّ واَنَّ کاَ نَّ لکَنَّ عملي حيثيت په حالت د تخفيف کي

۱۲ـ ضابطه: د اِنَّ واَنَّ کاَ نَّ لکَنَّ عملي حيثيت په حالت د تخفيف کي:۱ـ اِنْ مخفف من المثقل چي پر فعل دا خل سي بالاتفاق عمل نه کوي لکه : دا قول دا الله تعالى « واِنْ کُنْتَ من قبله لمن الغٰفلين .

واِنْ نَظُنک لمن الکا ذ بين»

او که چيرى پر اسم باندي دا خل سي نوبيا اکثر مهمل يعني عمل نه کوي لکه دا قو ل دالله تعالی « واِنْ کُل لَّما جميع لد ينا محضرون» ليکن قليلاً عمل کوي لکه: ان زيداً منطلقٌ. دا قول دالله تعالی« واِنْ کل لما ليوفينهم ربک اعمالهم» په يوقرئت کي په تخفيف سره راغلي دي .

۲۔ ان مخفف من المثقل په نيز د کوفين او سيبويه مهمل دي مطلقا عمل نه کوی نه په ظاهرکي اونه په ضمير کي او دي دي حرف مصد ريه دي د نور حروف مصد ريه په رکم.

او د جمهور په نيز دي عمل کوي د د پاره اسم ضمير شان مستتر وي يعني "ه ضمير لکه : دا قول « علم ان سيوکن منکم» اي انه.

۳۔ لکن که چيري مخفف سي نوبيا بالاتفاق عمل نه کوي الاعند يونس واخفش بيا دي کله عاطفه وي که چيري معطوف مفرد وي لکه: ماجاء القوم لکن سعيدٌ.

اوکه چيري د واو سره راغلي وي بيا دي حرف د ابتداء دي داعراض د پاره لکه: ماکان محمد ابا احد من رجالکم ولکن رسول الله وخاتم النبين» او د دي څخه علا وه هم راځي لکه :جاء خالد لکن سعيد مسافرٌ.

۴۔ کأن مخفف په نيز د کوفين مهمل دي عمل نه کوي او په نيز د جمهور بيا دي عمل کوي کله په اسم ظاهرکي لکه : کان زيداً اسداً. اوکله په ضمير مستترکي کان علي خلقه المِسْکُ اي کأنّه.

قوله :سو م ما لا مشبهتان بليس:

د ريم قسم د حروف عامله څخه ما ولا دي چي مشابه د ي د ليس سره .

سوال: دي حروف ته ولي مشبه بليس وايي .؟ **جواب**: ځکه دوي مشابه د ي د ليس سره په عمل اود خول کي دوي عمل د نفي کوي لکه ليس او پر مبداء او خبر باند ي داخليږي لکه ليس.

اختلا ف د مذهبين په دي کي دوه مذهبه دي:۱۔ مذهب د بنوتميم .۲۔ اهل حجاز.

**تفصيل**:بنو تميم وايی چي دا حروف غير عامله دي.

او اهل حجاز وايي چي دوي عامله دي اسم مرفوع او خبرمنصوب غواړي.

۱۔ **ضابطه**: عمل د ما عند الحجازين مشروط دي په شروط اربعه وو سره :۱۔تر ده وروروسته به اِنَّ زائده نه وي راغلي.

۲۔ سره د بقاء د معنا د نفي به وي.۳۔ سره د بقاء د ترتيب به وي .

۴۔ تقد يم د معمول د خبر به نه وي راغلي پر اسم باندي.

۲۔ **ضابطه**: عمل دلامشروط دي عند الحجازين په شروط اربعه وو سره : ۱۔ اسم او خبر به دواړه نکره وي. او باقي د ري شرطونه د ما د اخري شرطو په رکم دي.

۳۔ **ضابطه**: تقد يم د خبرد ما ولا په هغه وخت کي پر اسم باندي جائزدي چي ظرف وي .

## اقسام د کلمي دما

ما پر دوه قسمه د ي:۱۔ اسمي .۲۔ حرفي.

اسمی پرپنځه قسمه دي: ۱۔ ماموصوفه. ۲۔ ما موصوله. ۳۔ ما تامه. ۴۔ ما شرطيه. ۵۔ ما استفهاميه.

حرفی:۔ ما نا فيه.۲۔ ما مشابه بليس.۳۔ ما مصدريه.۴۔ ما زائه .۵۔ ما کا فه.

**تفصيل**:۱۔ موصوفه: دا به په معنی د شي يا الشي سره وي او شي موصوف او ما بعد به ورته

صفت وي، لکه ظَهَرَ الْفَسادُ فَي البَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِي النَّاسِ، اي بشيئٍ كسبتْ ايدي الناس.
۲ـ موصوله دا به په معنی دالذي او التي سره وي: لکه مَا عِنْدَ كُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَاللہ بَا قٍ.اي الذي عند
۳ـ تامه. د يته وايي چي اتمام د دي په ما بعد سره کيږي ليکن دوصف په شان محتاج نه وي لکه:فَنَعِمَّاهِيَ.
۴ـ ما شرطيه: د دي علا مه داده چي د دي وروسته به دوي جملي راغلي اوله به شرط وي او دوهمه به جزاء وي لکه مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ او نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا .
۵ـ ما استفهاميه:لکه مَا تِلْکَ بِيَمِيْنِکَ يَا مُوْسٰی.
حرفی:۱ـ ما نا فيه: لکه مَا اَنْتُمْ اِلاَّبَشَرٌ مَّثْلُنَا.
۲ـ ما مشابه ليس: لکه مَا هَذا بشراً.
۳ـ ما مصدريه: لکه وَضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ.
۴ـ ما زائه: لکه فَبِمَا رَحْمَةٍ من الله .
.۵ـ ما کا فه: لکه انما الهکم اله واحد.

## اقسام د کلمي لا

اقسام د کلمي دلا شپږ دي:۱ـ لا مشابه بليس: علا مه د دي دا ده چي اسم او خبرغواړي او د واړه به نکره وي لکه: لارَجُلَ قائمٌ.
۲ـ لا لنفي الجنس: د دي علامه داده چي اسم د ده به نکره مفرد مبني برفتحه وي لکه لا رجل في الدار.
۳ـ لا زائده :اوله علا مه يي داده چي مخکي تر قسم راځي: لکه:لا اقسم بهذا البلد.
دوهم علا مه : وروسته تر اَنْ مصد ريه لکه: ما منعک اَنْ تسجدَ.
۴ـ نا فيه: دا پر فعل مضارع باندي دا خليږي اوپه لفظ کي عمل نه کوي لا يضربُ.
۵ـ نا هيه: د ا پر فعل مضارع باندي د ا خليږي او عمل د جزم کوي لکه: لايضربْ.
۶ـ عاطفه: لکه اضرب زيدًا لاعمرًا.
**۴ـ ضباطه:** د حروف مشبه بليس دوه غيرمشهوردي لکه:۱ـ لات مثال لکه : ولات حين مناصٍ.
۲ـ واِنْ مثال لکه :اِنِ الذ ين تدعون من دون الله عبا دکم امثالکم» په يوقرائت کي انْ راغلي دي.
**۵ـ ضابطه:** داِنْ د عمل د پاره دوه شرطونه دي:۱ـ نفي به يي په الاسره نه وي ماتي سوي بلکي باقي به وي.
دلات دعمل شرطونه:۱ـ دلات اسم وخبر د اسماء زمان څخه به وي لکه: الحين ،الساعة، الْاَوان.
۲ـ د دي اسم او خبر به يو محذوف وي لکه: ولات حين مناصٍ. اي ليس الحين حين فرارٍ.
قوله:چهارم لائ نفي جنس الخ:
څلرم نوع د حروف عامله څخه لام د نفي جنس د پاره دی.
اسم د دي لام د منصوبا ت څخه دي اوخبره يي د مرفوعات څخه دي يعني نوم يی لام نفي جنس دي ځکه دا کله راځي د پاره د نفي د جنس او کله راځي د پاره د نفي د صفت د اول مثال لکه: "لارجلَ فی الدار. او د دوهم مثال لکه :لا رجلَ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ.
او مد خول د دي به جمله اسميه وي اسم منصوب او خبرمرفوع.

۱ـ **ضابطه**: د دي دعمل د پاره شپږ شرطونه دي:۱ـ نا فيه به وي نه زائده .۲ـ د نفي د جنس د پاره به وي نه د مفرد دپاره .۳ـ په نفي د جنس کي به نص وي نه ظاهر.۴ـ حرف جر به نه وي باندي داخل لکه: جئت بلا زاد.۵ـ د اسم سره به متصل وي.۶ـ اسم او خبر دواړه به نکره وي.

۲ـ ضابطه: تر"لا" وروسته چي کم اسم دي دهغه د پاره پنځه صورتونه دي:

۱ـ مضاف به وي .۲ـ شبه مضاف.

حکم دواړه به منصوب وي لکه: غلا مَ رجلٍ ظريفٌ في الدار، لاطالعً جبلا ظاهرٌ.

۳ـ نکره مفرد غير مکرر به وي

حکم: مبني بر فتحه به وي لکه: لارجلَ في الدار.

۴ـ مفرد معرفه.۵ـ نکره مفصوله به وي،

حکم: يی دادي تکرار به وي اورفع به وي لکه: لازيدٌ في الدار ولا عمرٌ لا فيها رجلٌ ولاِامرئةٌ.

۳ـ **ضابطه**: که نکره مکرر سي سره دلام او سره د فاصله

حکم: پدي کي پنځه صورتونه جائز دي :۱ـ دواړه نکره به مبني بر فتحه وي لکه: لاحولَ ولاقوةَ الا با الله.

۲ـ صورة د واړه به مرفوع منون وي مثال لکه: لاحولٌ ولاقوةٌ الا با الله، لا به ملغی عن العمل وي.

۳ـ صورة اول نکره مبني بر فتحه وي او دوهم به مرفوع وي لکه: لاحولَ ولاقوةُ الا با الله.

۴ـ صورة اول نکره به مبني بر فتحه وي او دوهم منصوب وي لکه: لاحولَ ولاقوةً الا با الله.

۵ـ صو رة اول مرفوع وي او دوهم به مبني بر فتحه وي لکه:لاحولُ ولاقوةَ الابا الله،
لا به ملغی عن العمل وي او يا به مشابه د ليس سره سي.

۴ـ **ضابطه**: اسم به مقد م وي او خبر به مؤخر وي که چيري خبر مقدم سي نو بيا لاعمل نه کوي..

۵ـ **ضابطه**: دلا د نفي د جنس او دلا مشابه بليس په مابين کي فرق هم لفظي سته او هم معنوي :

۱ـ **لفظي**: دادي چي لا مشابه بليس اول اسم ته رفع ورکوي او دوهم ته نصب ورکوي اولا نفي جنس دوهم اسم ته چي خبر دي رفع ورکوي او اول اسم يي په مختلفو طريقو سره راځي.

**معنوي فرق**: دلا مشابه بليس په معنی کي دوه احتمال دي:۱ـ نفي د جنس.۲ـ نفي د فرد. اولا د نفي د جنس صرف يو احتمال وي چي هغه نفي د جنس دي نه د فرد لکه: لارجلَ في الدارِ.

پنجم: حروف نداء وآن پنج است:

نداء: په لغت کي اواز کول ته وايي، او په اصطلاح کي هغه جمله ده چي په اوله کي حرف نداء راغلي وي لکه: يا الله .

**نوټ**: د لته د پنځو شيانو پيژند ل ضروري دي: ۱ـ نداء.۲ـمنادِی يعني اوازکونکي .۳ـ منادٰي هغه ذات مقصود بالاستقبال ته وايي.۴ـ حروف د نداء پنځه دي: يا، ايا،هيا، اي ،همزه مفتوحه.

۵ـ جواب د منادی: هغه مقصود د منادي اومتکلم د ذ کرځخه د منادي دي لکه: ارحمني اويا اغفرلي.
حروف نداء ياعامه ده .همزه د قريب اوهيا وايا د بعيد اوای د متوسط د پاره راځي.

۱ـ **ضابطه**: منادی به جمله انشائيه وي، اومقصود بالنداء (جواب نداء) ضروري نه ده چي جمله انشائيه دي وي کله به خبريه وي او کله به انشائيه ..

د منادي د مد خول مختلف صورتونه: ۱ـ كله يي مد خول مفرد معرفه وي مبني على ما يرفع به لكه: يا زيدُ يا زيدان يا مسلمون.
معرفه عامه ده كه قبل نداء وي او كه بعده د نداء وي.
۲ـ منادى مفرد نكره معينه مقصوده وي كله چي عا م سړي وواييي يا رجلُ د ا به هم مرفوع على ما يرفع به وي لكه: يا رجلُ يا رجلا ن .
سوال: ولي به مبني على ما يرفعوبه به وي؟ جواب: دا ځكه د كاف اسمي خطابي ( يعني هغه كاف چي د ده پر ځاي اسم واقع كيدي سي) پر ځاي واقع سوي ده" او كاف اسمي خطابي بيا د كاف حرفى خطابي ( يعني هغه كاف چي د ده پر ځاي د اسم واقع كيدل صحيح نه وي) سره مشابهت لري هم لفظاً او هم معناً نو هغه مبني دي نود دي پر ځاي چي كم شي واقع وي هغه به هم مبني وي.
۳ـ مضاف .۴ـ شبه مضاف .لكه : يا عبدُ الله يا طا لعُ جبلاً.
۵ـ كله نكره مفرد غيره معين منصوب به وي لكه: ړوند سړي وواييي يا رجلا خذ بيدي.
سوال: ولي به معرب اومنصوب وي؟ جواب:ځكه اضافه د معظم خواص څخه د اسم معرب دي او په حقيقت كي مفعول به وي.
۲ـ ضابطه: نكره پر دوه قسمه دي: ۱ـ د حرف نداء ترد خول مخكي نكره وي او وروسته بيا معرفه سي لكه: يوعام سړي چي وواييي يا رجلُ.۲ـ قبل د خول حرف نداء نكره وي او وروسته ترد خول هم نكره وي لكه: اعمي سړي چي وواييي چي يا رجلُ ځكه دي خو هسي يو رجل غير متعين ته نداء كوي.
۶ـ مفرد معرفه مستغاثه بالام به مجرور وي لكه: يا لزيدٍ.
۷ـ مستغاث بالف لكه: يا زيداه مفتوحه وي.
۸ـ منداى مستغاثه كله پر خپل حال باندي پاته وي لكه : الايا قوم للعجبِ.
۹ـ منادي مند وب كله چي پر مړي باندي اظهار د غم كيږي لكه: واسيداه" اويا د درد په وخت كي لكه: واكبداه" د دي د پاره د ري صورتونه دي :۱ـ چي د دي اختتام پرهغه الف زائده باندي وسي چي د تاكيد د تفجع يا د توجع د پاره وي لكه: واكبداه.۲ـ چى د دي اختتام پر الف زئده او پرهاء سكته باندي وسي لكه: واحسيناه.۳ـ اويا دا خپل پر حال باندي پاته سي لكه : واحسينُ.
۱۰ـ منادي متعجب منه چي كله پر شي باندي كثرت په وجه اظهار د تعجب وسي لكه : يا للماء، دا د منادي مستغاثه په حكم كي دي دري وجه پكښي جائز دي.
۱۱ـ منادي مهدَّدِّ ه چي په هغه سره اظهار د تهد يد او زجر كيږي لكه: يا لزيدٍ لأقتلنک دا هم د مستغاثي باللا م په حكم كي دا خل دي.
۱۲ـ منا دي كله مرخم وي يعني د تخفيف په وجه يى په اخره كي يوحرف حذف سوي وي لكه: يا حارث څخه يا رح ويل، په دي صورت كي پرمنا دى دوه صورته ويل جائز دي:۱ـ ضمه د منادى مفرد معرفي په وجه .۲ـ كسره د قبل الترخيم يعني پخواني اعراب په وجه.
۱۳ـ مفرد معرفه موصوفه په ابن اويا ابنة سره وي اومضاف علم اخر ته لكه: يا زيدُ بن عمروٍجائز دي او يا زيدَ بن عمروٍ اولى دي.
۳ـ ضابطه: كله چي منا دى معرفه بالام وي نو د دغي منا دى او حرف نداء په مابين كي به

د مذ کر د پاره ايّها راځي او د مؤنث د پاره ايتها راځي په دي شرط چي دغه لام به عوضي اولازمي نه وي که لا زمي او يا عوضى وي بيا دغه الفاظ نه راوړوي.

**۴ـ ضابطه:** په منادى معرفه باللا م کي " دايَّها" اوايتها" فا صله راوړل ځکه ضروري دي چي يا هم اله د تعريف ده اوالف لام هم اله د تعريف ده چي اجتماع د آلتي د تعريف يعني د دوو الو د تعريف رانسي پر يو اسم باندي.

**۵ـ ضابطه:** کله حرف نداء حذ ف کيږي په عوض کي په اخيره کی ميم مشد ده راوړل کيږي لکه: اللهم.

**۶ـ ضابطه:** ياپر اسم باندي د تنبيه دپاره هم دا خليږي نو په دا وخت کي به دا پرفعل او حرف باندي هم دا خليدي سي لکه: الا يا أسجدوا، ياليت قومي يعلمون.

**۷ـ ضابطه:** د جمله ندائيه ترکيب: يا حرف نداء ده قائم مقام د ادعوا ده ادعوا فعل دي انا ضمير يي فاعل زيدٌ منا دي قائم مقام د کاف اسمي خطابي دي چي په ادعواک کي دي دا به مفعول به سي د اعوا دپاره فعل سره د خپل فاعل دا به نداء سي او اِيت يا للماء دا به جمله جواب د نداء سي او جمله به انشائيه سي.

**۸ ـ ضابطه:** شبه مضاف وهغه اسم ته وايي چي د يواسم معنى بغير د بل اسم څخه نه تاميږي لکه: څنګه چي د مضاف معنى بغير د مضاف اليه څخه نه تاميږي او دي پر پنځه قسمه راځي:۱ـ منا دي شبه مضاف کله دعامل په صورت کي وي خواه عامل رافعه وي، او که نا صب وي.لکه يا حسناً وجهه ،يا طالعا جبلاً، يا رفيقًا بالعباد.

۲ـ کله په صورت د معطوف او معطوف عليه کي وي او معطوف قبل نداء د يوڅا د پاره علم وي لکه: يا ثلثة وثلا ثين.

۳ـ او کله په صورت د موصوف کي وي،او صفت يي مفرد وي لکه: يا رجلاً کريماً اقبل.

۴ـ کله په صورت د موصوف مکي وي او صفت يي جمله وي لکه: يا عظيماً يرجى لکل عظيمٍ.

۵ـ کله په صورت د موصوف کي وي ليکن صفت يي ظرف وي لکه : الا يا نخلة من ذات عرقٍ" عليک ورحمة السلا م په دي شعر کي نخلة موصوف او من ذات ولا جمل په اعتبار د کان سره صفت دي د نخلة د پاره..

## د حرف نداء حذ ف

**۹ـ ضابطه:** کله کله حرف نداء حذ ف کيږي لکه يُوْ سُف اعرض عن هذا.

**۱۰ـ ضابطه:** ليکن په شپږو ځايو کي د دي حذ ف کول نه دي جائز:۱ـ منادى چي کله اسم جنس نکره غير معين وي.

۲ـ اسم اشاره.۳ـ مستغاثه.۴ـ مندوب.۵ـ متعجب منه .۶ـ منادي بعيده ځکه د لته مراد" مدالصوت دي والحذف ينافيه.

## د منادى حذ ف

**۱۱ـ ضابطه:** کله کله منادى هم حذ ف کيږي لکه : الايا أسجدوا، اي الايا قوم أسجدوا..

**۱۲ـ ضابطه:** د منادى اضافه وياء د متکلم ته منادى چي کله مضاف سي وياء د متکلم ته نو په

دي کي د ري صورتونه جوړيږي:۱ـ د یاء حذف او دال کسره لکه: یا عبادِ په اصل کي یاعبادي وو.
۲ـ د یا ابدال په الف سره لکه: یا صد یقاَ، په اصل کي یا صد یقي وو.
۳ـ د یا ابدال په تاء سره لکه : یا أبت په اصل کي یا ابی وو.
فصل دوم درحروف در فعل مضارع :

## حرو ف عامله د فعل مضارع دي.

تفصیل دوهم فصل په بیان کي د حرو ف عامله د فعل مضارع دي.
فایده: دغه بیا پردوه قسمه دي ۱ـ هغه دي چي فعل مضارع لره نصب ورکوي.
۲ـ دوهم هغه دي چي فعل مضارع کي جزم کوي.
حروف عامله ناصبه څلور دي: ۱ـ اَنْ ۲ـ لن. ۳ـ کی. ۴ـ ا ذ ن.
د دي حروف عمل پر دوه قسمه دي: ۱ـ لفظي.۲ـ معنوي.
په لفظي عمل کي ټول سره شریکان دي:نو پنځو صیغو ته نصب ورکوي، او د اوه صیغو څخه سقوط د نون کوي چي تثنیه او جمع مذ کر او واحده مؤنثه مخاطبه ده .
او په معنوي عمل کي هریو سره جلا دي:
عمل داَنْ پر دوه قسمه دي: ۱ـ لفظي چي کم مخکي تیرسو .۲ـ معنوي. هغه فعل مضارع لره په تاویل د مصدر سره ګرځوي مثال: اُرید اَنْ یقوم اي ارید قیامک .
وجه دعمل: ځکه دي مشابه دي داَنَّ سره په فتحه دهمزي کی او د دي عمل اتفاقي دي.
او کله لفظي وي اوکله تقد یري.
ان پر پنځه قسمه : ۱ـ اَنْ ـ مخفف من المثقل لکه : «علم ان سیکون منکم مرضی»
۲ـ شرطیه ـ « وَلَایَجْرِمَنْکُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْکم»
۳ـ نافیه ـ « اَنْ یُّؤْتٰی اَحَدٌ مِثْلَ مَا اُوْتِیْتُمْ»
۴ـ تفسیریه ـ «وَنَا دَیْنَاه اَنْ یَا اِبْرَاهِیْم» ۵ـ مصدریه ـ « یُرِدُ الله اَنْ یُّخَفِّفَ عَنْکُمْ »
قوله: دوم لن:
دوهم د حروف ناصبه د فعل مضارع لن دي او د ا د نفي د تاکید د پاره دي.
په لن کي هم لفظي اختلاف دي اوهم معنوي.
اختلا ف لفظي: دري مذهبه پکښي دی: ۱ـ مذهب د سیبویه او جمهورنحات اوصراف دي دوي وایی د ا کلمه برأسها ده تغیر او تبدیل نه دي پکښي سوي.
۲ـ مذهب د کساي اوخلیل دي: دوي واي اصل د لن لاان دي همزه د تخفیف د پاره حذ ف سونولان مکتوب غیر مقرؤ سو بیا دالف اونون التقاء سا کنین را غله الف حذ ف سو نولن سو .
۳ـ مذهب دامام فراء د ي :دي وایي چي د لن اصل لا وو الف په نون بد ل سو لن ځندي جوړسو.
دوهم اختلاف په معنی کي دي: دوه مذهبه دي:۱ـ اهل السنت والجاعت.۲ـ معتزله.
اول مذهب والا: وایی چي لن راځي د پاره د نفي د مستقبل.
دوهم مذ هب والا: وایی چي لن راځي د پاره د نفي د مستقبل تابیداً.

ثمره داختلاف: پدي ايا ت کي ښکاره کيږي « لن تراني» معتزله وايي الله نه په د نيا کي څوک ليدلي سي او نه په آخرت کي استدلال پدی ايت کوي چي لن د پاره د نفي د تابيد دي.
اهل السنت والجماعت وايي: په دنيا کي نه ليد ل کيږي او په اخرت کي مسلمانان د يدار الهي کولي سي او دا لوي نعمت د نعمتو څخه د جنت دي .
الله پر قران کي فرمايی: « لِلَّذِ يْن اَحْسَنُوْا اَلْحُسْنٰى وَزِيَا دَةٌ »
مفسرين وايي: د زياد ت څخه مراد رؤيت د الله دي کنه تناقض به راسي په مابين کي د ايات او حد يث نومعلومه سوه چي لن د پاره د تاکيد د نفی د مستقبل دي نه د تابيد دپاره .

قوله:سوم كي :

د ريم د حروف ناصبه د فعل مضارع کي دي.
د کي هم دوه عمله دي :١ـ لفظي چي مخکي تيرسو .٢ـ معنوي. هغه دا چي خپل ما قبل سبب گرځوي د ما بعد د پاره په دي شرط چي کي شرطيه وي او جاره نه وي.لکه « اسلمت کي ادخل الجنة » سبب د د خول د جنت دي.

## "کي" پر دوه قسمه دي: ١ـ اسميه : ٢ـ جاره

"کي" پر دوه قسمه دي: ١ـ اسميه : ٢ـ جاره.
اسميه د يته وايی: چي دا مخفف وي د کيف څخه لکه: کي تنجحون اي کيف تنجحون،
کي جاره هغه دي:چي دا پرما استفهاميه يا مصدر يه باندي د اخليږي په دي کي هم د نحات اختلا ف دي چي دي بنفسه ناصب دي او که ترده وروسته ان مقد ردي.

دوه مذهبه دي: ١ـ بعضي وايي: چي ترده وروسته ان نا صبه مقد ر دي هغه ناصب دي.

٢ـ جمهور وايی: چي دي بالذات ناصب دي. او مصنف ته هم دغه مذهب مختار دي.

قوله:چهارم: اذن:

څلرم د حروف ناصب د فعل مضارع لره ا ذ ن دي.

عمل د اذن پردوه قسمه دي: ١ـ لفظي چي مخکي تيرسو.٢ـ معنوي. هغه خاص کول د فعل مضارع دي په مستقبل پوري.
اوپه دي کي هم اختلا ف دي چي ا ذ ن بنفسه عمل ناصب دي اوکه ترده وروسته ان مقدر دي:
دوه مذهبه دي:١ـ امام زجاج او امام ابوعلي فارسي دي: دوي وايي چي اذ ن خپل ناصب نه دي بلکي ترده وروسته ان مقدر دي.

٢ـ جمهور وايي: چي دي خپل ناصب دي.

قوله:بدانكه ان بعد ازشش حروف مقدر:

تشريح:ان وروسته تر شپږو شيانومقدريږي او فعل مضارع لره نصب ورکوي.
١ـ حتي.٢ـ لام جحد.٣ـ لام کي.۴ـ واو بمعنی الا ان او الی ان.۵ـ واو الصرف.۶ـ بعد فا درجواب شش چيزي است.

اول: مَرَرْتُ حَتَّى اَدْخُلَ الْبَلَدَ، د لته تر حتى وروسته ان مقدر دى ناصب په ادخل کي دي ځکه حتى حرف جر دي داخليږي پر اسم باندي او د لته پر فعل باندي دا خل سوي دي نومعلومه سوه چي د لته ان مقدر دي.
او که چيري ان ذ کرکړل سي نو بيا د خول د حرف پر حر ف باند ي راسي او د ا با طل دي .
دوهم: ترلام د جحد وروړسته به هم ان مقدر وي .
اولام د جحد د يته وايي چي د اخل وي پر خبرد کان منفي باندي لکه : مَا كَان الله لِيعذِ بَهم» لم يكن الله ليغفر لهم»
د ليله يي چي د خول د حرف به پر حرف باندي راسي.
د ريم: واو په معنى دالِى اَنْ او اِلَّا اَن: واو په معنى دالى ان دا مذهب د جمهور نحات دي او واو په معنى دالا ان دا مذهب د امام سيبويه دي مصنف دواړه مذهبه ذ کرکړل،
د ليل يي د لته به ځکه ان مقدر وي الى ان اوالا ان پر اسم باندي دا خليږي او د لته پر فعل داخل دي نو ځکه چي ان فعل په تاولى د مصدر سره ګرځوي اوښکاره کيږي نه ځکه چي تکرار دان به راسي او دا هم صحيح نه ده او بل د خول د حرف به پر حرف باند ي راسي او د ا هم صحيح نه دي.
څلرم : واو الصرف: څلرم ترواو د صرف وروسته ان مقد ر راځي دا هغه واو دي چي تردي وروسته کم معطوف وي په هغه کی دا صلا حيت نه وي چي کم شي د معطوف عليه په سره کي ذ کرسوي وي هغه د لته رامعاد کړي لکه : لاتنه عن خلق وتاتي مثله . د لته واو الصرف (وتاتي معطوف دي) اولاتنه معطوف عليه دي) دا خل دي پرمعطوف باندي اوپرمعطوف عليه باندي لا داخل دي د غه لا واو نه سي رامعاد کولي ځکه فساد د معنى به راسي.
پنځم : لام کي: پنځم ترلام د کي وروسته ان مقدر کيږي.
فرق د لام د جحد او دلام د کي: ۱- لام د جحد مخکي به نفي وي، او دلام د کي مخکي نفي نه وي.
۲- لام د کي دعلت دپاره راځي او په ليري کولو سره يي معنا ته تغير رسيږي او لام د جحد د ا سي نه دي.
قوله: وفاكه د رجواب شش چيز است:

شپږم ان مقد ر کيږي وروړسته تر فا چي په جواب کي د شپږو شيانو راغلي وي.
د ليل د لته ځکه ان مقدر کيږي د پاره د صحت دعطف د مفرد پر مفرد ځکه جواب دانشاء د لته اخبار راځي او عطف داخبار پر انشاء نه دي روا نو ان وروسته تر فاء مقدر سو چي تاويل د مصدر ځندي وسي مفرد به سي او مخکي انشاء څخه به هم تاويل بالمصدر وسي نو عطف به صحيح سي د مفرد پر مفرد نه عطف د جمليه خبريه پر انشائيه باندي.
امثله : ۱- چي د فاء څخه مخکي امروي:زُرْنِي فأُكْرِمَک.۲- چي په جواب د نهي کي وي : لا تفترُوْا علي اللهِ كَذِ بًا فيسحتكم»
۳- چي په جواب کي د نفي راغلي وي « لا يقضى عليهم فيموتوا» ۴- مثال چي په جواب داستفهام کي راغلي وي « فَهَل لنا مِنْ شُفَعَاءِ فيشفعوا لنا»
۵- چي په جواب د تمنى کي راغلي وي مثال ياللتنى مت معهم فافوز فوزاً عظيما »
۶- چي په جواب دعرض کی راغلي وي « الا تنزل بنا فتصيب خيراً»

۷- چي په جواب د دعاء کي راغلي وي « ربما اطمس على اموالهم واشدد على قلوبهم فاليؤمنوا».
د لته نور بحث هم سته د طوالت په خا طر موپريښنو وي.

قوله:قسم دوهم حروفيکي مضارع را بجزم کنند:

دوهم قسم هغه حروف دي چي فعل مضارع ته جزم ورکوي.

تفصيل: عامل جازمه د فعل مضارع پر دوه قسمه دي: ۱- حروف جازمه چي هغه پنځه داني دي : ان لم لما لام الامر لاي نهي)

۲- اسماء جازمه چي هغه نهه -۹- داني دي چي مصنف په دريم فصل کي په تفصيل سره ذکرکړيدي د لته يواځي د حروف جازمه بحث کيږي.

## حروف جازمه پر دوه قسمه دي

حروف جازمه پر دوه قسمه دي:۱- چي پر يوه فعل داخليږي او عمل پکښي کوي هغه څلور دي ( لم لما لام الامرلاى نهي.

۲- چي پر دوو فعلو باندي دا خليږي او عمل پکښي کوي هغه يواځي يوحرف دي چي ان دي.

۱- ضابطه: د دي حروف د پاره دوه عمله دي :۱- لفظي .۲- معنوي.

عمل لفظي: د مضارع د پنځو صيغو څخه حرکت غور ځووي پدي شرط چي صحيح به وي هغه پنځه صيغي دا دي:۱- واحد مذ کر غائب.۲- واحد مذ کر مخاطب.

۳- واحده مؤنثه غائبه .۴- واحد متکلم.۵- جمع متکلم مع الغير.

او که چيري ناقص وي بيا حرف علت غورځوى لکه لم يدع، لم تدع الخ

او د تثنيه که مذ کر وي او که مؤنث او غائب او که مخاطب او د جمع مذ کر غائب وي او که مخاطب او واحدي مؤنثي څخه نون اعرابي غورځوي.

او په دوو صيغو کي عمل لفظي نه کوي لم يفعلن ، لم تفعلن.

## فرق د لم او لما او اشتراک في الامور الاتيه:

۲- ضابطه: فرق د لم او لما او اشتراک في الامور الاتيه:۱-دواړه د نفي د پاره دي.

۲-دواړه پر فعل مضارع باند ي دا خليږي.۳- دواړه په د خول دهمزي سره يي عمل باقي وي لکه : الم نشرح لک صدرک»

۴- دواړه حرفين دي.۵- دواړه جزم ورکوي.۶- په دواړو کي معنا د انتقال المضارع الى الماضي ده .

افتراق في الامور الاتيه : ۱- پر لم باندي حرف شرط دا خليدي سي لکه : ان لم تفعل فما بلغت رسالته» بخلاف لما .

۲- د لم څخه فعل نسي حذ ف کيدي بخلا ف د لما نصحت لزيد ولما اي لم تنفعه النصيحة .

۳- په لم کي استغراق د نفي د ما ضي نسته بخلا ف د لما دا د پاره داستغراق د نفي د ماضي راځي لکه لما ينصر زيد.

۴- د لم تر مد خول وروسته د ثم استعمال صحيح دي لکه : لم يکن ثم کان او ترلما وروسته صحيح نه دي.

۵- د لما په مدخول کي د توقع معنى وي لکه لما يرکب الامير بخلاف د لم.

۶ـ لما په معنی سره دالا مستعمل دي لکه ان کل لما جميع لدينا محضرون» ان په معنی د ما او لما په معنی دالا.
۷ـ لما په معنی د جمعاً مستعمل دي لکه : او تأكلون التراث لما اي جمعاً » بخلاف د لم.
۳ـ ضابطه: لما چي کله پر ماضي دا خل سي نو ظرفيه او شرطيه به وي او چي کله پر مضارع باندي دا خل سي نوحرف جازمه به وي.
د لما او لم معنوي عمل: مضارع په معنی د ماضي منفي سره ګرځوي.
لام د الامر: د دي هم دوه عمله دي : ۱- لفظي چي مخکي تيرسو .
۲ـ معنوی. معنوی هغه دي چي مضارع مثبته په معنی دامر سره ګرځوي او لام د ده به مکسور وي مبني به وي
او چي کله فا او ثم او واو پر دا خل سي بيا لام ساکن کيږي ځکه په دي سره د فعل صورت جوړيږي نود حلقي العين په قانون سره به لام ساکن کيږي.
اودغه لام پر مضارع غائب معلوم اومجهول باند ي دا خليږي. او مخاطب او متکلم مجهول باندي هم دا خليږي.
سوال: پر مضارع مخاطب او متکلم معلوم باندي ولي نه د ا خليږي؟
جواب: ځکه ددي څخه امرحاضر جوړيږي او هغه صيغي هغه نيولي دي امر بالام نه پکښي راځي مثال السکون: فَلْيَضْحَكُوْن قليلاً وَلْيَبْكُوا كثيراً» ثُمَّ لْيقضوا تفثهم»
لاي ناهي: د ده د پاره هم دوه عمله دي:۱- لفظي چي مخکي تيرسو .۲ـ معنوي. هغه دي چي مضارع مثبتي څخه نهي جو ړ وي.
ان شرطيه : د د پاره هم دوه عمله دي: ۱ـ لفظي چي مخکي تيرسو .۲ـ معنوي: هغه دا دي چي پر جملتينو باندي دا خليږي اولي ته شرطيه وايي، او دوهمي ته جزائيه وايي، اوله سبب ګرځوي دپاره دوجود د ثاني مثال :ان تنصرْ انصرْ.
ضابطه: د ان د عمل د پاره اووه شرطونه دي:۱ـ دان مد خول به جمله اسميه نه وي، ځکه په جمله اسميه کي زمانه نسته.
۲ـ د د مد خول به جمله انشائيه نه وي، ځکه په جمله انشائيه کي اخبار نسته او شرط د اخبارد قبيلي څخه دي.
۳ـ زمانه د ماضي به مراد نه وي، ځکه ان په مستقبل کي عمل کوي.
۴ـ چي پر ماضي به قد نه وي داخل سوي، ځکه قد ماضي نور پر ماضي والي باندي نه ټنګوي.
۵ـ چي مضارع به په حرف د تنفيس سره نه وي مصدره، ځکه د ا تحصيل د حاصل دي.
۶ـ پر مضارع به لن نه وي د اخل سوي.
۷ـ د د مدخول به فعل جامد نه وي، ځکه په فعل جامد کي زمانه نه وي.
تفصيلا: شرط او جزاء کي څلور صورتونه جوړيږي:۱ـ دواړه فعل مضارع وي : ان تضربْ اَضربْ .فالجزم واجب دي. د ليل ځکه محل صالح دي د پاره د عمل دان .
۲ـ شرط مضارع جزاء ماضي : ان تضربْ ضربتک. فالجزم في المضارع واجب .د ليل ځکه محل صالح د ي د پاره د عمل دان.

۳- جزاء مضارع شرط ما ضي: ان ضربْتَ اضربْ ، واضربُ. جزم او رفع دواړه پکښي جائز دي.هرچي عمل دي ځکه محل صالح دي د پاره دعمل دان ، او هرچي عدم عمل دي ځکه په مابين د مضارع او ان کي فصل راغلي دي په ماضي سره نو عمل نه کوي.

۴- دواړه فعل ماضي وي په دي صورت کي جزم محلی به وي : ان ضربتَ ضربتُ.دليل په دي ځلرم صورت کي ان عمل نه کوي ځکه ماضي مبني وي او مبني د يته وايي من لايختلف آخره باختلاف العوامل.

## جزاء د شرط په اعتباردخول د فاء اوعد م د خول پردري قسمه ده:

۱- ضابطه:کله کله پرجزاء د شرط باندي فاء راځي نو بيا جزاء د شرط په اعتبار د د خول د فاء او عد م د خول پردري قسمه ده :۱- ممتنع الفاء.۲- جائز الفاء .۳- واجب الفاء.

تفصيل: اول صورت:چي جزاء د شرط ماضي متصرف وي لفظا او يا معنا او خالي وي د قد ښخه لفظا او معنا او نه په محل د دعاء کي وي نو د فاء راوړل ممتنع دي لکه ان ضربتَ ضربتُ.

دوهم صورت : چي جزاء مضارع مثبته خالي وي د سين او سوف ښخه او يا جزاء فعل مضارع منفي وي په لا نوجواز دوجهين دي يعني د خول د فاء او عد مي د خول د فاء.

د ريم صورت: ماسوی د دغه مذ کور ښخه جزاء چي هرشي وي نو د فاء راوړل واجب دي.

هغه صورتونه چي د فاء راوړل واجب وي اته دي.۱- چي جزاء جمله اسميه وي لکه: «فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهُ فَأُولٰئِک هم المُفْلِحُوْنَ».

۲- چي جزاء امر وي لکه: «فَأِذا قَرَئْتَ الْقُرْآن فَا سْتَعِذْ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَجِيْم».

۳- چي جزاء نهي وي لکه:«فَأِنْ عَلِمْتفمُوْهُنَّ مؤمناتٍ فلا تَرْجِعُوْهُنَّ الى الكُفَّار».

۴- چي جزاء فعل مضارع منفي وي په ما سره

.۵- فعل مضارع مثبته وي په سين لکه:« وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُ خْرٰى».

۶- چي مضارع مثبه وي په سره ک يسوف وي لکه:« فَاِنْ اِسْتَقَرَّ مَكَانَه فَسَوْفَ تَرَانِي ».

۷- فعل غير متصرفه وي لکه: نعم، بئس، ليس لکه: «اِنْ تُبْدُوالصَّد قات فنعما هي».

۸- ما ضي مع القد لفظا لکه:« وان يكذ بک فقد كذ بت رسول من قبلک».

او يا تقد يراً لکه:« وان كان قميصه قد من د بر فكذبتْ، اي فقد كذ بت».

۹- ما ضي په مقام د د عاء كي لکه: ان اكرمتني فجزاک الله خيراً.

۱۰- چي جزاء ماضي وي اوپه شروع کي حرف نفي راغلي وي لکه« وَاِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَغْتَ رِسَالَتُهُ».

۲- ضابطه : شرط او جزاء دواړه مذ کور وي غالبا.

۳- ضابطه: شرط حذ ف کيږي په پنځو ځايو کي وجوبا مع البقاء الجزاء.

۱- بعد الامر لکه: قوله عليه السلا م قولوا لا اله الا لله تفلحون شرط محذوف دي چي ان قلتم لااله.

۲- بعد النهي لکه: لا تشتم يكن خيراً لک اي ان لا تشتم.

۳- بعد الاستفهام لکه: اين بيتک ازرک اي ان تعريفنه .

۴- بعد التمنى ليت لي ما لاً انفقه اي ان ارزقه .

۵- بعد العرض لکه الَّا تَنْزِلْ بِنَا فَتُصِيْبُ خيراً اي ان تنزل.

۴- ضابطه: ماسوی د دغه مذ کور ځايو ښخه شرط حذف کيږي جوازاً خو چي قرينه وي پرتعين

د محذوف لکه: فالله هو الولي. د ا جمله اسمیه جزاء وا قع سوي ده د شرط محذوف دپاره اي ان اراد اولیاء الحق.

**۵- ضابطه:** کله کله جزاء حذف کولي سي بغیر د سد مسد سره د بقاء د شرط لکه: وان کان کبر علیک اعراضهم. شرط دي جزاء یي لا تحزن دي.

او کله بیا سره د سد مسد وي لکه: وان یکذ بک فقد کذبت رسول من قبلک. شرط دي اوجزاء محذوف ده چي فاصبر.

باب دوم درعمل افعال:

هرکله چي مصنف فارغ سو د بیان څخه د باب اول چي هغه په بیان کی د حروف عامله وو نو یي شروع وکړل په بیان د افعال عامله نو یي وویل چي هرفعل عامل دي یعني عمل کوي.

## فعل په اعتبار د فاعل پر دوه قسمه دي

**۱- ضابطه:** فعل په اعتبار د فاعل پر دوه قسمه دي:۱- معلوم.۲- مجهول.

**د فعل معلوم تعریف:** د یته وایي چي فا عل د دي معلوم وي د ده ورته نسبت سوي وي، اود دي څلور نومان دي :۱- معروف.۲- معلوم.۳- مبني للفاعل.۴- فعل یسمی فاعله.

**نوټ:**د دوهم تعریف وروسته راځي.

## فعل په اعتبار د معنی پر د ري قسمه دي

**۲- ضابطه:** فعل په اعتبار د معنی پردوه قسمه دي:۱- لازمي.۲- متعدي.

۳- غیر متعدي اوغیر لازمي

**دلازمي تعریف:** د یته وایي چي په فاعل سره تمامیږي اوپه اعتبار د معنی ومفعول ته محتاج نه وي لکه قام زیدٌ.

**د متعدي تعریف:** د یته وایي چي په فاعل سره یواځي نه تما میږي بلکي په اعتبار د معنی ومفعول به ته محتاج وي لکه ضرب زیدٌ عمرواً.

**غیر متعدي اوغیر لازمي:** لکه افعال نا قصه او افعال مقاربه .

## اشتراک او اتفاق د عمل دلازمي او متعدي:

**۳- ضابطه:** اشتراک او اتفاق د عمل د دوي یعني د لازمي او متعدي:دوي دواړه فاعل ته رفع ورکوي لازمي لکه: قام زیدٌ .

متعدي لکه: ضرب زیدٌعمرًوا.

او شپږو اسماؤ ته نصب ورکوي:۱- مفعول مطلق.۲- مفعول فیه.۳- مفعول معه.۴- مفعول له . ۵- حال.۶- تمیز.

## افتراق اوعدم اشتراک دلازمي او متعدي په عمل کي:

افتراق اوعدم اشتراک: لازمي مفعول به ته نصب نه ورکوي او متعدي ومفعول به ته نصب ورکوي لکه: ضرب زیدٌ عمرواً.

۴ـ ضابطه: علا مې د معرفت د فعل لازمي:۱ـ هغه فعل دي چې پرحدوث د ذات دلالت کوي لکه: حدث عمر عرض صفرٌ.
۲ـ چې د صفت حیسیه پر حدوث باندی یعني پر هیئت باندي دلالت کوي لکه: طال اللیل قصر النهار.
۳ـ چې پرعرض باندي دلالت کوي لکه:" مَرِض زیدٌ فَرِح بکرٌ.
۴ـ چې د فعُل پر وزن باندي وي لکه: شرُف. کرُم.
۵ـ هغه فعل چې د انفعل تفعل افعل افعال افعنلل افعللَّ پر وزن باندي وي لکه: اِنْصَرَف تَدَحْرَجَ اِحْمَرَّ اِحْمَارَّ اِحْرَنْجَمَ اِقْشَعَرَّ.
۶ـ هغه فعل چې دهغه وصف د فعیل پروزن باندي وي لکه : د ذ لَّ ځخه ذلیلٌ سمن ځخه سمین.
۷ـ چې د ده ځخه فعل مجهول او اسم مفعول نه راځي.

**د فعل متعدي دوي علا مي**:۱- چې د ده سره د غیرمصدراو غیر خبر ضمیر متصل کید ل صحیح وي لهذا په الخروج خرجه زیدٌ کي خرجه زیدٌ او زیدٌ کنته د دي ځخه خارج سول ځکه د لته ضمیر د مصدر یا د خبر په فعل پوري متصل سوي دي.
۲ـ چې اسم مفعول تام بناء د ده ځخه صحیح وي بغیر د واسطي د حرف جر.

## فعل لازمي په اوه شیانو سره متعدي کیږي

۵ـ ضابطه: فعل لازمي په اوه شیانو سره متعدي کیږي:
۱ـ اما بنقله الی باب الافعال مثل اکرمتُ العالم .
۲ـ واما بنقله الی باب التفعیل مثل عظمت الاساتذه.
۳ـ امابنقله الی باب المفاعل نحو مشی زیدٌ ما شیت زیدً.
۴ـ امابنقله الی باب الاستفعال نحو خرج زیدٌ استخرجت زیداً.
۵ـ اما بنقله الی باب نصر لقصد المبالغه نحو کرمت الفارس واکرمته.
۶ـ واما بواسطة حرف الجر مثل اعرض عن الرزیلة وتمسک با لفضیلة.
۷ـ با لتضمین وهو اشراب لفظ معنی آخر واعطائه حکمه لتؤده معنی کلمتین وهو ان یؤدی فعل اومافي معنا مؤدی فعل آخر نحو لاتعزموا السفر اي لاتنوي السفر.
بدانکه فا عل اسمیست:

تشریح: فاعل هغه اسم دي چې د ده ځخه مخکي فعل اویا شبه فعل وي اوهغه به مسند وي ودغه اسم ته پرطریقه د قیام د دغه فعل په د غه اسم پوري.

سوال: فعل به صادر وي سوي د فاعل ځخه نوموت اوطول د زید اوعمر ځخه صادرنه دي؟

جواب:د لته فعل عام دي چې د فاعل ځخه صادر وي لکه: ضرب زید ٌ چې وهل د زید ځخه صادر دي او که په طریقه د قیام او تعلق سره وي لکه: مات زیدٌ طال بکرٌ.
مثال د فعل لکه: قام زیدٌ.
مثال د شبه فعل لکه: زیدٌ قائم ابوه.

## اقسام د شبه فعل:

اقسام د شبه فعل لس ـ۱۰ـ دي:

۱- مصدر.۲- اسم فاعل.۳- اسم مفعول. ۴- صفت مشبه .۵- اسم تفضيل.
۶- صيغه د مبالغي. ۷- ظرف.۸- اسم آله .۹- اسم فعل. ۱۰- اسم منسوب..
ليکن دوي چي کله عمل کوي نوشرط يي دا دي چي دوي به اعتماد کړي وي پرماقبل.

۱- ضابطه: فاعل به هميشه مرفوع وي خو کله مجرور هم راځي :
۱- چي اضافه د مصدر وفاعل ته وسي لکه: لَوْلَا دَ فَعُ الله الناسَ.
۲- يا پرفاعل باندي باء زائده دا خل سی لکه: كَفَى بِاللهِ شهيداً.
۳- اويا پرفاعل باندي من زائده د ا خل سي لکه: مَا جَاءَ نَا مِنْ بَشِيْرٍوَلَا نَذِ يْرٍ .
۴- يا لام زائده داخل سي لکه : هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَاتُوْعَدُوْن"
د لته فاعل مجرور دي لفظا اومرفوع دي معنا.

۲- ضابطه: د باء زاېده د خول پرفا عل باندي د رى قسمه دي:
۱- وجوبا چي د فعل تعجب پرفا عل باندي راځي لکه : أَسْمِعُ بهم وأَبصرُ.
۲- جوازاً کثيراً: چي د کفی پرفاعل با ندي راځي لکه : وَكَفٰى بِا لله شَهِيْداً"
۳- جوازاً قليلاً لکه په بعض اشعارو کي چي راځي: لَمْ يَأْ تِكَ وَالْاَنْبَاءُ تَنْبِى بِمَا لَاقَتْ لَبُوْنُ بَنِى زِيَاد.
ضابطه: داکثرو نحاتو په نيز باندي دفاعل اعراب په دي صو رتو کي محلي وي او محلي اعراب يوا ځي په جمله او مبني پوري نه دي خاص.
سوال: د محلي او تقد يري اعراب فرق څه دي؟
جواب: فرق يي د ا دي چي په محلي کي ما نع د پوره کلمي سره قائم وي، او په تقد يري کي ما نع صرف د کلمه په آخري حرف پوري قائم وي.
قوله: مفعول مطلق مصدريست:

مفعول مطلق هره هغه مصدر دي چي واقع وي وروسته ترفعل خپل او په معنی سره د د غه فعل وي.
وجه د تسميه د مفعول مطلق: د يته ځکه مفعول مطلق وايي چي دي خالي دي د قيد څخه به، له، فيه، معه، لکه نور مفاعيل چي په دي قيدوسره مقيد دي.

## مفعول مطلق په اعتبار د لفظ پر دري قسمه دي

۱- ضابطه: مفعول مطلق په اعتبار د لفظ پر دري قسمه دي يعني مفعول مطلق به د خپل فعل په معنی وي ليکن تغير به پکښي وي او د غه دري قسمه دي:
۱- تغاير في الباب والماده: لکه « فاوجس في نفسه خيفة »
۲- تغاير في الباب فقط: لکه وتبتل اليه تبتيلا » ۳- تغاير في الماده: لکه قعدت جلوسا.

## مفعول مطلق په اعتبار د معنی پر دري قسمه دي

۲- ضابطه: مفعول مطلق په اعتبار د معنی پر دري قسمه دي: ۱- تاکيدي.۲- نوعي.۳- عد دي.
مفعول تاکيدي: د يته وايي چي دلالت کوي پر هغه معنا چي مستفاد وي د ماسبقه فعل څخه لکه: ضَرَبْتُ ضرباً.
مفعول مطلق نوعي تعريف: د يته وايي چي د فعل پر يو نوع دلالت کوي

لکه:جلست جلسة القاري، ضربت ضرب الامير.

مفعول مطلق عددي تعريف: د يته وايي چي د فعل پر وحد ت او يا کثرت باندي دلالت کوي لکه: ضربت ضربين او جلست جلستين او جلسات.

۳- ضابطه: وجه د انحصار مفعول مطلق په دري اقسامو کي: دغه مصد ربه خالي نه وي يابه زيا د ت د معنا پکښی وي اويا به نه وي پکښي که اول وو دا د تاکيد د پاره دي لکه:ضربت ضربا. اوکه دوهم وو بيا به خالي نه وي يا به مقصد بيان د نوع وي او يا به بيان دعد د وي که اول وو نودا نوعي دي لکه جلست جلسة القاري. اوکه دوهم وو نو عددي دي لکه: جلستُ جَلسة بالکسره نوعي دي او بالفتحه عددي دي.

۴- ضابطه: مفعول مطلق تا کيدي نه تثنيه کيږي او نه جمعه کيږي بالاتفاق اومفعول مطلق عد دي بالاتفاق تثنيه او جمعه کيږي او نوعي عند الجمهور تثنيه اوجمعه کيږي.

۵- ضابطه: عامل د مفعول مطلق کله کله حذ ف کولي سي جوازاً دوجی د وجود د قريني پرتعين د محذوف باندي لکه: خير مقد م للقادم من سفر اي قد مت قدوما خيرمقدمٍ.

۶- ضابطه: کله کله عامل د مفعول مطلق حذف کولي سي وجوبا

او دا بيا پر دوه قسمه دي:۱- سماعي. ۲- قياسي.

سما عي په اوه ځايو کي راځي کما في الکتوب مطولات. او قياسي په يولس ځايو کي حذ ف کيږي.

قوله : ومفعول فيه اسميست:

تشريح:مفعول فيه هغه اسم دي چي فعل په ده کي وا قع وي او د يته ظرف هم وايي او ظرف پر دوه قسمه دي.دا هغه اسم زمان اويامکان دي چي فعل مذ کورد فاعل په ده کي وا قع وي.

## ظرف پر دوه قسمه دي

۱- ضابطه: ظرف پر دوه قسمه دي:۱- ظرف زمان .۲- ظرف مکان.

تشريح: زمان د وقوع د فعل ته ظرف زمان وايی لکه: صُمْتُ يومَ الجمعةِ.

او مکان د وقوع د فعل ته ظرف مکان وايي لکه : جَلَسْتُ عِنْدَ کَ.

۲- ضابطه: په ظروف کي بعض لازم الظرف دي کله مبتداء اوخبر او فاعل او مفعول هم واقع کيږي لکه: اليوم مبارک. په دي کښي ظرف مبتداء او خبر واقع دي، اواعجبني اليوم، په دي کښي ظرف فاعل واقع دي.

## ظرف که زمان او که مکان هريو پر دوه دوه قسمه دي

۳- ضابطه: ظرف که زمان او که مکان هريو پر دوه دوه قسمه دي:

ظرف زمان .۱- مبهم لکه حين او دهر.۲- محدود لکه سنة او شهر.

مکان هم پر دوه قسمه دي:۱- مبهم لکه تحت فوق. ۲- محدود لکه مسجد وسوق.

۴- ضابطه: ظرف زمان که مبهم وي او که محدود هميشه به منصوب وي په تقد ير د فی حرف جر سره لکه : جلست خلفک اي في خلفک.

سوال: په زمان کي به ولي في مقد روي ؟ جواب: ځکه به في مقدره وي چي دا جزء د مفهوم څخه

د فعل وي خپل نومشابه سو د مفعول مطلق سره اومفعول مطلق ته ایصال د فعل بالذا ت کیدي بي ده واسطي نو د ته به هم ایصال د فعل بالذا ت کیږي بي د وا سطي څخه .
اوزما ن محدود حمل دي پر زمان مبهم ځکه چي دوي سره شریکان دي په ذات .
په ظرف مکان محدود کي به ذ کر د "في" وي.
او په مکان مبهم کي به "في" نه وي ذ کر.

سوال: په ظرف مکان محدود کي به ولي في ذ کر وي او مبهم کي به نه وي ذ کر؟

جواب: مکان محدود کي ځکه ذکردي چي زمان مبهم سره نه دي شریک هغه زمان دي اوهغه مبهم دي او دي محدود دي.
او په مبهم کي به ځکه نه وي ذ کر چي هغه د زمان مبهم سره په ابهام کي شریک دي.

۵ـ ضابطه: عامل د مفعول فیه حذ ف کولي سي جواز په وخت د قرینه دالي پرتعین د محذوف لکه: فرسخین اي سافرت فرسخین.

۶ـ ضابطه: عامل د مفعول فیه حذفولي سي په حذ ف وجوبي سره په پنځو ځایوکي:

۱ـ چي واقع بعد المبتداء سي لکه : انا عند ک. انا مبتداء ده اوعند ک مفعول فیه دي.
۲ـ چي وا قع بعد الموصل سي لکه : جائني الذي (الموصل) عند ک .
۳ـ چي وا قع بعد الموصف لکه: مررت بزیدٍ (موصوف) عند ک.
۴ـ چي واقع بعد الحال لکه مررت بزید (الحال) عند ک .
۵ـ چي وا قع بعد ما اضمر عامله علی شرطیة التفسیر لکه: یو م الجمعة سافرت فیه .

قوله : معه :

تشریح: بل د مفعولات څخه چي فعل ورلر نصب ورکوي هغه مفعول معه دي دا هغه اسم دي چي ذکر سوي وي وروسته تروا و هغه چي په معنا د مع سره وي د پاره د مصاحبت د معمول د فعل په صدرویا وقوع کي مثال جائني البرد والجبات اي مع الجبات ، دا مثال د صدرو دي،
مثال د وقوع لکه کفاک وزیداً درهمٌ .

۱ـ ضابطه: دا به همیشه په واو سره وي هغه واو چي په معنا د مع سره وي
او د دي د پاره شپږ شرطونه دي:

۱ـ اسم به وي. ۲ـ فضله به وي.۳ـ واو بعمنی د مع .
۴ـ دواو څخه وروسته به وي.۵ـ د جملي څخه وروسته به وي.
۶ـ جمله به فعل او یا شبه فعل وي.

۲ـ ضابطه: عامل د دي به خالي نه وي یا لفظي وي او یا به معنوی وي،
که عامل د دي لفظي وو بیا به خالي نه وي یا به عطف جائز وي اویا به نه وي جائز بلکي ممتنع به وي.
که عطف ممتنع وي نونصب پکښی متعین دي بنا برمفعول معه لکه: ماشانک وعمرواً،
او که عطفه جائز وو بیا عطف متعین دي او نصب ممتنع دي بنا بر مفعول له لکه ما لزیدٍ وعمروٍ.

۳ـ ضابطه: عامل د مفعول معه عند الجمهور فعل اویا شبه فعل دي او واو نه دي.

قوله: ومفعول له اسمیست:

تشریح: مفعول له دا سي اسم دي چي دلالت کوي پر دا سي شي باندي چي هغه سبب (یعني علت واقع سوي وي) وي د مخکي ذ کر سوي فعل د پاره لکه: اکراماً په قمت اکراما کي.

## مفعول له پر دوه قسمه دي:

۴ـ ضابطه: مفعول له پر دوه قسمه دي:۱ـ علت مؤثره .۲ـ علت غائیه.

مفعول له علت مؤثره هغه ته وایي چي هغه مقد م وي پر فعل باند ي هم په وجود ذهني کي او هم په وجدي خارجي کي لکه : قعد ت عن الحرب جبنا. د لته دغه جبن مخکي دي ترقعود هم په ذهن کي او هم په خارج کي.

او مفعول له غائیه هغه ته وایي چي هغه مقدم وي پر فعل مذ کور په وجود ذ هني کي او مؤخروي په وجود خارجي کي لکه: ضربته تاد یبا. د لته تادیباً په تصور کي مخکي دي او په وجود کي ترفعل مذ کور وروسته دي.

۵ـ ضابطه: مفعول له به منصوب وي په تقد یر دلام سره دلاندي شرطوسره :

۱ـ دا مفعول له به مصدر وي.۲ـ علت د فعل مذ کور به وي.

۳ـ متحد د فعل مذ کور سره به په زمانه کي وي.

۴ـ متحد به وي د فعل مذ کور سره په فاعل کي. که د غه څلور شرطونه موجود نه وه کلا او یا بعضا بیایی په وروسته ضابطه کي حکم ذ کر دي.

۶ـ ضابطه: که دا څلور واړه شرطونه معا موجود وو دا مفعول له به خالي نه وي:۱ـ یا به متلبس با للا م وي.۲ـ یا به مجرد عن اللا م والاضافت وي.۳ـ یا به مضاف وي.

۷ـ ضابطه: که مفعول له مجرد عن اللا م والاضافت وو بیا نصب مختار دي اوجر جائز دي لکه: ضربت تادیبًا مختار، ضربت للتادیبٍ جائزاً.

۸ ـ ضابطه: اوکه متلبس باللا م وو نوجر مختار، اونصب جائز دي لکه: ضربت للتاد یبٍ مختار ضربت للتاد یبَ جائز .

۹ـ ضابطه: که مفعول له مضاف وو نو نصب او جر دواړه جائز دي لکه : «لا تقتلوا اولاد کم خشیة املا قٍ» .۲ـ خاشعاً متصدعاً من خشیةِ الله .

قوله : وحال اسمیست نکره:

ترجمه: او حال هغه نکره اسم دي چي دلالت کوي پر هیئت او حالت د فاعل او مفعول لکه: راکباً په جاء زیدٌ راکباً .

تشریح : حال هغه اسم دي چي بیان د ذوالحال کوي او ذوالحال به یا فاعل وي او یا مفعول لکه جا ئني زیداً راکبا، یا به مفعول وي لکه: ضربتُ زیداً مشدوداً

اوکله به د د واړو بیان کوي.

## حال پر دوه قسمه دي:

۱ـ ضابطه: حال پر دوه قسمه دي:۱ـ مفرد . ۲ـ جمله .

جمله چي حال واقع سي شرط یي دادي۱ـ چي خبریه به وي.

۲ـ د فعل په شروع کې به "سين"او"سوف" نه وي راغلي احترازي
مثال لکه :إني ذاهب الى ربي سيهد ين.
۳ـ د حال د ذوالحال سره ربط ضروري دي خواهي په ضمير سره وي او که په واو سره وي او که په دواړو سره وي اتفاقي مثال لکه : خرجوا من د يارهم وهم ألوف".

حال چي جمله راځي دا بيا پر دوه قسمه ده : ۱ـ فعليه .۲ـ اسميه .

جمله اسميه بيا پر دوه قسمه : ۱ـ جمله اسميه مثبته .۲ـ جمله اسميه منفيه .

جمله فعليه چي حال واقع سي هم پردوه قسمه ده:۱ـ جمله فعليه ماضيه.۲ـ جمله فعليه مضارعيه.

بيا هر واحد د دي څخه پر دوه قسمه دي: ۱ـ مثبه .۲ـ منفيه .

۲ـ ضابطه: که چيري ترفعل وروسته اسم فاعل او يا مفعول منصوب راسي عام طور د غه اسم فاعل او مفعول حال واقع کيږي په دي شرط چي د افعال ناقصه څخه وروسته نه وي ځکه هغه بيا خبر کيږي مثال لکه : وكان الله شاكراً عليماً
اود افعال قلوب څخه به وروسته هم نه وي اوکه وي هغه بيا مفعول واقع کيږي لکه:علمت زيداً فا ضالاً.

۳ـ ضابطه: حال هميشه نکر هوي.

۴ـ ضابطه: ذوالحا ل اکثر معرفه وي که ذوالحال نکره وي نو شرط يی دادي چي نکره مخصصه به وي او د هغه د پاره اوه صورتونه دي:
۱ـ تقد يم د حال يعني د حال مقد م کول پرذوالحال باندي واجب دي لکه: في الدار جالسًا رجلٌ".
۲ـ کله به يی تخصيص په صفت سره راغلي وي لکه : ولمَّا جاء هم رسول من عند الله مصدقٌ لما معهم نبذا".
۳ـ کله تخصيص په اضافه سره راغلي وي لکه :" في اربعة ايام سواء للسائلين".
۴ـ کله تخصيص په حرف نفي سره راغلي وي لکه : "وما اهلكنا من قرية الا ولها كتاب معلوم".
۵ـ کله په حرف استفهام سره راغلي وي لکه : "هل أتاک رجلٌ راكبًا".
۶ـ کله چي ذوالحال نکره مستغرقه راسي يعني پر ټولو افرادو محيط وي يعني احاطه يي کړي وي لکه: فيها يفرق كلُّ أمر حكيم أمراً من عندا".
۷ـ کله حال دا سي جمله وي چي مقرون با لواو وي نو هلته هم ذوالحال نکره واقع کيداي سي لکه: "أوكل الذي مرعلى قرية وهي خاوية على عروشها".

## حال به مشتقي وي که چيري جامد واقع سی الخ

۵ـ ضابطه: حال به مشتقي وي که چيري جامد واقع سی نو تاويل به ځندي کيږي په مشتقي سره د دي د ري صورتونه جوړيږي:۱ـ چي حال جامد وي پر تشبيه دلالت کوي
لکه:"مررتُ بالجارية قمراً" اي مضيئةً".
۲ـ کله پرمفاعله باندي دلالت کوي لکه :" بِعْتُه يداً بيدٍ" اي متقابضين".
۳ـ کله پر ترتيب باندي دلالت کوي لکه : "اُدْخلوا رجلاً " اي مترتِبَينِ".

## حال پر څوارلس قسمه دي

۶ـ ضابطه: د حال اقسام

حال پر څوارلس قسمه دي:
١ـ حال حقيقيه: چي حال د خپل ذوالحال حالت بيان کړي لکه :"جائني زيدٌ راکباً".
٢ـ حال سببيه: چي حال د ذوالحال د متعلق حالت بيان کړي لکه :" مَرَرْتُ بِالدَارِ قَائِماً سُکَّانُها".
٣ـ حال مقارنه: چي د ده او د ذوالحال دعا مل زمانه سره مقارنه وي
لکه :"ألم يروا إلى الطّير مسخرات في جوِّ السماء".
۴ـ حال مقدره: چي د حال او د عامل د ذوالحال زمانه سره مقارنه نه وي
لکه : "أُد خلوها خالد ين". خالد ين حال دي د اخلو د ضمير څخه د دوي دواړو زمانه سره مختلفه ده ځکه د خول مقدم دي پر اعتبار د زمان د خلود باندي.
۵ـ حال مشتقه: چي مشتق وي لکه: "جائني زيدٌ راکباً".
۶ـ حال جا مده: چي حال جامد وي لکه: "فتمثل لها بشراً سوياً".
٧ـ حال لزوميه: چي د ذوالحال څخه هيڅکله نسي جلا کيدي لکه : " رَضِيتُ بالله رَبًّا" ربا حال دي د لفظ دالله څخه او د لفظ د الله څخه هيڅ کله هم نسي جلا کيداي.
٨ـ حال منتقله: چي د ذوالحال څخه جلا کيداي سي لکه : "جائني زيدٌ راکبًا".
٩ـ حال مبينه: چي د ماقبل د مضمون وضاحت کوي لکه: جائني زيدٌ راکبًا".
١٠ـ حال مؤکده: چي د ماقبل تاکيد کوي اود دي څلور شکلونه دي:
١ـ کله د ذوالحال تاکيد کوي لکه: "لآمن من في الارض جميعاً".
٢ـ کله بيا دعامل تاکيد کوي لکه : "ولي مُد براً".
٣ـ کله د جملي د مضمون تاکيد کوي لکه: "زيدٌ ابوک عطوفًا".
۴ـ کله د ذوالحال د معنا تاکيد کوي لکه : "ألم يرو الى الطير مسخرات في جوّ السماء".
١١ـ حال مقصوده : چي مقصود بالذات حال وي لکه : "ألم يرو الى الطير مسخرات في جوّ السماء".
١٢ـ حال مؤطئه: هغه حال جامده دي چي په اعتبار د خپل صفت سره حال وي
لکه : "فتمثل لها بشراً سوياً".
١٣ـ حال مترادفه: چي د يو ذوالحال څخه متعد د حالونه واقع کيدي سي لکه: "سرْ راشداً مهد ياً".
١۴ـ حال متداخله: چي اول حال د ذوالحال څخه واقع سوي وي، او دوهم حال د ذوالحال څخه نه وي واقع سوي بلکي د اول حال د ضمير څخه واقع سوي وي لکه : "جائني زيدٌ راکباً فا ضلاً".

## عامل د حال او د هغي اقسام

٧ـ **ضابطه**: عامل د حال:عا مل د حال کله فعل وي، اوکله شبه فعل وي، او کله معنى د فعل وي او د معنا د فعل څخه مراد دغه لاندي لس شيان دي: ١ـ اسم الفعل لکه :"صه ساکتاً، نزال مسرعاً".
٢ـ اسم الاشاره لکه : " هذا بعلي شيخاً".
٣ـ ادوات تشبيه لکه : " کَاَنَّ سعيداً، مقبلاً ، اسدٌ".
۴ـ ادوات تمنى لکه :"ليت السرور دائماً عندنا".
۵ـ ادوات ترجي لکه : "لعلک مدّعياً على حقٍّ".
۶ـ ادوات استفهام لکه : " ماشانک واقعاً فمالهم عن التذ کرة معرضين".
٧ـ حرف التنبيه لکه : ها هو ذا البد رطالعاً".

۸ـ جارمجرو لکه : "الفرس لک وَحْد ک".
۹ـ ظرف لکه : " لد ينا الحق خفَاقاً لواءه".
۱۰ـ حرف نداء لکه : " ياايها الربع مبکيًّاً بساحته".
قوله: وتميز اسميست که رفعه ابهام کند ازعدد.

ترجمه : تميز هغه اسم دي چي رفع د ابهام کوي دعدد ښخه يا د زون ښخه او يا د کيل ښخه او يا د مساحت ښخه .

تشريح: تميز په لغة کي جلا کولو ته وايی او په اصطلاح کي تميز اسم نکره ده چي په د سره رفع دابهام کيږي د ذات ښخه او يا د نسبت ښخه په جمله کي.

## تميز پر دوه قسمه دي

۱ـ ضابطه : تميز پر دوه قسمه دي: ۱ـ رفع د ابهام به کوي د ذات ښخه .۲ـ رفع د ابهام به کوي د نسبت ښخه .

اول ته مفرد وايي او دوهم ته جمله وايي.

## د اسم مبهم اقسام

۲ـ ضابطه : د اسم مبهم اقسام: د کم شي ښخه چي رفع د ابهام په کيږي هغه پرينځه قسمه دي:
۱ـ عد د.۲ـ مقدار.۳ـ شبه مقد را.۴ـ قائمقام مقادير.۵ـ فرع التميز.

اول عد د دي: اسم مبهم په شکل دعدد کي وي . اوعد د بيا پخپل کور کي پردوه قسمه دي:
۱ـ عد د صريحي (يعني چي صريح عد د پکښي ذ کروي) لکه: "رئيت احد عشر کوکبا"
د لته احد عشر اسم مبهم دي کوکبا ورته تميز دي.
۲ـ عد د غيرصريحي وي لکه :"کَمْ کِتَاباً عند ک،عندي کذا کتابا". او تميزد ده ښخه رفع د ابهام کوي.

دوهم مقدار دي: چي اسم مبهم په شکل د مقدار کي وي او تميز د د ښخه رفع د ابهام کوي، او په مقدار کي ځلو رصورتونه دي:
۱ـ مساحت: يعني په پيمائش کي وي لکه:"عندي شبراً ارْضاً".
۲ـ کيل: لکه:" عندي قفيزان براً". قفيزان اسم مبهم دي بر ورته تميز دي.
۳ـ وزن لکه:" عندي رطل زيتاً". رطل اسم مبهم دي زيتا ورته تميز دي..
۴ـ مقياس: لکه" عندي ذِ راعٌ ثوباً".

مقياس تعريف:هغه آله ده چي په هغه سره د يوشي قياس اواندازه معلوميږي لکه:گز،ميټر وغيره.

د ريم شبه مقداردي : چي اسم مبهم په شکل د شبه مقدار کي وي
او په شبه مقدا ر کي هم ځلور صورتونه دي :۱ـ شبه مساحت :
لکه " ما في السماء قد ر راحة سحاباً". قد ر راحة اسم مبهم دي او سحابا ورته تميز دي.
۲ـ شبه وزن: لکه "فمن يعمل مثقال ذ رة خيراًيرهُ".
۳ـ شبه کيل :لکه " عندي رافودُ خَلاً".
۴ـ شبه مقياس :لکه " عندي مدَّ يد ک حبلاً، على تمرة مثلها زبداً".

تمرة اسم مبهم دي زبداً ورته تميز دي.

**څلرم قائمقام مقاديردي :** هغه اسم مبهم دي چي د تميز او تفسير محتاج وي لکه:"ولوجئنا بمثله مد داً".

**پنځم قسم فرع د تميزدي:** هغه اسم دي چي رفع د ابهام د فرع څخه کوي لکه :"عندي خاتم فضةٍ". خاتم فرع د"حد يد" ده يا "فضة" ذات دي په دي سره رفع د ابهام سوي ده چي گوتمي د سپين زرو ده نه د سرو زرو او وسپني.

**۴ـ ضابطه:** تميز چي د مفرد غير مقد را څخه واقع سي جر بنا براضافت اولی دي اونصب بنا تميز.

**۵ـ ضابطه:** تميز مجرور راځي په واسطه د من سره.

**ثم اعلم:** د دوهم قسم چي رفع د ابهام کوي د نسبت څخه

**تعريف:** داهغه دي چي د مبين او مفسر د يو مبهمي جملي د پاره وي، يعني په جمله کي چي کم نسبت د فعل وفاعل ته سوی وي هغه مبهم وي نو دي يي رفع د ابهام د نسبت څخه کوي لکه:" طاب زيدٌ نفساً".

**۶ـ ضابطه:** په دغه قسم کي به ذات مقدر وي چي "شئٌ" دي لکه په مذ کور مثال کي چي تقد ير يی داسي دي "طاب شيئٌ منسوب الی زيدٍ"، د لته مميز "شيئٌ" دي.

## تميزالنسبة پر دوه قسمه دي

**تميزالنسبة پر دوه قسمه دي:** ۱ـ محول.۲ـ غير محول.

**۷ـ ضابطه:** د تميز النسبة اول قسم پر د ري قسمه دي:۱ـ دا به محول د فاعل څخه وي يعني تميز په په اصل کي فاعل وي اوس تميز ځندي جوړ سوي وي لکه :" طاب زيدٌ نفساً".
په اصل کي "طابت نفسٌ زيد" وو نفس فاعل دي د طابت د پاره بياتميز ځندي جوړ سو.
۲ـ دا به محول د مفعول څخه وي يعني تميز به په اصل کي مفعول وي اوس به تميز ځند ي جوړ سوي وي لک : "فجرنا الارض عيوناً". په اصل کي فجرنا عيونا مفعول د فجرنا وو بيا تميز ځندي جوړسو.
۳ـ محول د مبتداء څخه به وي يعني په اصل کي به مبتداء وي اوس به تميز ځندي جوړسوي وي لکه :«وکان له ثمرة فقال لصاحبه وهو يحاوره انا اکثر منک ما لاً واعزُّ نفراً» مالاً او نفراً تميزي دی په اصل کي مبتداء وه تقد ير د ا رکم وو مالي اکثر منک.

**د تميز محول حکم:** دي به هميشه منصوبه وي او په "من" او اضافت سره دي مجرور ويل جا ئزنه دي.

**غير محول:** هغه دي چي په دي درو قسمو کي د چاڅخه محول نه وي لکه: "ملأْ تُ خزائني کتُباً". ماکرمک رجلاً"، "ولله درةّ فارساً"

**د تميزغيرمحول حکم:** پر تميز غيرمحول باندي نصب ويل هم جائز دي او په "من" سره مجرور ويل هم جائز دي لکه : "ولله درُّهُ فارساً"

**۸ـ ضابطه:** هغه تميز چي رفع د ابهام کوي د نسبت څخه دهغه عامل فعل اويا شبه فعل وي. (جامع الدروس العربيه).

۹- ضابطه: د تميز تقد يم اوعد م تقد يم پرخپل عامل باندي چي فعل اويا شبه فعل وي جائز دي اوکنه دي عند الجمهور لايجوز وعند المبرد والکسائي جائز دی.

## د تميز او حال اتفاق اوافترق

۱۰- ضابطه: د تميز او حال اتفاق اوافتراق :په پنځو شيانو کي اتفاق دي:۱- په اسميت کي.
۲- په نکارت کي.۳- په منصوب والي کي .۴- په فضليت کي يعني فضلوالي.۵- په رفع دابهام کي.
په اوه شيانو کي افتراق دي:۱- تميز رفع د ابهام د ذات څخه کوي، او حال رفع د ابهام د وصف څخه کوي.۲- حال جار مجرور،او ظرف واقع کيداي سي بخلا ف التميز.
۳- حال اکثر مشتق وي او تميز جامد وي .
۴- حال متعد د راتلاي سي ليکن تميز همشيه مفرد يعني يو وي.
۵- حال جمله راتلاي سی ليکن تميز مفرد وي.
۶- حال د خپل ذوالحال تأکيد کوي بخلا ف د تميز.
۷- حال ترخپل ذوالحال مقد م کيدای سي ليکن تميز نسي مقد م کيدي عند الجمهور.

## د تميز او وصف فرق

۱۱- ضابطه: د تميز او وصف فرق: تميز رفع د ابهام د ذات څخه کوي، او وصفت رفع د ابهام وصف څخه کوي مثلا کله چي يو سړي دوکاندار ته ورسي نو ورته ووايي چي لس منه راکړه د لته اوس په ذات کي ابهام دي چي غوړي غواړي اوکه ورجي او که بوره او غيره نو ترسو چي ذات ذ کرنه کړي نود مخاطب په ذهن کي شي مبهم وي نو په دغه صورت کي د ذات وذ کرته ضرورته دي چي رفع د ابهام وه کړي.
اوکله چي دوکاندار ته ووايي چي يوه ډ به غوړي راکړه اوس ذات متعين دي ليکن وصف يی نه دي معلوم چي حيات غوړي اوکه بله کمفني نوپه دغه صورت کي د وصف ذ کر کولو ته ضرورت دي.

قوله: مفعول به اسميست که فعل فاعل بروو واقع شود:

ترجمه : مفعول به يواسم دي چي فعل د فاعل پر ده واقع سوي دي لکه: ضرب زيدٌ عمرواً.
او يا تعلق د فعل د مفعول به سره وجودا وي لکه : اياک نعبد واياک نستعين.

# د لته څه خبره

۱- ضابطه: تناسب د فواصل کوي لکه: ما ودعک ربک وما قلی.
۲- ضابطه: ايجاز د پاره .
۳- ضابطه: تحقير د پاره.
۴- ضابطه: للتعميم د پاره.

## حذ ف دعامل د مفعول به يی پر دوه قسمه دي

۵- ضابطه: کله کله عامل د مفعول به حذ ف کيږي
خو دغه حذ ف يی پر دوه قسمه دي:۱- جوازي.۲- وجوبي.

د جوازي د پاره ځوصورتونه دي چي قرينه موجود وي
اوقرينه بيا پر دوه قسمه ده:۱ـ حاليه.۲ـ مقاليه
قرينه حاليه: لکه مکة يا شيخ اي تريد مكة يا شيخ .
قرينه پرحال د حاجي دي چي روان وبيت الله ته وي.
قرينه مقاليه : لکه په سوال د من ضربت. زيداً اي ضربت زيداً.

## حذ ف وجوبي دعامل پر دوه قسمه دي

۶ـ ضابطه: حذ ف وجوبي پر دوه قسمه دي:۱ـ قياسي.۲ـ سماعي.
۷ـ ضابطة: د حذ ف سماعي څلور مقامونه دي:۱ـ امرأة ونفسه اي اترک ونفسه.
۲ـ وانتهوا خيراً لكم اي انتهوا عن التثليث وهوخيرا لكم. ۳ـ اهلاً. ۴ـ سهلاً. اتيت اهلاً و وطيت سهلاً.
۸ـ ضابطه: حذ ف وجوبي قياسي شپږ مقامونه دي: ۱ـ منادي لکه يا عبد الله .
۲ـ تحذ يرکي لکه اياک من الاسد.
۳ـ ما اضمر عامله على شريطة التفسير لكه: زيداً ضَرَبْتُه اي ضَرَبْتُ زيداً ضربتهُ.
۴ـ په مقام د اغراء کي اغراء معنا مخاطب ته د يوښه کارتنبيه ورکول چي مخاطب هغه کار لازم ونيسي لکه: اخاک اخاک اي الزم.
۵ـ على سبيل مدح والذم لکه بسم الله الرحمن الرحيم بالفتحه اى امدح الرحمن الرحيم.
۶ـ په منصوب على سبيل التخصيص يعني د"اَخُصُّ" فعل محذوف د پاره مفعول به وي :
دا بيا په پر څلور قسمه دي: ۱ـ کله چي د ضمير د متكلم څخه وروسته يو اسم معرف با للام راسي لکه : نَحْنُ العَرَبَ اَكْرَمْنَا النَّاسَ اي نَحْنُ اَخُصُّ الْعَرَبَ"
۲ـ کله چي د ضمير د متکلم څخه وروسته يو اسم مضاف ومعرف با للا م ته وي لکه : نحن مَعَا شَرَ الاَنْبِيَاءِ" اي نحن معا شر الانبياء.
۳ـ کله چي د ضميرمتكلم وروسته اي راسي لکه نحن اَفْعَلُ كذا اَيُّهَا الرَّجُلُ" اي نحن افعل كذا اخص الرجل.
۴ـ چي کله د ضمير مخاطب څخه وروسته يو اسم معرف با للام راسي لکه : لک الله نرجو الفضل" اي اخص الله نرجوالفضل.

## د مفعول به تقد يم پر فعل او فاعل باندى وجوبا

۹ـ ضابطه: د مفعول به تقد يم پر فعل او فاعل باندى وجوبا يعني په اته ځآيو کي تقد يم دمفعول پر فعل او فاعل باندي واجب دي : ۱ـ مفعول به چي کله متضمن وي معنى د شرط لره لکه :"مَنْ تضرب اَضْرِبْ".
۲ـ مفعول به چي کله مضاف وي وشرط ته لکه : "غلا م مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ".
۳ـ چي کله متضمن و ي معنا د استفهام لره لکه : من رأيتَ".
۴ـ چي کله د استفهام وطرفته مضاف وي لکه : غلام من رأيتَ".
۵ـ کله چي د مفعول به ناصب جواب د "امَّا" وي لکه : فَاَمَّا اليتيمَ فلا تقهر".
۶ـ کله چي د مفعول به نا صب فعل امر مقرون با لفاء وي لکه : زيداً فاضربْ".
۷ـ کله چي مفعول به د"كم" يا "كايِّنْ" خبريه معمول وي لکه :كم غلام ملكتُ كاين من علم حويت".

۸- ياو"كم" خبريه ته مضاف وي لكه :" ذَ نْبَ كمْ مذ نِبٍ غفرتُ".
فصل بدانكه: فا عل بردو قسم است.

ترجمه: هركله چي مصنف فارغ سو د بيان څخه د نفس فاعل د فعل نو يي شروع وكړه په بيان د اقسامو د فاعل كي نو وي ويل چي

## فاعل پر دوه قسمه دي

فاعل پر دوه قسمه دي: ۱- اسم ظاهر لكه: په ضرب زيدٌ كي زيد.۲- مضمر.
او مضمر بيا په خپل كور كي پر دوه قسمه دي: ۱- بارز لكه په ضربتُ كي.۲- مستتر لكه: په ضرب كي چي "هو" پټ دي .

۱- **ضابطه**: د ضمائرو څخه ماسوي نور ټولو اسماؤ ته اسم ظاهروايي.

۲- **ضابطه**: فاعل چي اسم ظاهروي نو فعل به د هميشه د پاره مفرد وي عام ترديي كه فاعل تثنيه وي او كه جمع وي لكه:" قام زيدٌ. قام الزيدان، قام الزيدون".

۳- **ضابطه**: كه فاعل ضمير وي نو بيا مطابقت واجب دي لكه:" زيدٌ قام".

۴- **ضابطه** : ضمير مرفوع چي د خپل عامل سره پيوست راځي هغه پر دوه قسمه دي:
۱- بارز."معنى ظاهر ښكاره .۲- مستتر" معنى پټ.

۵- **ضابطه**: ضمير بارز مرفوع متصل د ماضي په دولس صيغو كي راځي او صرف په دوو صيغو كي پټ وي هغه دوي۱- واحد مؤذ كرلكه: "ضرب ".۲- واحده مؤنثه لكه:" ضربت".
چي په اول كي "هو" او په دوهم كي "هي" پټ دي.
د دي نور بيان په ضمائروكي تيرسوي دي.

۶- **ضابطه**: كله كله كلا م د فعل څخه شروع سي اوضمير ورپوري متصل نه وي نوفاعل د دي به اسم ظاهر وي لكه:" خَتَمَ اللهُ على قُلُوْبِهِمْ. ضَرَبَ اللهُ مثلاً رجلاً".
اوس كي چيري فعل د كلا م په مابين كي راسي نو بيا به يي فاعل ضمير وي او مبتداء ته به راجع وي لكه: "اللهُ يَبْسُطُ اَلرِّزْقَ". اوس په يبسط كي ضمير پټ دي او مبتداء ته راجع دي.

۷- **ضابطه**: كه چيري فعل په مابين د كلا م كي راسي بيا شپږ مطالبه لري : ۱- خبر د مبتداء لكه په مخكي مثال كي.
۲- صله د پاره د موصول. ۳- صفت د پاره موصوف.۴- يا حال د ذوالحال د پاره .
۵- يا معطوف پر معطوف عليه.۶- يا حكما څه قرينه موجود وي مخكي.

## دلته څه خبره ده

قوله : قسم دوهم مجهول:

تشريح:هركله چي مصنف فارغ سود بيا ن څخه د فعل معلوم نو يي شروع وكړل په بيان د فعل مجهول.

**د فعل مجهول تعريف**: د يته وايي چي د ده فاعل معلوم نه وي او د ده نسبت ونائب فاعل ته سوي وي( يعني ومفعول ته، اومفعول د فاعل پرځاي ولاړه وي لكه:" ضُربَ زيدٌ".
د دي هم څلورنومان دي.۱- فعل مجهول.۲- غيرمعروف.۳- مبني للمفعول.۴- فعل مالم يسم فاعله.

سوال: مفعول به څنګه پرځايي د فاعل ود ريږي ځکه فاعل عمده وي او مفعول خوفضله وي؟
جواب: مفعول قائم دي پر ځاي د فاعل په اسناد د فعل ود ته هر کله چي يوشي پر ځاي د بل شي و د ريږي نو حکم دهغه شي اخلي.

## عمل د فعل مجهول

۱ـ **ضابطه:** فعل مجهول پرځاي د فاعل ومفعول ته رفع ورکوي او نور مفعولو ته نصب ورکوي کم چي د فعل معلوم په بيان کي ذ کر سوي دي.

۲ـ **ضابطه:** د فعل مجهول د پاره کم شيان نائب فاعل واقع کيد لي سی:
۱ـ ترټولو زيات په اوله د رجه کي لائق هغه مفعول به دي ځکه هغه فعل ته قريب دي لکه:"ضرب زيدٌ.
۲ـ مفعول مطلق، که مفعول به نه وي، او د دي شرط دادي چي دي به فعل متصرف وي احترازي مثال لکه: " سبحان معاذَ." اواتفاقي مثال لکه :" وُقفَ وُقوفٌ طويلٌ".
۳ـ ظرف، که مفعول مطلق هم نه وي، د دي دوه شرطونه دي :۱ـ متصرف به وي احترازي مثال لکه:"عندي لدى، قبل، بعد".
۲ـ پرمحدود زمانه باندي به دلالت کوي احترازي مثال لکه :"حين دهر".اتفاقي مثال لکه:"مُشيَ يومٌ کاملٌ".
۴ـ که ظرف نه وي بيا جار مجروردي، د دي د پاره دوه شرطونه دي:
۱ـ دوي به هغه جار نه وي چي داستثناء د پاره راځي احترازي مثال لکه :"حاشا، خلا،عدا".
۲ـ علت والا معنا به نه وي پکښي احترازي مثال لکه:"وُقِفُ لک وُقِفَ من اجلکَ". چي کله لام جاره وي او من دعلت د پاره وي، اتفاقي مثال لکه :"يومَ يُكْشَفُ عن ساقٍ".

فصل بدانکه فعل متعدي بر چها رقسمه :

تشريح:مخکي ذ کر د فعل لازمي وو اوس يي شروع وکړل په بيان د فعل متعدي.
او فعل متعدي يواځي په فاعل سره نه تماميږي بلکي مفعول به هم غواړي.
نوټ: د دي تعريف مخکي تير سوي دي.

## فعل متعدي په اعتبار د تعد يت پر د ري قسمه دي

۱ـ **ضابطه:** فعل متعدي په اعتبار د تعد يت پر دري قسمه دي:۱- متعدي و يومفعول ته .
۲ـ متعدي ود وو مفعولو ته .۳ـ معتدى و درو مفعولوته . او ترد ي و زياته نه متعدي کيږي.

۲ـ **ضابطه:** کم فعل چي متعدي ود وو مفعول ته د ا بيا پر دوه قسمه دي :۱ـ متعدي ومفعولينوته او دوهم مفعول د اول څخه مغا ير وي لکه: اعطيت زيداً دِرهماً.
اوس تقد يم د مفعول اول پر ثاني باندي اولى دى.

## مفعول ثاني د باب د اعطيت په اعتبارد تقد يم سره

۳ـ **ضابطه** : مفعول ثاني د باب د اعطيت په اعتبارد تقد يم سره پرمفعول اول باندي پردري قسمه دي: ۱ـ واجب التقد يم.۲ـ جائز التقد يم.۳ـ ممتنع التقد يم.

تقد يم د مفعول الثاني واجب دي پر مفعول اول باندي په درو ځايوكي : ١ـ عند الخوف اللبس لكه: "اعطيت زيداً عمرواً".
٢ـ مفعول اول محصور وي په ثاني پوري لكه : "ما اعطيت زيداً الا درهماً".
٣ـ چي مفعول الثاني اسم ظاهر وي او اول ضمير وي لكه :" اعطتيک درهماً".
**٤ـ ضابطه:** چي معتدي ويو مفعول ته وي هغه پر دوه قسمه : ١ـ جائز التعدى . ٢ـ لازم التعدى.
بيا لازم التعدي پر دوه قسمه دي:١ـ بلا واسطه. ٢ـ بالواسطه.
**٥ـ ضابطه:** هغه فعل متعدي ودوو مفعولوته چي اكتفا يي پر يوه مفعول جائز وي هغه په حقيقت كي مبتداء او خبر نه وي ځكه كه مبتداء او خبر وي بيا يى اكتفاء پر يوه مفعول جائز نه وه.

## دافعال قلوب تعريف

د ا هغه افعال دي چي دهغه تعلق د انسان د ظاهري اندامو سره نه وي بلكي د زړه سره وي.

## دافعال قلوب تعداد

**٦ـ ضابطه:** افعال قلوب ١۴ دي مګر د غه شپږ زيات مشهوردي نوځكه خللګ دا ذ كركوي فقط:
١ـ ظننت.٢ـ حسبت.٣ـ خلت.۴ـ زعمت.۵ـ علمت.۶ـ رايت.٧ـ وجد ت.٨ـ عد بمعنى ظن.٩ـ حجا بمعنى ظن.١٠ـ درىٰ.١١ـ جعل.١٢ـ وهب.١٣ـ تعلم.١۴ـ اتقول بمعنى اتظن.

## افعال قلوب چي متعدي كيږي ودرومفعول ته دا پرڅلورقسمه دي

**٧ـ ضابطه:** دغه افعال قلوب چي متعدي كيږي و د رو مفعول ته دا پرڅلورقسمه دي: ١ـ چي د يقين په معنى سره وي: هغه څلور دي:" ١ـ وجد.٢ـ درى.٣ـ الفى.۴ـ تعلم" بمعنى اعلم يا پنځه هغه يي تعلم دي.
دوهم قسمه: د ظن په معنى راځي غالبا هغه بيا پنځه دي: ١ـ جعل.٢ـ حجا.٣ـ عدّ.۴ـ وهب.۵ـ زعم.
دريم قسم: د يقين او ظن دواړو په معنى سره راځي ليكن يقين پكښي كثيرالاستعمال وي هغه صرف دوه لفظونه دي:"١ـ درى.٢ـ علم".
څلرم قسم چي د دواړو په معنى سره مستعمل وي ليكن ظن پكښى غالبه وي هغه دري دي لكه :١ـ ظن. ٢ـ حسب. ٣ـ خال.
دوهم قسم:هغه دي چي متعدي وي ودوو مفعول ته،او دوهم مفعول متحد وي د مفعول اول سره مصدا قاً.
دا بيا پر دوه قسمه دي:١ـ افعال قلوب. ٢ـ افعال التحويل،اوياتصيير.

## افعال تصييريا تحويل

**تعريف:**داهغه افعال دي چي په معنا د"صيَّر" سره راځي.
د افعال صيَّر تعداد افعال د تصير اوه ـ٧ـ داني دي:لكه:"جعل،رد، ترک ـ اتخذ ـ خذ ـ صبرـ وهب.
**حكم د دي افعالو د ري حكمونه دي:**
**٨ـ ضابطه:** دغه افعالو د پاره د ري احكام دي لكه: تنوير ملا وايى: ١ـ حكم: اعمال دي چي دغه افعال عمل وكړي ځكه اصل په عمل كي فعل وي.

۲ـ حکم: ملغی عن العمل لفظاً او معنا عمل باطل سي.
بیا دا پر دوه قسمه :۱ـ چي فعل په ما بین کي راسي لکه زیدٍ ظننت قائمٌ . ۲ـ فعل د دواړو څخه وروسته راسي لکه :" زیدٌ قائمٌ ظننتُ".
د ریم حکم: لفظاً عمل با طل سي معنا عمل باقي وي دا به هلته سي چي دهغو پرمعمولاتو باندي دغه امور دا خل سي لکه لام د مبتداء ، لام د قسم، حرف نفي، ان چي د قسم په جواب کي راځي.
۹ـ ضابطه: دا افعال قلوب پر مبتداء او خبر باندي دا خلیږي هغه ته نصب ورکوي بنا بر مفعولیت لکه:" ظننت زیداً عالماً.
فصل بدانکه افعال ناقصه هفده اند:

## فعل پر دوه قسمه دي

تشریح : فعل پر دوه قسمه دي: ۱ـ فعل تام. ۲ـ ناقص.
تام تعریف: هغه د ي چي یواځي په فاعل سره تامیږي لکه:ضرب زیدٌ نصر زیدٌ.
اوس ضرب ونصر فعلونه دي او زیدٌ یي فاعل دي مفعول ته محتاج نه دي.
فعل ناقص تعریف: هغه دي چي یواځي په فاعل سره نه تامیږي بلکي وروسته ته محتاج چي خبر دي لکه: کان زیدٌ قائمٌ، او صارزیدٌ قائماً.
سوال: فعل نا قص د یته وایي چي لام پر کلمه باندي حرف علت وي لکه: دعی رضی او په کان او صارکي حرف علت نسته نو څنګه نا قص دي؟
جواب: ناقص پر دوه قسمه دي: ۱ـ لفظي . ۲ـ معنوي.
لفظي: چي دلام په کلمه کي حرف علت وي کم چي صرفیان ورځخه بحث کوي.
معنوي: د یته وایی چي په معنا کي نقص وي په فاعل سره نه تامیږی بلکي خبر ته محتاجه وي مراد هم دغه معنوي دي.
۱ـ ضابطه: د ا افعال ناقصه پر جمله اسمیه باندي دا خلیږي اول جز ته رفع ورکوي هغه ته اسم دافعال نا قصه وایی او دوهم جزته نصب ورکوي هغه ته خبر د افعال نا قصه وایی.
۲ـ ضابطّه: اول د افعال ناقصه څخه کان دي او کان د کون ماضي ده او د دي باب ټول مشتقات هم دغه عمل کوي او کان پر دري قسمه دي: ۱ـ کان ناقصه. ۲ـ کان تامه .۳ـ کان زائده.
کان ناقصه د یته وایي چي ثابته وي خبراسم خپل لره په زمانه ماضي کي
دا بیا پر دوه قسمه دي:۱ـ دائمي. ۲ـ غیر دائمي.
دائمي معنی چي خبر داسم څخه نه جلا کیږي لکه « وکان الله عفوراً او رحیماً»
غیر دائمي چي خبر داسم څخه جلا کیږي لکه کان زیدٌ قائماً.
کان تامه د یته وایی چي فقط په اسم تامیږي خبر ته محتاج نه وي.
سوال: علا مه د کان تامه څه ده؟ جواب: علا مه یي دا ده چي کان په معنا د ثبت ـ وجد ـ حصل ـ د خل سره وي. لکه : "قد کان مطراً اي وجد مطراً وثبت)

کان زائده د ېته وايي چي په کلا م کي به زائد وي عمل به نه کوي صرف تحسين د کلا م د پاره به وي: لکه قد کان من مطرٍ. «کيف نکلم من کان  في المهد صبياً»

## کان په اعتبار د حذ ف پر د ري قسمه دي

۳ـ ضابطه: کان په اعتبار د حذ ف پر د ري قسمه دي: ۱ـ قسم :حذ ف د کان بيله اسم وخبر دا مشروط دي.
په پنځو شرطوسره :۱ـ چي صله واقع سي د ان د پاره.۲ـ چي دا خل سي پر ان حرف تعليل باندي.
۳ـ چي مقد م سي علت پر معلول باندي. ۴ـ حرف جر حذ ف سي. ۵ـ چي کان په بما لفظ سره راسي.
۲ـ قسم: چي حذ ف د کان سره د اسم اوسره د بقاء د خبر دا جائز دي،
او واجب نه دي شرط دا دي چي کان به پر "ان" او "لو" شرطيه باندي مقد م وي لکه:په حد يث شريف کي راځي « الناس مجزيون باعمالهم ان خيراً فخيراً وان شراً فشرٌ» تقد ير د عبارت دا رکم دي "ان کان عملهم خيراً فجزاؤهم خيرٌ وان کان عملهم شراً فجزاؤهم شرٌ".

## حذ ف د نون د کان ځخه

۳ـ قسم: حذ ف د نون دي د کان دا هم مشروط دي په څو شرطو سره :
۱ـ چي په لفظ د مضارع سره به وي دا کان .۲ـ مضارع به مجزوم وي.
۳ـ چي کان به د نون ساکنه څخه وروسته نه وي واقع.
۴ـ د کان څخه وروسته به ضمير متصل واقع وي لکه:" لم يک من المشرکين ولم اک بغيا".
۴ـ ضابطه: کله کله کان په لفظ کي حذ ف سوي وي اوعمل يې باقي وي لکه:" ان خيراً فخيراً".
په اصل کي "ان کان عمله خيراً فجزاؤه خيراً".
۵ـ ضابطه: د کان خبر په دوو صورتو کي ماضي راځي : ۱ـ چي پر خبر باندي قد دا خل وي لکه: کان زيدٌ قد رکب".
۲ـ د کان څخه مخکي حرف شرط راغلي وي لکه « ان کان قمصه قد من دبرٍ»
۶ـ ضابطه: تقد يم د خبرپر اسم د افعال نا قصه باند ي جائز دي ځکه فعل قوي العمل دي مع الترتيب او بلا ترتيب عمل کول لای سي.
۷ـ ضابطه: د غه افعال په اعتبار د عمل پر دري قسمه دي:۱ـ بلا شرط عمل کوي هغه اته ـ۸ـ داني دي. د کان څخه بياتر ليس پوري.
۲ـ عمل کوي سره د شرط يی دا دي چي "نفي" يا "نهي" اويا "دعاء" باندي دا خلي وي هغه د غه ځلورداني دي:۱ـ انفک.۲ـ فتی.۳ ـ برح.۴ـ زال.
۳ـ شرط دادي چي "ما" مصدريه ظرفيه به باندي دا خل وي هغه دام دي.

## افعال ناقصه په اعتبار د تصرف، اوعد م تصرف

۸ـ ضابطه: افعال ناقصه په اعتبار د تصرف، اوعد م تصرف پر دري قسمه دي:۱ـ چي دوي هيڅ کله متصرف نه واقع کيږي او د دوي څخه مضارع، او امر.نه راځي هغه دوه داني دي:۱ـ ليس.۲ـ دام.
۲ـ هغه دي چي دوي متصرف تام واقع کيږي،او د دوي څخه افعال ثلا ثه راځي:۱ـ ماضي.

۲- مضارع.۳- امر.

هغه اوه -۷- داني دي: ۱- كان.۲- صار.۳- اصبح.۴- امْسى.۵- اضْحى.۶- ظلَّ.۷- بات.

۳- هغه دي چي متصرف ناقصه واقع كيږي يعني د دوي څخه صرف ماضي،اومضارع راځي نه بل ځوک، هغه څلور داني دي:"۱- مازال.۲- ماانفک.۳- مافتي.۴- مابرح.

قوله : افعا ل مقاربه چهاراست :

ترجمه: پوه سه افعال مقاربه څلوردي عسى كاد ، كرب، او شک.

## د افعال مقاربه تعريف او احكام

د ا افعال پر جمله اسميه باندي دا خليږي لكه كان اسم ته رفع وركوي او خبره ته نصب وركوي.

**تعريف:** دا هغه افعال دي چي دوي وضع سوي دي د دي خبري د ښكاره كولو د پاره چي د خبرحصول فاعل لره قريب دي يعني د يو فعل قريب والي ښكاره كوي لكه:" كاد زيدٌ ان يأكل الد جاجة".( قريبه ده چي زيد به چرګه وخوري)

تشريح:افعال مقاربه په عمل كي دافعال ناقصه په شان دي ليكن لږ فرق يى سته هغه دا چي افعال ناقصه خبرعا م دي كه مفرد وي او كه جمله او جمله عامه ده اسميه وي او كه فعليه او فعليه عامه دي كه ماضي او كه مضارع وي

**۱- ضابطه:** افعال مقاربه څلور دي: ۱- عسى. ۲- كاد.۳- كرب.۴- اوشک.

**۲- ضابطه:** افعال مقاربه به عوامل وي.

**۳- ضابطه:** او عواملي لفظي به وي.

دا افعال پر جمله اسميه باند ي د ا خليږي او اسم ته رفع وركوي او خبر ته نصب وركوي.

## د ا افعال په اعتبار د معنى پر دري قسمه دي

**۴- ضابطه:** د ا افعال په اعتبار د معنى پر دري قسمه دي: ۱- رجائي.۲- حصولي.۳- خذي.

د رجائي د پاره الفاظ د ري دي: ۱- عسى.۲- حري.۳- اخلولق.

معنى اميد د متكلم د خبر او د حصول ليكن يقين يي نه وي.

دوهم حصولي: هغه دي چي دلالت كوي پرقرب د خبر د دي د پاره الفاظ هم دري دي :۱- كاد. ۲- كرب. ۳- او شک.

د ريم د اخذي: معنى چي دلالت كوي پر شروع د مسمى پر اسم باندي خبر لره چي په دوي كي د حصول يقين وي ليكن متكلم دا ښكاره كول غواړي چي فاعل د تحصيل خبر د پاره كوشش شروع كړي دي د دي د پاره الفاظ ډ ير دي ما بقيه بنا پر اختلاف دي.

## افعال مقاربه په اعتبار د خبر سره پرڅلور قسمه دي

**۵- ضابطه:** افعال مقاربه په اعتبار د خبر سره پر څلور قسمه د ي:۱- خبر د كاد او كرب فعل مضارع راځي بغير ان غالبا او مع ان راځي على سبيل القلة .

۲- د عسى او د او شک د مضارع مع ان غالبا اوبغير دان راځي على سبيل القلة.

۳- خبر د "حرى" او د "اخلولق" فعل مضارع راځي مع ان دا ئمًا

۴- خبر د "انشأ" "طفق" "جعل" ،"اخذ"، "علق".
بغیر د فعل مضارع راځي بدون د ان د ا ئماً.

## فرق په مابین د افعال مقاربه او نا قصه کي

**۶- ضابطه:** فرق په مابین د افعال مقاربه او نا قصه کي دا دي چي دواړه دا خليږي پرجمله اسميه باندي ليکن فرق دا دي چي د افعال ناقصه خبراسم بلا تاويل غالباً وي اود افعال مقاربه خبر فعل مضارع سره د تاويل په مفرد سره .
دوهم فرق يي دا دي چي افعال ناقصه جمله اسميه خبريه وي او افعال مقاربه جمله انشائيه وي ځکه چي افعال مقاربه به د لعل په معنی سره وي.

فصل: بدانکه : افعال مدح وذم چهار ست:

**ترجمه:** پوه سه چي افعال د مد ح او ذ م څلور دي:

## د افعال مد ح او ذ م تعریف او احکام

**تعريف:** افعال د مدح او ذم هغه افعال دي چي وضع سوي وي د پاره د انشاء د مدح اود ذم.

**۱- ضابطه:** د ا څلور دي:۱-نعم. حبذا. د پاره د مدح دي. ۳-بئس او۴-ساء د پاره د ذم دي.

## فاعل د نعم او بئس او ساء پر دري قسمه دي

**۲- ضابطه:** فاعل د نعم او بئس او ساء پر دري قسمه دي: ۱-اسم جنس معرف باللا م .
۲- هغه اسم چي مضاف وي معرفه با للا م ته . ۳-ضمير مبهم په معنی د نکره منصوب سره.

**۳- ضابطه:** مخصوص بالمدح والذ م غالباً ذ کرکولي سي وروسته ترفعل او کله کله مخکي کولي هم سي په خلا ف د مخصوص د حبذا چي تقد يم د دي جائز نه دي.

**۴- ضابطه:** مطابقت د مخصوص د فاعل سره شرط دي په افراد او تثنيه او جمع کي او تذ کيراوتانيث کي په خلا ف د حبذا چي شرط نه لري.

**۵- ضابطه:** مخصوص بالمدح او ذ م حذ ف کولي سي په وخت کي د قرينه چي دال وي پرتعين د محذوف لکه:" نِعْمَ العبدُ اِنَّهُ اَوَاب ، فنِعْم الماهدون".

**۶- ضابطه :**نعم او بئس دواړه رفع ورکوي هغه معرفه با للا م ته يا مضاف وي معرفه باللام ته .

**۷- ضابطه:** نعم او بئس نصب ورکوي کله معرفه با للا م ته او مضاف نه وي.
او رفع ورکوي خبرته په کل حال کي مثال لکه : "نعم الرجلُ زيدٌ"، بئس غلا م رجل عمروٌ"، نعم غلا م الرجلُ عمروٍ".

فصل: بدانکه افعال تعجب دوصيغه ازهرمصدر ثلاثي مجرد باشد:

## د فعل تعجب تعریف او احکام

**تعريف:** دفعل تعجب هغه فعل دي چي وضع سوي دي د انشاء د تعجب د پاره.

**۱- ضابطه:** د دي د پاره دوي صيغي دي يوه پر وزن د مافعله باندي لکه:" مااحسنه".
اودوهم پر وزن دافعِل به باندي لکه:" احسن به، نور وزنونه نه لري.

۲- ضابطه: دا رڅي د ثلاثي مجرد څخه او د مزید او رباعي څخه نه راځي ځکه چي په دوي کي زیا د ت د حرف وي او په دي کي که زیاد ت د حرف راسي نو وزن د ثلا ثي به خراب سي.
۳- ضابطه: دا هغه مصدر ثلا ثي مجرد څخه نه راځي چي په معنی د عیب او لون سره وي ځکه چي په دي کي صفت مشبه راغلي دي نو بیا به التباس راسي او مخل د معنی دي.

## په ما احسن کي د ري مذهبه دي

۴- ضابطه: په ما احسن کي د ري مذهبه دي: ۱- د فرا دي چي ما استفهامیه په معنی دایٌّ شي دا مبتداء ده احسن زیداً فعل فاعل اومفعول به جمله خبر د مبتداء دي او جواب د استفهام محذوف دي یعني "شيءٌ عظیمٌ" مصنف هم دا مذهب مختار کړي دي.
۲- مذهب دامام سیبویه: دي هغه وایي ما په معنی شي موصوف صفت ورلره عظیم مقدر دي موصوف سره د صفت مبتداء "احسن زیداً" جمله خبریه خبر د مبتداء دي.
۳- مذهب اخفش: "ما" موصله "احسن زیداً" جمله خبریه صله د موصوله موصول سره د صلي مبتداء خبر یی محذوف دي تقد یر د عبارت د اسي دي "الذي احسن زیداً شيئ عظیم".
د دوهمي صیغي ترکیب: افعل به اي احسن بزید صیغه د امر حاضر ده په معنی د فعل ما ضي اي حسن فعل بازائده ده زید لفظاً مجرور معنی مرفوع فاعل فعلا سره د فاعل جمله فعلیه ده خبر .
۵- ضابطه: مااحسنه کي ما په اتفاق د مذاهبو ثلاثه سره مبتداء ده اختلاف په ما بعد کي دي.
۶- ضابطه: احسن فعل دي او که اسم په دي کي دوه مذهبه دي:۱- کوفیان وایي اسم د لیل ددي تصغیر راغلي ده په ما احیسنه.
بصریان: وایی د ا فعل دي ځکه د دي په اخیر کي چي یاء د متکلم او نون وقایه راځي د ا علامه دفعلیت ده ما افقرني الی رحمه الله تعالی.
۷- ضابطه: په دي دواړو صیغو کي تصرف نه سي کیدي هم دا وجه ده چي د دوي معمول پر دوي نه سي مقد م کیدي.

## د دي دوو صیغود استعمال اته ۸- شرطونه دي

۸- ضابطه: د استعمال د دي دوو صیغو اته ۸- شرطونه دي:۱- ان یکون ثلا ثیا مجرداً.
۲- ان یکون متصرفاً.۳- ان یکون معناه قابلاً للتفاضل.۴- ان یکون مبنیا للمفعول.۵- ایکون تاماً.
۶- ان یکون مثبتاً.۷- ان لایکون صفته علی افعل فعلاء.

باب سوم درعمل اسمائ عامله وان یازده قسم است:

اول اسمائ شرطیه بمعنی ان وآن نه است:

## عمل د اسماء عامله او دا یولس قسمه دي

ترجمه: دریم باب دي په بیان کي دعمل د اسماء عامله او دا یولس قسمه دي
اول اسماء شرطیه دي په معنی دان سره او دا نهه دي الخ:
تشریح: دي اسماو ته اسماء شرطیه وایی ځکه دا متضمن دي حرف شرط لره چي ان دي ورنه بیا عمل نه کوي او دا رکم ودوي ته کلمه مجازات هم وایی ځکه دوي شرط او جزاء غواړي.

۱ـ ضابطه: دا اسماء پر دوو جملو باندي د اخليږي اولي جملي ته شرط او دوهمي ته جزاء وايي.

## اسماء شرطيه پرشپږ قسمه دي

۲ـ ضابطه: اسماء شرطيه پرشپږ قسمه دي: ۱ـ محض شرط د پاره هغه دوه دي:۱ـ ان.
۲ـ اذ ما بنا بر اختلاف.
بعض وايي "اذ ما" اسم دي او سيبويه وايي حرف دي.
۲ـ دلالت كوي پر ذو العقول باندي او متضمن وي معنى لره د شرط هغه "من" دي.
۳ـ دلالت كوي په غير ذوالعقول او متضمن وي معنى د شرط لره هغه دوه دي:۱ـ ما.۲ـ مهما بنا بر اختلاف اسما او حرفا ليكن راجح قول دادي چي اسم دي.
۴ـ هغه اسماء چي دلالت كوي على الزمان متضمن وي معنى د شرط لره دوه دي:۱ـ متي.۲ـ ايان.
۵ـ هغه اسماء چي پر مكان باندي دلالت كوي او متضمن وي معنى لره دشرط هغه دري دي:۱ـ اين .
۲ـ انى.۳ـ حيثما.

۳ـ ضابطه: "حيث" او "اذْ " چي كله د "ما" څخه مجرد وي نو بيا دوي جازم نه واقع كيږي.

۶ـ بعض دا سي دي چي مضاف اليه څخه معنى معلوميږي اكتسابا كه مضاف اليه د ذوالعقول څخه وو نو دا به هم د ذوالعقول څخه وي . لكه:" ايهم يقيم اقم".
او كه دغير ذوالعقول څخه وو نو دوي به هم دغير ذوالعقول څخه وي لكه:"ايُّ الدَّ واب تركب اركب".
يا به "متي" ته مضاف وي نو معنى د "متى" وركوي وغيره.

## شرائط د جمله شرطيه

۴ـ ضابطه: شرائط د جمله شرطيه: د دي د پاره شپږ شرطونه دي:۱ـ فعل په اعتبار د معنى سره به ماضي نه وي كنه نو بيا يي تاويل په مضارع سره كيږي.
۲ـ فعل خبري به شرط وي انشاء شرط نه واقع كيږي.
۳ـ فعل جامد به نه وي، عسى او ليس شرط نه واقع كيږي.
۴ـ په اول كي به "سين" "سوف" نه واقع نو "سيضرب" "سوف يضرب" شرط نه واقع كيږي.
۵ـ مقرون په "قد" سره به نه وي "قد يضرب" شرط نه واقع كيږي.
۶ـ حرف نفي به پر دا خلي نه وي "ما" نا فيه او "لن" دي اوكه په "لا" او "لم" سره مقرون وي بيا جائز دي لكه:" ان لم تفعل فما بلغت رسالته".

## د "من" اقسام من پر شپږ قسمه دي:

۵ـ ضابطه: د "من" اقسام من پر شپږ قسمه دي: ۱ـ "من"شرطيه لكه :" من تضربْ اضربْ".
۲ـ "من" موصوله چي په معنى دالذي سره وي لكه :" فمنهم من يمشي على بطنه".
۳ـ "من" استفهاميه لكه:" من ذا الذي يقرضُ الله قرضاً".
۴ـ"من " موصوفه چي اكثره د"من " موصوله سره يو ځاي وي.
۵ـ "من" نافيه لكه :" ومن يغفر الذ نوب الاالله ُ".۶ـ "من"زائده چي اكثره په اشعارو كي راځي.

## "ما" پر دوه قسمه دي: ۱ـ اسميه.۲ـ حرفيه.

۶ـ ضابطه: "ما" پر دوه قسمه دي: ۱ـ اسميه.۲ـ حرفيه.

"ما" اسميه پراوه ـ۷ـ قسمه دي:۱ـ موصوله :چي په معنا دالذي سره وي لکه: "مَاعِنْدَ کُمْ يَنْفِدُوْ مَاعِنْدَ الله بَاقٍ".۲ـ موصوفه: چي په معنا د"شئٌ" يا "شيئاً" سره راځي لکه :"ظَهرالفساد في البرِ والبحرِ بِمَا کسبت أيدي الناس".

## د "ما" يي موصوفه او موصله په مابين کي فرق

سوال: د موصوفه او موصله په مابين کي فرق څه دي؟

جواب: فرق يی دا دي چي موصوله معرفه وي او موصوفه نکره وي.

۳ـ نکره تا مه: چي د صفت محتاجه نه وي لکه :" مَا اَحْسَنَ الرجلُ".

## د"ما" يي نکره تامه او نا قصه فرق

سول: د"ما" نکره تامه او نا قصه فرق څه دي؟

جواب: فرق يي دا دي چي تامه د صفت محتاج نه وي او"ما"نکره نا قصه د صفت محتاج وي.

۴ـ شرطيه لکه :" مَااَصَابَکَ مَنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ الله ".

۵ـ استفهاميه: چي اکثره د کلا په شروع کي راځي لکه: "وَمَاتِلک بِيَمِينِکَ يَا مُوْسٰى".

۶ـ صفتيه لکه :"اَضْرِبْهُ ضَرْبًامَّا".

۷ـ تامه لکه :"نِعِمَّا هِيَ، اي نِعْمَ مَاهِيَ".

د ما حرفيه اقسام شپږ دي :

۱ـ "ما" نافيه لکه :"مَا اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهُ ".

۲ـ "ما" مشابه بليس لکه:"مَا هٰذا بَشَراً".۳ـ "ما" مصدريه غيرزمانيه لکه: "فَذُوْ قُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ".

۴ـ "ما" مصدريه زمانيه لکه :"فَا تَّقُوْا الله مَا اسْتَطَعْتُمْ".

۵ـ "ما" زائده غيرکافه لکه :" مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ لَاسِيْمًا".

۶ـ "ما" زائده کافه لکه :"رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ کَفَرُوْا".

قوله: دوم اسماء افعال الخ سوم اسماء افعال بمعنى امر الخ.

د دي تفصيل مخکي تيرسوی دي څه شيان چي هلته نه وي ذ کر سوي هغه به ذ کرکړو.

## د اسماء افعال احکام

۱ـ ضابطه: د نحاتو دا اصول دي چي کله يو شي د بل شی معنی لره متضمن وي ليکن دغه دوه شيان په احکامو لفظيه وو کي سره مختلف وي، نو دي دغه شي ته هم د دا بل شي نوم ورکوي صرف د دا غه شي د نامه په شروع کي لفظ د اسم زياته وي لکه :"فعل" اسم فعل، مصد ر ،اسم مصدر، جمع، اسم جمع، فاعل ، اسم فاعل".

۲ـ ضابطه: اسماء افعال ديوڅو غرضو د حاصلولو د پاره وضع سوي دي:۱ـ د اختصارد حاصلولو د پاره لکه :" رُويد" د مذ کر، مؤنث، واحد، تثنيه، جمع، د ټولو دپاره وضع سوي دي.

۲ـ د دوام اواستمرار د معنی د حاصلولو د پاره لکه:"نزال" معدول سوي دي د"انزل" څخه.

۳ـ د ريم غرض استعجاب دحاصلولو د پاره لکه :" هيهات هيهات لماتوعدون".يعني لري سوه لري

سوه هغه خبره، او دا معنی د "بعد" څخه نه حاصلیږي اوپه "شتان" کي چي کم افتراق دي هغه په "افترق" کي نسته، او په "سرعان " کي چي کم تعجب دي هغه په "سرع" کي نسته.

## داسماء افعالو او افعالو تر مابین فرق:

**۳ـ ضابطه:** د اسماء افعالو او فعلو تر مابين فرق :

۱ـ د اسماء افعالو معمول پر دوي نسي مقدم کيدي بخلاف د فعل.۲ـ اسماء افعال د تانيث او تذکير، تثنيه او جمع علامه نه قلبوي بخلاف دافعالو.

**۴ـ ضابطه:** داسماء افعال احکام:۱ـ دوي مضاف نسي وا قع کيدي لکه د دوي افعال.

۲ـ د دوي معمول پر دوي نسي مقد م کيدي ځکه عام طور دوي ضعيف دي او د دوي عمل د فعل د نيابت په وجه سره دي.

۳ـ کم اسماء افعال چي په معنی د امر سره راځي که چيري د دوي په جواب کي مضارع راسي نو هغه به مجزوم وي نصب يي جائز نه دي نو لهذا"صهَ فأُحد ثک" ويل غلط دي

**سوال:** تا وويل چي اسماء افعال مضاف نسي وا قع کيدي زه به يی د رته وښيم چي مضاف واقع کيدي سي لکه: "رويد زيدٍ" د لته رويد مضاف دي او زيدٍ ته جر ورکړي دي ؟

**جواب:** د لته رويد اسم فعل نه دي بلکي مصدر دي پر ده فتحه اعرابي ده او دی مصد ر مضاف دي که چيري اسماء افعال وايي نو بيا به "رويد زيداً" ويل سوي وايي.

**۵ـ ضابطه:** په اسماء افعالو کي د ضمير د پاره څه علا مه نه ظاهريږي لکه "صه" د واحد او تثنيه جمع مذ کر ومؤنث د ټولو د پاره يو شکل دي يعني "صه" که واحد وي اوکه تثنيه وي او که جمع وي ويل کيږي.

قوله: چهارم اسم فاعل بمعنی حال يا استقبال.

**تشريح:** څلرم داسماء عامله څخه اسم فاعل دي

## د اسم فاعل تعريف

**تعريف:** اسم فاعل هرهغه اسم دي چي مشتق وي د فعل مضارع معلوم څخه او وضع سوي وي د پاره دهغه ذات چي قائم وي فعل په هغه پوري په معنی د حدوث سره لکه "قائمٌ" په زيدٌ قائم ابوه.

**۱ـ ضابطه:** اسم فاعل عمل د خپل فعل پشان کوي يعنی معروف که لازمي وو نو دي عمل دلازمي کوي او که متعدي وي نو دي عمل د متعدي کوي مثال د لازمي لکه:" زيدٌ قائم ابوه".
مثال د متعدي لکه:" زيدٌ ضارب ابوه عمرً ".
قائم عمل د قام او يقوم کوي او ضارب عمل د ضرب او يضرب کوي او معطی عمل داعطی کوي مخبر عمل د اخبر کوي.

**۲ـ ضابطه:** اسم فاعل چي عمل کوي هغه وخت چي د اسماء سته مکبره څخه نه وي.

**۳ـ ضابطه:** چي اسم فاعل په معنی د حال يا استقبال سره وي او حال بيا عام دي که حقيقة وي او که حکماً.

**۴ـ ضابطه:** اسم فاعل پر دوه قسمه دي چي:۱ـ غيرمقرون باللا م .۲ـ مقرون باللا م وي.

داسم فاعل غیرمقرون باللا م د عمل د پاره په فاعل اسم ظاهر کي دري شرطونه دي:
۱ـ موصوف به نه وي احترازي مثال لکه :"عالم ضاحک یذهب".
۲ـ مصغر به نه وي احترازي مثال لکه: "ضویرب" اتفاقي مثال لکه :" زیدٌ قائم ابوه".
۳ـ چي پر یوه د اشیاؤ سته به اعتماد کړي وي:
۱ـ مبتداء لکه:" زیدٌ قائم ابوه" .
۲ـ موصوف لکه: "مررت برجل ضارب ابوه عمرواً".
۳ـ موصول لکه: "جائني القائم ابوه".
۴ـ ذوالحال لکه:"جائني زیدٌ راکبا غلا مه فرسا".
۵ـ حرف نفي لکه:" ما قائما زید".
۶ـ همزه د استفهام لکه: "اضارب زید عمرواً..
۵ـ **ضابطه**: که اسم فاعل مقرون باللا م موصوله سره وي هغه بیا بیله شرط عمل کوي.
۶ـ **ضابطه**: که په مفعول به کي عمل کوي بیا د ده د پاره دوه شرطونه دي:۱ـ دي په معنی د حال یا استقبا سره حقیقیة او یا حکایة وي.
۲ـ پر یوه د دا شپږو شیانو باندي اعتماد کړي وي ، او په باقي معمولاتو کي بیله شرطه عمل کوي.
۷ـ **ضابطه**: اسم فاعل که په معنی د ماضي سره وو یا په معنی دوام اواستمرار سره وو بیا د دي اضافت کولي سي ما بعد اسم ته په اضافت سره لکه : الحمد لله رب العلمین کي استمرار دي اضافت معنوي ده .
۷ـ **ضابطه**: داسم فاعل اعتماد لکه: څنګه پر ملفوظ باندي کیږي دغه رکم پر مقدر باندي هم کیږي لکه:په " مختلف الوانه" کي صِنْفٌ مقد ر دي اي "صنف مختلف الوانه".
۸ـ **ضابطه**: په اسم فاعل کي ضمیر د متکلم، اومخاطب، اوغائب، د مقام په مناسبت سره مستتریږي یعني که چیري مخکي متکلم وو نو د متکلم ضمیر او که مخاطب وي نود مخاطب او که غائب وي نو دغائب ضمیر په ده کي مستتریږي، او په ده کي ضمیر مستتر دائمي وي بارز نسي راتلاي.
او په "ضاربان" کي الف اوپه"ضاربون "کي واو صرف علا مي دي ضمیرونه نه دي لکه: په "ضرباو ضربو" کي چي دوي هم ضمیرونه دي اوهم علا مي.
۹ـ **ضابطه**: که د اسم فاعل څخه د ثبوت معنا مراد وي نو بیا به دي د صفت مشبه په شان عمل کوي، فاعل سببي ته رفع ورکوي، او وروسته اسم به یا معرفه وي او یا به نکره وي نوکه معرفه وي نو د مفعول سره د مشابهت په وجه نصب ورکوي، او که نکره وي نو بنا د تمیز سره د مشابهت په وجه نصب ورکوي او یا بالاضافت جرورکوي.
۱۰ـ **ضابطه**: تقد یم د معمول پر اسم فاعل باندي جائز دي لکه :" اَنْتَ الخیر فاعل".
او که چیري اسم فاعل مقرون باللا م وو لکه:" هذا المکرم سعیداً".اویا مجرور بالاضافت سره وو لکه : "هذا وَلدُ مکرمٍ خالداً". او یا مجرور په حرف جر اصلي سرمجرور وي لکه :"اَحْسَنْتُ الي مُکْرِمٍ علیًّا"، او که مجرور په حرف جر زائده سره وي بیا تقدیم جائز دي لکه :" لیس سعیدٌ بسابقٍ خالداً". د اً هم ویلي سي"لیس سعیدٌ خالدًا بسابقٍ".

قوله:پنجم اسم مفعول :

## تعريف د اسم مفعول

**تعريف:** اسم مفعول په لغة كي كاركرده شده ته وايى،
او په اصطلاح كي هر هغه اسم ته وايي چي مشتق سوي وي د فعل مضارع مجهول څخه او وضع سوي وي دهغه ذات د پاره چي فعل د فاعل پر واقع وي په معنى د حدوث سره وي لكه: "مضروب مكرمٌ".

**۱ـ ضابطه:** اسم مفعول دفعل مجهول پشان عمل كوي كه د دي فعل يوه مفعول ته متعدي وي نو دغه يو مفعول د ده نائب فاعل وي او مرفوع به وي لكه: "زيدٌ مضروبٌ ابوهُ".

**۲ـ ضابطه:** كه فعل و دوومفعول ته متعدي وونو اول مفعول به نائب فاعل وي دوهم اودريم مفعول به منصوب وي.

**۳ـ ضابطه:** د اسم مفعول د پاره دوه شرطونه دي: ۱- اسم مفعول به په معنا سره د حال اواستقبال وي.
۲ـ اعتماد به يي پر يوه د شپږو شيانو كړي وي لكه څنګه چي په فاعل كي ذ كر سوه.

**۴ـ ضابطه:** اسم فاعل، او اسم مفعول، او صفت مشبه، مصدر، اسم تفضيل، وغير ته شبه جمله هم وايى، د شبه جملي څخه مراد هغه جمله ده چي مكمل جمله نه وي بلكي د جملي معنا وركوي.

**۵ـ ضابطه:** فرق د عمل د اسم فاعل او اسم مفعول دادي اسم فاعل وفاعل ته رفع وركوي، او مفعول د فاعل پر ځاي ونائب فاعل ته رفع وركوي.

قوله ششم صفت مشبه :

## تعريف د صفت مشبه

**تعريف:** صفت مشبه په لغة كي مشابه كړي سوي ته وايي،
اوپه اصطلاح كي هغه اسم دي چي مشتق سوي دي د فعل لازمي څخه او وضع سوي دي دهغه فعل د پاره چي قائم وي معنى د فعل په ده پوري په معنى د ثبوت سره.

## د صفت مشبه د استعمال د پاره اتلس صورتونه دي

**۱ـ ضابطه:** د صفت مشبه د استعمال د پاره اتلس صورتونه دي په دي كي بعض عمده دي هغه ته احسن وايي. او بعض غير عمده دي
اودغه غير عمده بيا پر دوه قسمه دي: ۱- حسن .۲ـ قبيح.
او بعض مختلف فيه دي.

**تفصيل** دادي صفت مشبه به خالي نه وي:۱ـ يا به معرفه با للام وي.۲ـ يا به مجرد عن اللام وي.
بيا دهر واحد معمول به خالي نه وي : ۱ـ يا به معروفه باللام وي.۲ـ يا به مضاف وي. ۳ـ يا به دواړه نه وي.
اودا شپږ قسمه سوه بيا پر هرواحد د معمول باندي د ري اعرابه راځي:۱ـ رفع.۲ـ نصب.۳ـ جر.
۱ـ رفع بنا پر فاعليت باندي.

۲ـ نصب بنابر تمیز کله چي معمول نکره وي، او یا نصب بنابرتشبیه بالمفعول کله چي معمول معرفه وي .
۳ـ جر، بنا براضافت.
نو شپږو ته چي په درو کي ضرب ورکړي نو حاصل ضرب یې اتلس کیږي ۶×۳=۱۸.

**۲ـ ضابطه:** احسن، حسن قبیح کله چي صفت کي ضمیر واحد وي نواحسن دي او چي کله خالي وي د ضمیر څخه نو قبیح به وي. او کله چي دوه ضمیره په کښي وي هغه به حسن وي، نه ـ۹ـ صورتونه احسن دي. اودوه صورتونه حسن، او څلور قبیح، او یو مختلف فیه دي. اودوه ناجائز دي.

۳ـ ضابطه: صفت د فعل لازمي عمل کوي، او په فعل متعدي کي صفت مشبه نه راځي.

**۴ـ ضابطه:** البته صفت مشبه ترخپل فعل په عمل کي زیات دي ځکه دي ومفعول به ته نصب ورکوي او فعل لازمي ومفعول به ته نصب نه ورکوي لکه :"جائني رجلٌ حسنٌ وجههُ".

**۵ـ ضابطه:**صفت مشبه چي په فاعل او شبیه بالمفعول کي عمل کوي پنځه شرطونه غواړي لیکن په نورو معمولاتو کي بیا چي عمل کوي څه شرط نه غواړي .

**۶ـ ضابطه: اول شرط:** د صفت اعتماد به پر پنځو شیانو باندي راغلي وي اتفاقًا اوپر موصول باندي بنابراختلاف :۱ـ مبتداء لکه:"زیدٌ حسنٌ غلا مهُ".
۲ـ موصوف لکه:" جائني رجلٌ حسنٌ وجههُ".۳ـ ذوالحال لکه:" جائني زیدٌ حسناً وجههُ".
۴ـ همزه د استفهام لکه :"احسنٌ وجهُ زیدٍ". ۵ـ حرف نفي لکه "ما احسنٌ وجهُ زیدٍ".

**۷ـ ضابطه: دوهم شرط:** صفت به په معنا د حال اواستقبال سره نه وي ځکه په حال او استقبال کي حدوث او تجد د وي او په صفت مشبه کي ثبوت وي نود ثبوت او تجد د او حدوث ترمابین تضاد دي.

**۸ـ ضابطه:** د ریم شرط صفت مشبه به موصوف نه وي.

**۹ـ ضابطه: څلرم شرط:** پر موصول باندي به یي اعتماد نه وي کړي بنا بر اختلاف.

**۱۰ـ ضابطه:** پنځم شرط:صفته مشبه به مصغر نه وي.

**۱۱ـ ضابطه:** کله معمول د صفت مشبه مرفوع وي نو په صفت مشبه کي به ضمیري نه وي ځکه دغه اسم مرفوع فاعل دي که چیري ضمیر هم مقد ر سی نو تکرار د مفاعلو به راسي اودغه باطل دي.

**۱۲ـ ضابطه:** او چي کله معمول منصوب وي نو بیا به په صفت مشبه کي ضمیر مستتر وي چي هغه فاعل سي.

## داسم فاعل او صفت مشبه ترمابین فرق

**۱۳ـ ضابطه:** داسم فاعل او صفت مشبه ترمابین فرق:
۱ـ په صفت مشبه کي ثبوت او دوام وي او په اسم فاعل کي حدوث وي.
۲ـ د صفت مشبه فاعل صرف سببي راځي، او د اسم فاعل فاعل سببي او اجنبي دواړه راځي.
۳ـ صفت مشبه صرف د فعل لازمي څخه راځي، او فاعل د متعدي او لازمي دواړوڅخه راځي.
۴ـ د صفت مشبه معمول پرده نسي مقد م کیدي اود فاعل معمول پرده مقدم کیدي سي.

قوله: هفتم اسم تفضيل واستعمال او برسه:

## تعريف د اسم تفضيل

**تعريف:** اسم تفضيل هغه اسم دي چي مشتق سوي وي د فعل مضارع څخه د پاره د دلالت كولو پراشتراک د دووشيانو په يوه صفت كي او يو پرهغه بل زيات وي په دا صفت كي لكه :"خليلٌ اعْلمُ من سعيدٍ وافضل منه".

۱- **ضابطه:** په كم اسم كي چي معنى مصدري زياته وي هغه ته مفضل وايى او په كم اسم كي چي معنى مصدري كم وي هغه ته مفضل عليه وايي .

۲- **ضابطه:** بيا صيغي د اسم تفضيل دوي دي :۱- د مذ كرپر وزن د اَفْعَلُ.

۲- د مؤنث پر وزن د فُعْلٰى.

۳- **ضابطه:** اسم تفضيل راځي د ثلا ثي مجرد چي د عيب او لون معنى نه وي پكښي.

## فرق داسم تفضيل او مبالغي

۴- **ضابطه:**فرق د اسم تفضيل او مبالغي په اسم تفضيلي كي زيا دت د معنى وي على الغير چي مفضل عليه دي او په مبالغي كي زيادت د معنى وي فى نفسه لاعلى الغير.

## استعمال د اسم تفضيل په درو طريقو سره

۵- **ضابطه:** اسم تفضيل په يوه د درو طريقو سره مستعمليږي :

۱- په من سره لكه زيد افضل من عمرٍ زيد مفضل افضل اسم تفضيل من جار عمر مجرور مفضل عليه .

۲- په الف لام سره جائني زيد الافضل، جائني فعل نون د وقاي ي ضمير د متكلم مفعول به زيد موصوف الافضل صفت موصوف سره د صفت فاعل د فعل .

۳- په اضافت سره لكه: زيد افضل القوم زيد مبتدء افضل مضاف القوم مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه خبر د مبتدء.

۶- **ضابطه:** اسم تفضيل چي مستعمل سي په من سره دا به هميشه مفرد وي مذ كروي لكه: الزيدان افضل من عمروٍ.

۷- **ضابطه:** كه مد خول د من استفهام وي، اويا مضاف واستفهام ته وي نوبيا د من مع المجرور مقد م كول واجب دي مثال لكه: "ء انت ممن افضل" يا انت من غلا م من افضلٍ".

۸- **ضابطه:** اسم تفضيل چي په الف لام سره مستعمل سي نو اسم تفضيل به د خپل موصوف سره موافق وي.

۹- **ضابطه:** كه چيري په من سره مستعمل سي بيا د دي سره من هيڅ كله هم نسي راتلي لكه: "زيد الافضل".

۱۰- **ضابطه:** اسم تفضيل كه په اضافت سره مستعمل سي نو بيا د نكري وطرفت مضاف وي نو بيا به مفرد مذ كر وي هميشه به مفضل او مضاف اليه سره موافق وي لكه: "الزيدان افضل رجلين".

۱۱- **ضابطه:** كه اضافت ومعرفه ته وي نو بيا ګور كه د تفضيل معنى باقي نه وه تاويل پكښي سوي

وو نو مطابقت واجب دي لکه  الناقص الاشيح اعدلا.

۱۲ـ **ضابطه**: اسم تفضيل په ضمير مرفوع کي عمل کوي د غه رفع بنا برفاعليت بلا قيد اوشرط.

۱۳ـ **ضابطه** :همدا رکم اسم تفضيل عمل کوي د نصب بنا بر مفعوليت او تميز،حال ،ظرف، بلا قيد اوشرط.

۱۴ـ **ضابطه**: عمل د اسم تفضيل په اسم ظاهر کي مشروط دي په شروط ثلا ثه وو سره :

۱ـ اسم تفضيل به په لفظ کي ثابت وي د ما قبل د پاره، (يعني د يو شي صفت به وي) او په معنى کي به ثابت وي د ما بعد د پاره (يعني د داغه شي د متعلق د پاره به صفت وي او دا متعلق به په داغه شي اوپه بل شي کي مشترک وي.

۲ـ اسم تفضيل څخه مخکي نفي او يا نهي يا استفهام انکاري راغلي وي. مثال يى وروسته راځي.

۳ـ په مابين د مفضل او مفضل عليه کي به فرق اعتباري وي او اتحاد ذاتي وي (يعني دا متعلق به په داسي شکل سره وي چي د دا غه شي په اعتبار سره به "مفضل" وي او دهغه بل شي په اعتبار سره به "مفضل عليه " وي يعني دي به "مفضل" او "مفضل عيله" دواړه وي ليکن په دوه اعتبارسره
د لته يوه خبره په يا د ساتل ضروري ده هغه دا چي متعلق د شي د داغه شي په اعتبار سره "مفضله" کيدل او د دوهم شي په اعتبار سره مفضل عليه کيد ل د نفي تر د خول مخکي دي ځکه د نفي د دخول څخه وروسته معنى بر عکس کيږي لکه:" ما رآيت رجلاً احسن في عينه الکحل منه في عين زيدٍ".
اوس په دغه مثال کي "احسن" د اسم تفضيل صيغه ده په اعتبار د لفظ سره د يو شي صفت دي چي"رجلا"دي او په اعتبار د معنى سره د"رجل" د متعلق صفت دي چي"الکحل" دي او "الکحل" د"رجل" او "زيد" په سترګو کي مشترک دي او دغه "الکحل" په اعتبار د"عين" سترګو د"رجل" سره "مفضل" دي او په اعتبار د"عين" د"زيد" سره "مفضل عليه" دي نو معنى دا جوړيږي چي مايوسړي وليدي چي دهغه په سترګو کي رانجه د "زيد" ترسترګو ډ يرښائسته وه،
اوس په دي صورت کي د نفي څخه ماسوي نورټول شرطونه پرځاي دي ليکن کله چي نفي پر داخلي سوي نو دري سره شرطونه ښکاره سوه .
او د نفي څخه وروسته "کحل" په اعتبار د"عين" د"رجل" سره "مفضل عليه" سو او په اعتبار د"عين" د"زيد" سره "مفضل" سو او د نفي څخه وروسته مقصد د"زيد" د سترګو د رانجو تعريف کول دي.

قوله:هشتم مصدر آنکه:

## د مصد رتعريف او ضوابطي

**تعريف**: مصدر  هغه اسم دي چي د دلالت کوي پرحد ث باندي يعني پر داسي معنى چي هغه قائم بالغير وي او د ده څخه افعال اومشتقات جوړيږي لکه:"ضَرْبٌ".

تشريح: مصدر عمل کوي خو مطلقا نه بلکي يو شرط يي دا دي چي مفعول مطلق به نه وي واقع سوي ځکه مفعول مطلق واقع سي بيانو مخکي قوي عامل واقع دي چي فعل دي نومصدر عمل نسي کولي چي ضعيف دي.

۱ـ **ضابطه**: مصدر د خپل فعل عمل کوي که هغه عمل د رفع کوي نو دي هم عمل د رفع کوي لکه: اعجبني قيام زيدٌ.

اوكه هغه عمل د رفع او نصب كوي نودي هم عمل د رفع او نصب كوي لكه:"اعجبني ضرب زيدٌ عمراً".

۲ـ ضابطه: د مصدر استعمال په دوو طريقو سره كيږي:۱ـ منون غير مضاف لكه:اعجبني ضربٌ زيدٌ عمرواً.

۲ـ غير منون مضاف "اعجبني ضربٌ زيدٍ عمروًا"

او كله مفعول به ته مضاف كيږي لكه: "اعجبني ضرب اللص الجلا د".

نو چي كم شي ته مضاف سي هغه به مجرور وي لفظاً اصل داده چي مصدر منون وي مضاف نه وي او اضافت پكښى جائز دي.

او اضافت وفاعل ته زياته ده نسبتاً ومفعول ته.

## د مصد رد عمل اته شرطونه دي

۳ـ ضابطه: شرائط: د مصد رد عمل اته شرطونه دي:۱ـ مفرد به وي.۲ـ مفعول مطلق به نه وي.

۳ـ ضمير به نه وي راجع وي مصدر ته .۴ـ مصغر به نه وي.

۵ـ تاء د وحدت به پوري نه وي ملحق سوي.

۶ـ د معمول د ده او د مصدر ترمابين به فاصل نه وي واقع سوي.

۷ـ معمول د ده به تر ده مقدم نه وي.۸ـ موصوف به نه واقع سوي.

## فرق په مابين كي د مصد راوفعل

۴ـ ضابطه: فرق په مابين كي د مصد راوفعل:د فعل څخه فاعل حذف كيږي بخلا ف د مصدر.

۲ـ په فعل كي د فاعل ضمير مستتر كيد لي سي بخلا ف د مصدر.۳ـ فعل مجهول نائب فاعل لره رفع وركوي بخلا ف المصدر.

قوله: نہم اسم مضاف مضاف اليه رابجر كند :

تشريح: مضاف صيغه داسم مفعول ده د باب څخه دا ضاف يضيف اضافة .

## تعريف د اسم مضاف او مضاف اليه

تعريف: په لغة كي نسبت ته وايي،

او په اصطلاح كي نسبة الشي الى الاسم بواسطة حرف جر لفظاً اوتقد يراً.

تعريف: مضاف اليه په لغت كي نسبت كرده شده ته وايي،

او په اصطلاح كي مضاف اليه هرهغه اسم دي چي ده ته نسبت سوي وي.

۱ـ ضابطه: حرف جر عام دي لفظاً وي لكه: "مررت بزيدٍ".

او كه تقد يرًا وي لكه: "غلا م زيدٍ" اصل يي "غلا م لزيدٍ.

فرق كه چرى حرف جر لفظاً وي هغه ته جار مجرور وايى، او كه چيري مقدر وي هغه ته مضاف او مضاف اليه وايى.

۲ـ ضابطه: اختلا ف په تقد يرد حرف جر په دي كي دوه مذهبه دي:۱ـ جمهورنحاة په تقد يرد حرف جر قائل دي او عمل په مضاف اليه كي هم دغه حرف جر كوي.

۲ـ ابو حيان اند لسي او ابن د ستور يه په تقد يرد حرف جر قائل نه دي.
د لته مصنف د جمهور مذهب مختار کړي دي.

**۳ـ ضابطه:** اختلا ف په دي مسئله کي اتفاق دي يعني په اعرب د مضاف اليه کی چي مجرور به وي ليکن اختلا ف په عامل د مضاف اليه کي دي:
د جمهور نحاتو اوسيبويه پر مذهب عامل د مضاف اليه مضاف دي.
او امام زجاج اوابن حاجب مذهب دادي چي مضاف اليه مجرور دي په حرف جر مقد رسره بين المضاف والمضاف اليه.
د جمهور د ليل دادي چي د مضاف سره اتصال د ضمير کيدي سي او اتصال د ضمير نه کيږي مګر دعامل خپل سره لکه: "غلا مه".

## اضافه پر دوه قسمه ده : ۱ـ لفظيه .۲ـ معنويه.

**۴ـ ضابطه:** اضافه پر دوه قسمه ده : ۱ـ لفظيه .۲ـ معنويه.

**اضافه لفظي تعريف:** اضافه لفظي د يته وايي چي صيغه د اسم صفتي به مضاف وي وخپل معمول ته دوه قيدونه غواړي په جانب د مضاف کي:۱ـ دا به اسم صفتي وي.
دوهم په جا نب د مضاف اليه کي هغه دا چي دا به معمول د مضاف وي.

**۵ـ ضابطه:** داسم صفتي څخه مراد دا غه اسماء دي:۱ـ اسم فاعل.۲ـ اسم مفعول.۳ـ صفت مشبه په دي شرط چي په معنى د زمان ماضي سره به نه وي کنه بيا به اضافت معنوي وي.

**۶ـ ضابطه:** فائده د اضافه لفظيه صرف تخفيف دي .

**اضافت معنوي تعريف:** د يته وايي چي اضافه دغيرصفت وه سي وخپل معمول ته،
د دي دري صورتونه دي:۱ـ چي مضاف به صيغه د صفت نه وي لکه:"غلا م زيدٍ".
۲ـ مضاف به صيغه د صفت وي ليکن اضافه به يي خپل معمول ته نه وي سوي لکه: "کريم البلد".
د لته اضافه د اسم صفتي چي "کريم" دي مفعول فيه ته سوي ده نه مفعول به ته او مراد د معمول څخه مفعول به دي يا فاعل.
۳ـ مضاف به اسم صفت وي او معمول ته به مضاف وي ليکن په معنى د ماضي سره به وي لکه :"ربُّ العلمين" اضافه د رب والعلمين ته معنويه ده .

## اضافه معنويه پرڅلور قسمه ده

**۷ـ ضابطه:** اضافه معنويه پرد ري قسمه ده: ۱ـ لاميه .۲ـ منيه .۳ـ فوي، فمي.۴ـ تشبيهي.

**۱ـ اضافه لاميه تعريف:** د يته وايی چي مضاف اليه د مضاف د پاره نه جنس وي اونه ظرف وي لکه:"غلا م زيدٍ، د لته لام حرف جرمقد ر دي اصل کي غلا م لزيدٍ دي چي داختصاص او ملکيت فائده ورکوي.

**۲ـ اضافه بيانيه تعريف:** د يته وايی چي مضاف اليه د مضاف د پاره جنس وي يعني په کم باندي چي مضاف صاد قيږي نو پرهغه باندي مضاف اليه هم صاد قيږي لکه:"خاتم فضة" دلته من بيانه مقد ر دي اصل کي "خاتمُ منْ فضةٍ" دي.

**۳ـ اضافه فويه، فمي تعريف**: د يته وايى چي مضاف اليه ظرف وي د مضاف د پاره که زمان وي، اوکه مکان لکه:"صلا ة الليل". د لته في حرف جر مقد ر دي اصل"صلاة في الليل" دى.
**۴ـ اضافه تشبيهي تعريف**: هغه ده چي په تقد ير د"کاف تشبهى" سره وي يعني مشبه مضاف وي ومشبه به ته لکه:"انتثر لؤلؤ الدَّمْعَ علي ورد الخدودِ"، اي الد مع الذي کالؤلؤ على الخدودِ التي کالوردِ".
**۸ـ ضابطه**: د اضافه معنويه دوي فائدي دي :۱ـ تخصيص.۲ـ تعريف..

## د مضاف اومضاف اليه احکام

**۹ـ ضابطه**: د مضاف احکام:۱ـ مضاف به خالي وي د تنوين، او د نون تثنيه، او نون د جمع مذکرسالمه.۲ـ مضاف به دالف لام څخه خالي وي په دي شرط چي اضافه به معنويه وي، او که چيري لفظي وي او مضاف تثنيه وي لکه :"المکرما سليمٍ" او يا جمع مذ کرسالمه وي لکه:"المکرموعلي"او يا مضاف وي معرفه باللا م ته لکه:"الکاتب الدرسِ"يا وهغه اسم ته مضاف وي چي هغه مضاف وي معرفه باللا م ته لکه:"الکاتب درسِ النحو"
يا دي مضاف وي وهغه اسم ته چي هغه مضاف وي وضميرته او ضمير راجع وي ومعرفه با للام ته لکه:"الوُدُّ انت المستحقَّةُ صفوهِ" نو بياپه دي ټولوصورتو کي پر مضاف باندي الف لام راتلاي سي.
۳ـ مشترک حکم: د مضاف او مضاف اليه په مابين کي فصل نا جائز دي مګر که په ظرف اوجاراو مجروراو قسم سره وي بيا جائز دي.
**۱۰ـ ضابطه**: مضاف کله کله د مضاف اليه څخه کسب د تانيث، او تذ کير کوي لکه :"قطعتْ بعضُ اصابعه، شمسُ العقلِ مکسوفٌ بطوعِ الهوٰى".
۲ـ اسم وخپل مرادف ته نه مضاف کيږي لکه:"ليس اسد".
اوکه چيري علم وو بيا مضاف کيږي لکه :"محمد خالدٍ".
۳ـ موصوف وصفت نه مضاف کيږي لکه:"مسجد جامعٍ، اي مسجد مکان الجامعِ".
صفت وخپل موصوف ته مضاف کيږي په هغه ځاي کي چي تقد ير د "من" صحيح کيږى لکه:"کِرامُ النَّاسِ اي الکرام من الناسِ".
۴ـ اضافه د عام وخاص ته جائز ده لکه:"يومُ الجمعةِ".ليکن اضافه د خاص وعام ته جائز نه ده .
۵ـ کله يوشي وبل شي ته مضاف کيږي د ادنى ملا بست په وجه لکه:"انتظرْني مکانک امسٍ"د لته و "امس" ته د ادنى ملا بست په وجه اضافه سوي چي هغه وجود د دي سړي دي په دي مکان کي اتفاقاً.
۶ـ کله کله مضاف حذ ف کيږي او مضاف اليه يي پرځاي د ريږ ي په هغه ځاي کي چي التباس اوابهام نه وي لکه:"اسئل القرية التي، اي اهل القرية التي".
۷ـ کله کله په کلا م کي دوه مضاف اليه راسي اول مضاف اليه حذ ف سي د دوهم د استغناء په وجه سره لکه :"جاء غلا مِ واخوعلي" په اصل کي"جاء غلا م علي وأخوه"وو.
۸ـ کله کله په کلاٍ م کي دوه مضاف وي او دوهم مضاف حذ ف سي د اول مضاف د استغناء په وجه سره لکه:"مَاکُلُّ سَوْدَاءَ تَمَرَةً ولابيضاءَ شَحْمَةً، اي ولاکلُ بيضاء شحمةً".
**نوټ**: نوربحث يي د مرکب اضافي په بيان کي تيرسوي دي.
قوله: دهم اسم تام تميز:

## د اسم تام تعریف

**تعریف:** اسم تام هغه اسم دي چي دي په داسي کیفیت، اوحالت کي وي چي د هغه کیفیت په موجود والي کي د یوبل چاته نسي مضاف کیداي اوداکیفیت په ده کي هغه وخت راځي چي کله دي په یوه د دا شپږو شیانو سره تام سوي وي.

## اسم تام په شپږو اشیاؤ سره تامیږي

۱ـ **ضابطه:** اسم تام په شپږو اشیاؤ سره تامیږي:۱ـ په تنوین ظاهري لکه: "راحةٍ" په دي قول کي "مافي السماءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا".
۲ـ په تنوین مقد رسره لکه: "عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلاً".
۳ـ په نون د تثنیه لکه: "عندي قفیزان براً".
۴ـ په نون د جمع لکه: « هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالاً» .
۵ـ په مشا به د نون د جمع سره لکه:"عندي عشرون د رهماً تاتسعون".
۶ـ بالاضافت لکه: "ملؤه عسلاً".

۲ـ **ضابطه:** اسم تام تمیز لره نصب ورکوي ځکه د ده مشابهت دي د فعل سره او فعل تمامیږي په فاعل سره نو مفعول لره نصب ورکوي او اسم تام تمامیږي په اشیاؤ مذ کوره سره تمیز لره نصب ورکوي.

## اسماء عد د تمیز

دعد د تعریف:

عد د : شمارلو ته وایي، او په اصطلاح کي دعدد دوه تعریفونه کیږي:۱ـ "العد د مايَعُدَّ بِهِ" چي په ده سره یوشي شمارل کیږي،

د دي حضراتو په نیز عد د د یوه څخه شروع کیږي.

۲ـ تعریف:"العد د نصف مجموع الحاشتينِ" د دووحاشیو د مجموعه نیمي مثلا دوه"۲" عد د دي چي د دوو حاشیو د مجموعي نیمي دي، ځکه تردوو لاندي حاشیه یو دي او لوړ دري دي نو دغه یواو دري سره جمع کړي چي څلور کیږي او بیا یي نیمي کړي دوه کیږي نود دي حضرات په نیزي عد د دووڅخه شروع کیږي، او یوعد د د نه دي ځکه لوړ حاشیه لري چي دوه دي اولاندي حاشیه نه لري ځکه لاندي صفر دي.

## اسماء عد د په اعتبار د تمیز سره پر د ري قسمه دي

۱ـ **ضابطه:** اسماء عد د په اعتبار د تمیز سره پر دري قسمه دي:۱ـ "عد د اقل" چي د درو څخه بیاتر لسو پوري یعني د ثلاثة څخه بیا ترعشرة پوري.

دعد د اقل حکم په اعتبار د تمیزسره: دعدد اقل تمیز جمع مجرور راځي او خلا ف قیاس یعني خلا ف العقل راځی یعني که چیري تمیز مذ کر وو نوعد د به مؤنث راوړل کیږي،
اوکه چیري تمیز مؤنث وو نو عد د به مذ کر ورسره راوړل کیږي په دي شرط چي تمیز به خودي د"مأة" لفظ نه وي کنه بیا مفرد مجررو راځي لکه :"ثلث مأةٍ"
دعد د اقل مثال لکه :"ثلثة رجالٍ، ثلث نسوةٍ".

**۲ـ ضابطه:** د عد داقل تمیز هلته خلا ف قیاس راځي چي کله معدود دعدد څخه وروسته ذ کرسي که چیري معدود رامقدم سي موصوف سي اسم عدد د ده صفت جوړسي نو بیا د عدد تذ کیر او تانیث دواړه جائز دي لکه:"رجالٍ ثلثٌ، یا رجالٌ ثلثةٌ".

**۳ـ ضابطه:** دعد د اقل تمیز جمع مجرور راځي، اود جمع په اقسامو کي اکثره جمع قلت راځي، اوپه قلت کي اکثره جمع مکسره راځي، لیکن کله کله د ضرورت په خاطر جمع سالمه هم راځي لکه: "سبعَ سمواتٍ" اوداغه رکم که چیري د یواسم دپاره جمع قلت نه وه نوبیا جمع کثرت راځي لکه:" ثلثة قرُوْءٍ".

**۴ـ ضابطه:** "واحد" او "تثنیه" د تمیز محتاجه نه وي ځکه د یوه اود وو معنی خودي د ممیز څخه معلومیږي لکه :"رجلٌ" یو سړي "رجلانِ" دوه سړیان د یوه او دوو معنی پخپله د "رجلٌ" او د"رجلان" څخه معلومه سوه.

عد د اوسط: د یولس څخه بیا ترنه نوي یعني "احد عشر تا تسعة وتسعون" پوري ،

۱۱ـ۱۲"۲۱ـ۲۲" ۳۱ـ۳۲" ۴۱ـ۴۲" ۵۱ـ ۵۲" ۶۱ـ۶۲" ۷۱ـ۷۲" ۸۱ـ ۸۲" ۹۱ـ۹۲".

دعد د اوسط حکم په اعتبار د تمیز سره

دعد د اوسط تمیز همیشه مفرد منصوب راځي او موافق د قیاس یعني موافق العقل راځي که چیري تمیز مذ کروو نو عد د مذ کر ور سره راوړي او که تمیز مؤنث وو نو عد د ورسره مؤنث راوړي لکه: "احدعشر رجلاً، احدیٰ عشرة امرأةً".

اود "۱۳" څخه بیا تر"۱۹" پوري د"۲۳"څخه تر"۲۹" پوري" ۳۳"څخه تر"۳۹" پوري د"۴۳"څخه تر"۴۹"پوري "۵۳"څخه تر"۵۹"پوري د"۶۳"څخه تر"۶۹"پوري د"۷۳"څخه تر"۷۹" پوري د"۸۳"څخه تر"۸۹"پوري د"۹۳"څخه تر"۹۹"پوري د دغه ټولو اعدادو تمیز خلا ف قیاس راځي یعني خلاف العقل راځي یعني که چیري تمیز مؤنث وو نو بیا د عدد د دواړو جزئوڅخه به اول جزء مذ کر وي اوکه چیري تمیز مذ کر وو نود عدد اول جزء به مؤنث وي لکه: "ثلثة عشر رجلاً،ثلث عشرة امرءةً ثلثةٌ وعشرون رجلاً، ثلث وعشرون امرءةً".

**۵ـ ضابطه:** اته ـ۸ـ عقود همیشه پر یوه حال استعمالیږي خواه که یکړ وي او که د بل عدد سره مرکب وي خواه تمیز یی مذ کر وي او که مؤنث هغه اته عقود دا دی: "عشرون،ثلاثون،اربعون،خمسون،ستون،سبعون،ثمانون،تسعون، دي لکه :"عشرونَ رجلاً، عشرون امرءةً".

**عدد اعلی:** صرف پنځه عد ده دي په مقام د تمیز کي "مأة، مئتان، الفٌ، الفان، الافٌ".

**دعد د اعلي حکم په اعتبار د تمیز سر:** دعد د اعلی تمیز همیشه مفرد مجرور راځي لکه: "مأة رجلٍ، مأةُ عامٍ، الف سنةٍ، مئتي درهمٍ".

قوله: یازدهم اسماء کنایه ازعدد:

## د اسمآء کنایه تعریف

**د اسمآء کنایه تعریف:** اسمآء کنایه هغه مبهم الفاظ دي چي په هغو سره کنایه د مبهم عدد څخه کیږي یا د حد ث څخه او یا دفعل څخه.

اسمآء كنايه تعداد:اسماء كنايه پنځه الفاظ دي هغه دادي:"۱ـ كم.۲ـ كذا.۳ـ كأين.۴ـ كيت.۵ـ ذ يت".

## كم پردوه قسمه دي:۱ـ كم استفهاميه.۲ـ كم خبريه.

تشريح:۱ـ ضابطه: كم پر دوه قسمه دي: ۱ـ كم استفهاميه.۲ـ كم خبريه.

۲ـ ضابطه:د كم استفهاميه تعريف:هغه دي چي په د ه سره كنايه دعدد مبهم څخه كيږي اود هغه څخه مراد تعين د هغه عدد وي لكه :" كم كتاباً عند ک".

عمل د كم استفهاميه:

كم استفهاميه تميز لره نصب وركوي او تميز د ده به مفرد وي لكه: "كمْ رَجلاً عند ک.

۲ـ د كم خبريه تعريف: چي په ده سره كنايه دعدد كثيرڅخه كيږي پر طريقه د اخبارلكه: " كم كتابٍ عندي، اي عندي كتبٌ كثيرةٌ ".

د كم خبريه عمل:

د كم خبريه تميز به مفرد مجرور وي لكه: "كم مالٍ انفقت" او كله كله جمع وي لكه:"كم رجالٍ لقيتهم".

## د كم استفهاميه او خبريه په اشياؤ خمسه وو كي اشتراک دي

۳ـ ضابطه: د كم استفهاميه او خبريه په اشياؤ خمسه وو كي اشتراک دي:۱ـ دواړه كنايه دعدد د مجهول څخه كوي كه جنس وي اوكه مقدار.۲ـ په اسميت كي شريكان.۳ـ په بناءعلی السكون.۴ـ په لزوم د تصد يركي يعنی په صدارت د كلا م كي.۵ـ په احتياج الى التميز.

## امور خمسه وو كښي افتراق دي

په امور خمسه وو كي افتراق:۱ـ د كم استفهاميه تميز مفرد منصوب، او د كم خبريه تميز مفرد مجرور وي او كله جمع مجرور.

۲ـ كم استفهاميه په ماضي پوري خاص نه دي، لكه:" كم غلا ماً ستشتريه".

كم خبريه په ماضي پوري خاص دي لكه:" كم غلمان سألتهم".

۳ـ په كم خبريه كي احتمال د صدق او كذ ب سته بخلا ف د استفهاميه.

۴ـ په كم خبريه كي د مخاطب څخه جواب مطلوب نه وي بخلا ف د كم استفهاميه.

۵ـ د كم خبريه او تميزپه مابين كي فاصل د ضرورت په وخت كي جائز ده بخلاف د كم استفهاميه بغير د ضرورت څخه هم جائز دي.

د كم استفهاميه او خبريه د معرفت طريقه:

۴ـ ضابطه: كه چيري د كم څخه وروسته د مخاطب صيغه وه نو "كم" استفهاميه دي، اوكه چيري د"كم" څخه وروسته د متكلم صيغه وه نو بيا "كم"خبريه دي.

## د كم د لفظ اعراب او په تركيب كي د ده واقع كيدل

۵ـ ضابطه: د كم د لفظ اعراب او په تركيب كي د ده مرفوع او يا منصوب اويا مجرور واقع كيدل: د كم څخه وروسته چي كم فعل راځي كه په هغه كي دعمل استعداد موجود وو نو كم به منصوب محلا وي،

او په ده كي نصب په دوو صورتو كي راځي

١ـ كه چيري تميز ظرف وو نو بيادي مفعول فيه راځي لكه:" كم يوم سرت"وكم يومٍ صمتُ".
٢ـ كه چيري تميز مصدر وو نو بيادي مفعول مطلق راځي لكه:
"كم ضربةً ضربْتَ، كم ضربةٍ ضربتُ".
٣ـ كه چيري تميز نه ظرف وو او نه مصدر نو بيا مفعول به راځي لكه :
"كم رجلاً ضربت، كم غلام ملكتُ.

مجرور محلاً: كم كله مجرور راځي چي كله د ده څخه مخكي مضاف وي او يا حرف جر وي لكه:"بكم رجلاً مررتَ، وعلى كم رجلٍ حكمتُ".

مرفوع محلاً: كم هلته مرفوع راځي چي دغه دوه امرونه يولانه وي واقع سوي :١ـ په فعل كي استعداد دعمل نه وي.
٢ـ او مخكي حرف جر او يا مضاف نه وي په دغه وخت كي دي مرفوع محلاً وي اود د مرفوع والي په دوو شكلو سره راځي:١ـ دمبتداء.٢ـ د خبر.
او د ده دارمدار پر تميز دي كه د د تميز ظرف نه وو نو بيا دي مرفوع وي محلاً مبتداء به وي لكه:
"كم رجلاً اخوكَ، كم رجالٍ ضربتهم".
اوكه د ده تميز ظرف وو نو بيا دي مرفوع محلاً خبر مقد م دي لكه :
"كم يو ماً سفرک، وكم شهرٍ صومي".

قوله: قسم دوم در عوامل معنوي:

تشريح : دعامل معنوي تعريف او اقسام مخكي تير سوي دي بيايي نه راګرځو

## د مبتداء تعريف او احكام

د مبتداء تعريف:"هوَ اسمٌ او بمنزلته مجردٌ عن العوامل اللفظية او وصف رافعٌ لاِسمٍ ظاهرٍ لكه:
" الله ربنا، وان تصوموا خيرلكم".

د مبتداء د پاره پنځه حكمونه دي:١ـ "وجوب الرفع "يعني رفع باندي ويل واجب ده ليكن كله كله "من" او"با" زائده او د"رب" حرف جر په وجه مجرور سي لكه:"بحسبک الله ،هل من خالقٍ غيرالله يرزقكم، يا ربَّ كاسيةٍ في الدنيا عارية يو م القيامة".
٢ـ وجوب كونه معرفةً" يعني د مبتداء معرفتوب واجب دي لكه :" محمدٌ رسول الله ِ".
يا نكره مفيد يا مخصصه وي او مبتداء چي مفيد اويا مخصصه ګرځي هغه ځوارلس ځايونه دي:
١ـ لفظاً په اضافت سره لكه:"خمس صلواتٍ كتبهن الله ".
او يا معنًا په اضافت سره لكه :"قل كلٌ يعمل على شاكلته اي كلٌّ احدٍ".
٢ـ په وصف لفظي سره لكه:"ولعبدٌ مؤمنٌ خيرٌ من مشركٍ".
يا په وصف تقد يري سره لكه :"شراهر ذانابٍ اي شرٌ عظيمٌ".
يا په وصف معنوي سره لكه:"رجيلٌ عندنا اي رجلٌ حقيرٌ"، ځكه په تصغير كي معنى دوصف وي.
٣ـ چي مبتداء نكره وروسته ترنفي راسي لكه : "ماالحدٌ عندنا"
يا تراستفهام وروسته لكه:"أَإِلٰهٌ مع الله ".
يا تر "لولا"وروسته لكه:"لولا اصطبارٌ لأَودى كلُّ ذِي مقةٍ"
يا تراذا مفاجاتيه وروسته لكه:"خرجت فاذا اسدٌ رابضٌ".

۴ـ چې د مبتداء خبرظرف راسي او يا جارمجرور مقدم راسي لکه:"وفوقَ کل ذي علمٍ عليمٌ، لکل احد کتابٌ".

۵ـ مبتداء نکره عامله په معمول کې وي لکه:"اعطاءٌ قرْشاً في سبيلِ العلمِ ينهضُ بالامة" د لته اعطاء عمل د نصب کړي دي په قرشاً کې.

۶ـ چې نکره مبهمه واقع سي لکه :"اسمآء شرط مثال"من يجتهدْ يفلح"يا استفهام وي لکه:"من مجتهدٌ، وکم علماً في صدرک" يا "ما"تعجبيه وي لکه:"مااحسن العلمَ"يا "کم"خبريه وي لکه :"کم مأثرةٍ لکَ".

۷ـ چې نکره فائده دعا ورکوي خواه دعا دخير وي لکه:"سلامٌ عليکم" او که د شر لکه: "ويلٌ للمطففين".

۸ـ چې نکره د موصوف پر ځاي ودريږي لکه:"عالمٌ خير من جاهلٍ، اي رجلٌ عالمٌ".

۹ـ چې نکره صدر د جملې حاليه واقع سي خواه مرتبه په واو سره لکه :"سرينا ونجمٌ قدض اَضاء" او که په غير سره وي لکه :"کلُّ يومٍ تراني مد يةٌ بيدی".

۱۰ـ چې نکره عطف سي پر معرفه باندي لکه:"خالدٌ ورجلٌ يتعلمان النحوَ" اويا معرفه عطف سي پرنکره باندی لکه:"رجلٌ وخالدٌ يتعلمان الصرف".

۱۱ـ چې نکره عطف سی پر معرفه موصوفه باندي لکه:"قولٌ معروفٌ ومغفرةٌ خيرٌ من صدقة يتبعها أذًى". او يا معرفه موصوفه عطف سی پر نکره باندي لکه :" طاعة وقولٌ معروفٌ".

۱۲ـ چې د نکري څخه مراد حقيقت جنس وي نه فرد واحد لکه:"تمرة خيرٌ من جرادَةٍ".

۱۳ـ چې نکره جواب واقع سي دهغه څاکي چې هغه وايي "من عند ک"

۱۴ـ چې نکره دلالت پرتنويع او تفصيل او تقسيم باندي کوي لکه:"فاَ قُبلتُ زحْفًا على الرکبتين، فثوبٌ لبستُ وثوبٌ اجرٌ".

دريم حکم: "جواز حذ فه" ان دل عليه د ليل "يعني د مبتداء حذف کول جائز دي که چيري يو دليل موجود وو لکه څوک سوال کوي "کيف سعيدٌ" د ده په جواب کې وويل سي "مجتهدٌ" اي هو مجتهدٌ"

څلرم حکم: "وجوب د حذف" يعني د مبتداء حذف کول واجب دي په څلور ځايوکي:

۱ـ چې پرمبتداء باندي جواب د قسم دلالت وکي لکه :" في ذِمتي لأَفعلنَّ کذَا اي في ذِمتي عهْدٌ لافعلنَّ کذا".

۲ـ که چيري خبر د مبتداء مصد روو نائب وو د خپل فعل څخه لکه:" صبرٌ جميلٌ اي صبرِي صبرٌ جميلٌ.

۳ـ که چيري خبر مخصوص بالمدح يا بالذم راغلي وو وروسته تر"نعم"اويا "بئس" لکه:"نعم الرجل ابو طالبٍ اي هو ،وبئس الرجلُ ابو لهبٍ اي هو"

۴ـ که چيري خبر په اصل کي نعت وو بيا وروسته د نعتيت څخه قطع سوي وو او په معرض د مدح اويا ذم او ترحم کي راغلي وو لکه :" خذْ بيدي زهَيْرٍ الکريمُ اي هو الکريمُ، دَعْ مجالسة فلان اللئيمُ اي هو اللئيم، واحسن الى فلان المسکين اي هو المسکين".

۵ـ حکم: چې دا به پرخبر مقد مه وي کله کله د خبر تقديم واجب وي او کله جائز وي په شپږ ځايو کي تقديم د خبر واجب دي.

## مبتداء پر دري قسمه ده

**۱ـ ضابطه:** د مبتداء اقسام مبتداء پر د ري قسمه ده:۱ـ كله اسم صريحي وي لكه :"الكريمُ محبوبٌ".
۲ـ كله ضمير منفصل وي لكه :"انتَ مجتهدٌ".
۳ـ كله مؤول په مصدر سروي لكه :"وأَنتصوموا خيرلكم اي صَوْمُكمْ خيرلكم"د لته فعل په تاويل د مصدر مرفوع سره دي.

## مبتداء پر دوه قسمه ده

**۲ـ ضابطه:** مبتداء پر دوه قسمه ده:۱ـ ذات چي بحث يي مخكي تيرسو.۲ـ صفت وي.
مبتداء چي صفت واقع سي د دي دوه شرطونه دي:۱ـ مبتداء به اعتماد کړي وي پر نفي خواه په حرف سره وي لكه :"ماناحٌ الكسْلانِ" يا نفي په فعل ناقص سره وي لكه :"ليس كسولٍ ولداک" يا په لفظ د"غير"سره وي لكه :"غير كسول ابناءک"
دوهم شرط: چي صفت به اعتماد کړي وي پر استفهام باندي خواه په حرف سره وي لكه:"هل محبوبٌ المجتهدون"يا بغير حرف سره وي لكه :"كيف سائر اخواکَ".

## د مبتدء د خبر احكام

**۳ـ ضابطه:** احكام د خبر:د خبر اوه احكام دي:۱ـ وجوباً به مرفوع وي.
۲ـ حكم: خبربه اصلاً نكره مشتقه وي او كله جامدهم راځي لكه :"هذاحجرٌ".
۳ـ حكم: چي خبر به مطابق وي وجوبا د مبتداء سره د لسو شرطو سره چي دهغه ذكرمخكي تيرسوي دي.
۴ـ حكم: كله كله خبرحذ ف كيږي د قريني د وجود په وخت كي لكه:"خرجت فاذا الاسدُ اي فاذا الاسد واقفٌ".
۵ـ حكم: كله كله وجوبا حذ ف كيږي په ځوځايوكی :۱ـ چي خبر په حيز د جواب د قسم كي راسي لكه :"لعمرک لافعلن كذا، اي لعمرک قسمي، اي حياتک هي قسمي".
۲ـ د"لولا" څخه وروسته چي راسي لكه :" لولاعليٌ لهلک عمرُ ،اي لولاعلي موجودٌ".
۳ـ د"لا" د نفي جنس څخه وروسته عام طور خبرحذ ف كيږي لكه :"لاشکَّ اي لاشکَّ فيه".
۴ـ د "واو" څخه وروسته هغه واو چي په معنی د"مع" سره وي لكه:" انت وشانک اي انت مع شانک متروكاً".
۵ـ چي خبر ظرف او يا جار مجرور وي بيا هم حذف كيږي لكه:"زيدٌ في الدار اي ثابتٌ في الدار".
۶حكم: خبر متعد د هم راځي چي مبتداء واحده وي لكه :"خليلٌ، كاتبٌ شاعرٌ، عالمٌ".
۷حكم: اصل په خبر كي تاخير دي كله كله دي مقدم كيږي وجوبا او يا جوازاً.
والله اعلم بالصواب.
ختم شد عوامل نحو مقد مة الكتاب و ابواب الثلا ثة بتوفيق الله تعالى وعونه.
حقاني عفاعنه .
تاريخ ۷ جماد الثاني ۱۴۴۲.
تمت تنقيح وتهذ يب تاريخ ۱۹جماد الثاني ۱۴۴۲.
نظر ثالث :۱۵ رجب۱۴۴۲.

قوله: خاتمه در فوائد متفرقه دانستن آن واجب است وآن سه فصل است:

تشریح: هرکله چي فارغ سو مصنف د بیان څخه د مقد مي د کتاب اود ابواب ثلا ثه نویي شروع وکړل په خاتمه د کتاب چي د دي پیژند ل هم ضروري دي د طالب العلم نحو لره،
او په دي مقد مه کي دري فصلونه دي اول فصل په بیان د توابع کي دي دوهم فصل په بیان د منصرف او غیر منصرف کي دي د ریم فصل په بیان د حروف غیرعامله کي دي،
اوس شروع په فصل اول کي ده.
فصل اول درتوابع.

## د تابع تعریف

**تعریف:** تابع په لغة کي وروسته كیدونکي ته وایی، او په اصطلاح کي ما ذ کر في الکتاب ته وایی.

قوله: بدا نکه تابع لفظي است:

تشریح : تابع به معرب وي په اعراب سابق یعني اول که معرب په رفع سره وي نو دوهم به هم معرب وي په رفع سره، او که په نصب سره نو دوهم به هم معرب وي په نصب سره، او که په جرسره معرب وو نو دوهم به هم معرب وي په جر سره یعني عامل د دواړو به یو وي لکه: جائني رجلٌ عالمٌ اوس رجل متبوع دي او عالم تابع دي اوعامل په دواړو کي جاء دي او دواړه مرفوع دی .

۱ـ **ضابطه:** په جهت واحده سره یعني اول چي په هر وجه سره معرب وي دوهم به هم په هغه وجه سره معرب وي که هغه فاعل وي نو دوي به هم فاعل وي، او که هغه مفعول وي نودی به هم مفعول وي، او که هغه مضاف وي نودي به هم مضاف وي وغیر.

قوله:وتوابع پنج نوع است: ۱ـ صفت.۲ـ عطف بیان.۳ـ بدل.۴ـ عطف بالحرف.۵ـ تاکید.

## معمول پر دوه قسمه دي

**خلا صه:** دا چي معمول پر دوه قسمه دي ۱ـ معمول اصلي .۲ـ معمول فرعي.

**معمول اصلي تعریف:** هغه معمول دي چي د دا دوویشته معمولاتو څخه وي هغه دوویشته معمولات اته مرفوعات، اودولس منصوبات، دوه مجرورات.

**معمول فرعي تعریف:** چي د دا دوویشت معمولات څخه نه وي بلکی په دي کي د یوه تابع وي هغه پنځه داني دي:۱ـ صفت.۲ـ بدل.۳ـ تاکید.۴ـ عطف بالحرف.۵ـ عطف بیان.

تشریح: وجه د حصر په دي پنځو کي: د ا تابع به خالي نه وي یا به مقصود بالنسبت وي اویا به نه وي. که وو بیا به خالي نه وي یا به سره د متبوع وي، اویابه بیله متبوع: اول معطوف بالحرف دي، او دوهم بد ل.
او که مقصود بالنسبت نه وو بیا به خالي نه وي یا به دلالت کوي پر معنی د متبوع او یا به یي نه کوي اول نعت دي، او دوهم به بیا خالي نه وي یا به مقرِرِد معنی د متبوع وي او یا به نه وي که اول وو تاکید دي، او که دوهم ووعطف بیان دي.

قوله: اول صفت واو تابعیست :

## د صفت تعريف

تشريح : صفت هغه تابع دي چي دلالت کوي پرهغه معنى چي موجود وي په موصوف کي اود يته صفت بحاله وايي.

ضابطه: د اسماء اقسام په اعتبار د صفت او موصوف سره:اسم پرڅلور قسمه راځي:

١ـ بعض هغه اسماء دي چي موصوف اوصفت دواړه واقع کيدلي سي لکه :اسم اشاره لکه:"مررت بزيدٍ وبهذا العالم، مررت بزيدٍ هذا".

ليکن که چيري د اسم اشاري صفت جامد معرف باللام وو نوبيا د هغه عطف بيان جوړ ول راجح دي لکه: مررت بهذا الرجلِ".

٢ـ بعض اسماء دي چي صرف موصوف جوړيږي صفت نه جوړيږي هغه لکه:اعلا م"زيدٌ،بکرٌ،وعمر.

٣ـ بعض هغه اسماء دي چي هغه صرف صفت جوړيږي موصوف نه جوړيږي هغه لکه:لفظ د"اَیُّ" کماليه لکه:"مررت برجلٍ اَیُّ رجلٍ اي کاملٌ في الرجوليةِ".

٤ـ بعض اسماء دي چي نه صفت جوړيږي اونه موصوف هغه لکه:ضمائر او اسماء منقوله في البناء لکه:اسماء شرط، استفهام، "کم"خبريه "قبل،بعد".

تنبيه: د دي مکمل نوربحث مخکي تير سوي دي بيايي نه راګرځو وو.

قوله: دوم تاکيد واوتابعيست که حال:

تشريح: تاکيد حال د متبوع مضبوط وي په نسبت د دي متبوع کي يعني چي مسند اليه په دي نسبت کي متبوع وي نه غير د دي د پاره چي شک د سامع پاته نسي لکه: زيدٌ زيدٌ قائمٌ په دي مثال کي دوهم زيد د اول د پاره تاکيد دي مقصود د دي تاکيد څخه د اول زيد چي مسند اليه دي دهغه پختګي اوتقرر دي چي د قائم نسبت ورته سوي دي دويم زيد ثابتوي چي څه شک په دي کي نسته .

## تاکيد پردوه قسمه دي:١ـ تاکيد بالنسبت.٢ـ تاکيد په شمول کي.

١ـ ضابطه: تاکيد پردوه قسمه دي: ١ـ تاکيد بالنسبت. ٢ـ تاکيد په شمول کي.

د اول بيا مخکي تير سو دوهم .

د رشمول : د دي مقصد دا دي چي د سامع دا يقين سی چي متبوع خپلو تمامو افرادو لره شامل دي اوټول افراد د متبوع مراد دي د د پاره تاکيد راوړل کيږي مثال لکه: "جاء القوم کلهم کلهم" تاکيد د قوم د پاره دي د دي د پاره چي دا ثابته سي چي مجئ حکم پر ټول افرادو د قوم صادق دي اودا ورلره شامل دي.

قوله: وتاکيد بر دوقسم است :

## تاکيد پر دوه قسمه دي:١ـ لفظي.٢ـ معنوي.

تشريح: تاکيد پر دوه قسمه دي:١ـ لفظي.٢ـ معنوي.

د تاکيد لفظي تعريف: په تکرار د لفظ اول سره وي عام ترديي چي اسم وي ظاهراو مضمراً فعلاً ام حرفا ام جملة

د جملي مثال لکه:"کلا سيعلمون ثم کلا سيعلمون" د جملي د تاکيد د پاره دا ضروري ده چي په حرف عاطفه سره به تاکيد کوي.

د مفرد تاکيد: فنکاحها باطل باطل باطل.
د حرف د تاکيد د پاره تکرار د اسم هم ضروري دي انَّ زيداً انَّ زيداً.

**د تاکيد معنوي تعريف:** هغه تاکيد دي چي په يوڅو مخصوصه الفاظوباندي راځي د پاره د دي چي د متبوع معنى مضبوطه کي لکه:" فسجد الملا ئکة کلُّهمْ اجمعون".

**١- ضابطه:** د تاکيد معنوي د پاره يو څومخصوصه الفاظ دي: ١- نفس.٢- عين. کلا کلتا.۴- کل . ۵- جميع.۶- اجمع.٧- اکتع.٨- ابتع.٩- ابصع.

**٢- ضابطه:** نفس او وعين دا په معنى د ذات سره دي د واحد تثنيه جمع مذ کر او مؤنث ټولو د پاره راځي.

**٣- ضابطه:** دا به هميشه د پاره مضاف وي وضميرمتصل د مؤکد ته د دوي اود دوي د مضاف اليه ضمير مؤکد سره مطابقت لازم دي په افراد او جمع کي.

**۴ - ضابطه:**په تثنيه کي دري صورتونه جائز دي:١- "مفرداً: جائني الزيدان نفسها.
٢- تثنيه: جائني الزيدان نفساهما.٣- جمعا: جائني الزيدان انفسهما".

**۵ - ضابطه:** د تاکيد معنوي په الفاظو کي "نفس،عين" په باء زائده سره مجرور هم ويلي سي مثال لکه:جاء زيدٌ بنفسهم.

**۶- ضابطه:** "کلا، کلتا" دا د تثنيه تاکيد د پاره راځي اومضاف به وي ضمير د مؤکد وطرفته نو د سهوًا احتمال به ختم کړل سي مثال لکه: "جائي الزيدان کلاهما".

**٧- ضابطه:** "کل" ذو اجزاؤ د تاکيد د پاره واقع کيږي لکه: "جاء القوم کله".

**٨- ضابطه:** "کل" کله کله خپل مؤکد ته مضاف وي په دغه وخت کي به صفت وي تاکيد به نه وي لکه: رئيت الرجل کل الرجل بمعنى کا مل.

**٩- ضابطه:** "اجمع، جمعاء، جمع، اجمعين، داد شمول د احاطي د تمامو افرادو د پاره راځي. لکه « فسجد الملا ئکة کلهم اجمعون»

**١٠ ضابطه:**او کله د تاکيد د پاره راځي بغير د کل څخه لکه : « لاغوينهم اجمعين»

**١١- ضابطه:** د تثنيه د تاکيد د پاره نه راځي بخلا ف د الکوفين واخفش لکه: جائني الزيدان اجمعا والهندان جمعاوان.

**١٢- ضابطه:** "اکتع، ابتع، ابصع" دا د"اجمع" تابع دي په تاکيد کي نو دهغي څخه مخکي نسي کيدي او نه هم بغيرد "اجمع" څخه استعمال د دي جائز دي.

**١٣- ضابطه:** "جميع، عامة" دا د "کل" حکم لري البته د دوي په تاکيد کي استعمال قليل دي.

قوله: سوم بد ل واو تابعيست:

## د بد ل تعريف

**تعريف:**بدل په لغة کي عوض ته ويل کيږي لکه:" په قرآن کريم کي راځي "عسى ربنا ان يبدلنا خيرًامنها".

اوپه اصطلاح کي: بد ل هغه تابع دي چي په کلا م کي مقصود بالنسبت هم دي وي او مبد ل منه په ذ کرکی صرف تمهيد وي او د ده متبوع ته مبدل منه وايي.

## بد ل پرڅلور قسمه دي

۱ـ ضابطه: بد ل پرڅلور قسمه دي:۱ـ بد ل کل.۲ـ بد ل الاشتمال.۳ـ بد ل البعض.۴ـ بدل الغلط.

بد ل الکل تعريف:

۲ـ ضابطه: د يته وايي چي د د مصداق به هغه وي کم چي د مبد ل منه مصداق دي
يعني د بدل او مبدل منه مصداق به يو وي لکه:"جائني زيد اخوک" زيد مبد ل منه اخوک بدل د دواړو مد لول يو دي د يته بد ل مطابق هم وايي.

بد ل الاشتمال تعريف:

۳ـ ضابطه: د يته وايی چي دا د مبد ل منه څخه نه جزء وي او نه کل لکه: "سلب زيدٌ ثوبه"
زيد مبدل منه ثوب بد ل دي ثوب نه عين دي د زيد څخه او نه هم جزء، بلکي د دواړو ترمابين تعلق داشتمال دي.

بدل البعض تعريف:

۴ـ ضابطه: ديته وايي چي د مبد ل منه جزء به وي عام تر دي چي دا جزء قليل وي
لکه : "اکلت البطيخة ثلثها"، او که به ورسر مساوي وي، "اکلت الرغيف نصفه" .
او که به تر کثير وي لکه: "الکلا م ثلاثة اقسام اسم وفعل وحرف".

۵ـ ضابطه: بد الکل من البعض جمهورنحاة د دي قائل نه دي. ليکن بعض نحاة د دي قائل دي علا مه سيوطي په قرآن کي د دي نظير پيش کړي دي «" فاولئک يدخلون الجنة ولايظلمون شيئا جنت عدنٍ» .بعض وايی چي دا بد ل الکل من الکل دي اوپه الجنة کي الف لام برائي جنس دي.

## بدل او مبدل منه په اعتبارد ظاهر او مضمرسره پرڅلور قسمه دي

۶ـ ضابطه: بد ل او مبد ل منه په اعتبارد ظاهر او مضمرسره پرڅلور قسمه دي: ۱ـ دواړه مظهر لکه: "جائني زيدٌ اخوک".
۲ـ بد ل المضمر من المظهر لکه: "ضربته اياه".
۳ـ بدل المظهر من المضمرلکه: "ضربت زيداً اياه".
۴ـ بد ل المظهر من المضمرلکه :« وما انسنيه الاالشيطن ان ا ذکره» .

## بد ل او مبدل منه په اعتبار د تعريف او تنکير سره پر څلور قسمه دي

۷ـ ضابطه: بد ل او مبدل منه په اعتبار د تعريف او تنکير سره پر څلور قسمه دي:
۱ـ معرفيتن لکه: « اهدناالصراط المستقيم».
۲ـ نکرتين لکه: « ان للمتقين مفازاً حدائق» .
۳ـ بد ل معرفه مبد ل منه نکره لکه: « الی صراط مستقيم صراط الله الذي» .
۴ـ بد ل نکره مبد ل منه معرفه « لنسفعاً با الناصية نا صية» .

۸ ـ ضابطه: که چيری مبدل منه متضمن معنی داستفهام يا شرط لره وو نو په بدل کي په همزه

اویا په حرف شرط سره تفصیل ضروري دي داستفهام مثال لکهک "کم مالک اَعشرون امثلاثون، ما صنعت اَخیرا ام شراً" دشرط مثال: لکه "ماتصنع ان خیراً وان شراً تجْزَبه، من یقم ان زیدٌ وانْ عمروٌ اقم معه".

۹ـ ضابطه: ۱ـ فعل د فعل څخه بد لواقع کیدي سي ،۲ـ اسم داسم څخه بدل واقع کیدي سي

۳ـ جمله د جملي څخه بدل واقع کیدي سي .

د اول مثال لکه : "من یفعل ذ لک یلق اثا ما یضاعف له العذاب"

د دوهم مثال: جائني زیدٌ اخوک.

د دریم مثال لکه:"واتقوا الذي امدکم بماتعملون،امد کم بانعام وبنین" د لته ټول جمله د امد کم څخه بد ل واقع سوي ده .

نوټ: حرف هیڅ کله بد لنسي واقع کیدي.

قوله: چهارم عطف بحرف واو تابعیست :

## معطوف بالحرف

تشریح: معطوف بالحرف هغه تابع دي چي مقصود په نسبت سره تابع اومتبوع دواړه وي اوذ کروي وروسته د حرف عاطفه څخه د دي بل نوم عطف نسق هم دي نسق معنی ترتیب .

۱ـ ضابطه: عطف د اسم پر ضمیر مرفوع متصل باندي په د رو طریقو سره کد لي سي:

۱ـ ترتاکید وروسته په ضمیر مرفوع منفصل سره لکه « اسکن انت وزوجک الجنة.

۲ـ وروسته ترفصل لکه : ما اشرکنا ولآ باءُ نا.

۳ـ عطف په تاکید او فصل دواړو سره لکه: فکبکبوا فیها هو والغاؤن» .

۲ـ ضابطه: عاطف د اسم پرضمیر مجرور متصل باندي کول جائز دي په اعادي سره د جار اوجار عام دي که حرف وي، اوکه اسم لکه: لها وللا رض علیها وعلی الفلک تحمولون.«قل الله ینجکم منها ومن کل کرب».

۳ـ ضابطه: عطف د اسمینو پر معمولین دعامل واحد جائز دي په اتفاق سره

لکه : هو الذي جعل لکم الارض فراشاوّ السماء بناءً.

۴ـ ضابطه: عطف د جمله خبر یه پر جمله انشائیه باندي په اتفاق سره جائز نه دي.

۵ـ ضابطه: عطف د جملي پر مفرد اسم جامد محض باندي با الاتفاق سره جائز نه دي.

۶ـ ضابطه: عطف د مشتقي پر جمله فعلیه باندي جائز دي په اتفاق سره

لکه: یخرج الحي من المیت ومخرج المیت من الحي.

قوله:پنجم عطف بیان واوتابعیست :

## د عطف بیا ن تعریف

تشریح: عطف بیا ن هغه تابع ته وایی چي صفت نه وي، لیکن د خپل متبوع وضاحت کوي.

وجه د نامه د يته ځکه عطف بيان وايي چي دي د خپل متبوع بيان كوي لكه: اقسم بالله ابوحفص عمرُ ابو حفص كنيه د عمر فاروق ده ليكن په دي كنيه سره عمر فاروق مشهور نه دي نو اكتفاء يي په دي ونه كړل بلكي اسم محضه يي ذ كر كړي.

۱ـ ضابطه: عطف بيا ن وضاحت د خپل متبوع كوي.

۲ـ ضابطه: وضاحت كله په ذ كرد متبوع او تابع دواړو سره يعني مبين او عطف بيان دواړوه ذ كر وي لكه: جائني ابوعمر وعبد الله .

۳ـ ضابطه: كله كله عطف بيان د تخصيص د پاره راځي كه نكره د نكري عطف بيان واقع سي لكه: « من ماء صد يد.» «او كفارة طعام مسكين» كفارة مبين او طعام مسكين ورته عطف بيان.

۴ـ ضابطه: عطف بيا ن د خپل متبوع په لسو شيانو كي تابع وي لكه: رفع نصب جر، تذ كير، تانيث، تعريف تنكير، وحدة تثنيه جمعه.

۵ـ ضابطه: فرق دعطف بيان اوبد ل په مابين كي معنوي ثابت دي دا دي كه اول مقصود بالحكم وو نو عطف بيان دى اوكه دوهم مقصود بالحكم وو نو بدالكل.

۶ـ ضابطه: اسم اشاره چي ذ كرسي پرته د مشاره اليه نو په هغه كي دري تركيب جائز دي په طريقه د كليت سره، او ځلرم تركيب جائز دي په طريقه د جزئيت سره .

فصل دوم دربيان منصرف وغير منصرف:

## اسم معرب پر دوه قسمه دي

تشريح په دي فصل كي مصنف د تقسيم د اسم معرب كوي وقسمينو ته چي :۱ـ منصرف. ۲ـ غير منصرف.

**د منصرف تعريف:** د يته وايي چي دوه سببه يا يوسبب د اسباب تسعه وودغيرمنصرف نه وي پكښى راغلي او اخير د ده مختلف كيږي په اختلاف دعواملو او تنوين او كسره پكښي راځي د يته اسم متمكن وايي.

**غير منصرف تعريف:** چي دوه سببونه اويايو سبب پكښي وي او اخيريې په اختلاف دعواملو هم نه مختلف كيږي او تنوين او كسره هم نه باندي راځي.

د دي پوره بيان مخكي تير سوي دي بيا يى نه راګرځوو صرف چي كم شيان هلته نه دي ذ كرسوي هغه به ذ كركوو.

او زان دعد ل شپږ دي

۱ـ ضابطه: او زان دعد ل شپږ دي: ۱ـ فُعال لكه ثُلث.۲ـ مفعل لكه : مثلث.۳ـ فُعل لكه اُخر. ۴ـ فَعل صفر.۵ـ فعال قطام.۶ـ فَعْل امسِ.

۲ـ ضابطه: عد ل او وزن فعل نه سره جمع كيږي ځكه او زان دعدل سماعي دي او اوزان د فعل قياسي دي وبينهما منا فات دي.

د انبياؤ په اسماؤ كي وه ـ۷ـ اسماء منصرف دي:

۳ـ ضابطه: د انبياؤ په اسماؤ كي وه ـ۷ـ اسماء منصرف دي: ۱ـ محمد صلى الله عليه وسلم.

۲ـ صالح.۳ـ هود.۴ـ شعيب.۵ـ نوح.۶ـ لو ط.۷ـ شيث.باقي ټول غير منصرف دي.

## په اسماء ملا ئکة کي ځلور منصرف دي:

۴ـ **ضابطه:** په اسماء ملا ئکة کي ځلور منصرف دي :۱ـ رضوان.۲ـ نکير.۳ـ منکر.۴ـ مالک. دا عربي اسماء دي، باقي تمام غير منصرف دي عجمي دي.

## اسماء الشهور شپږ غيرمنصرف دي:

۵ـ **ضابطه:** اسماء الشهور شپږ غيرمنصرف دي:۱ـ جماد الاولی.۲ـ جما دالاخری.۳ـ شعبان. ۴ـ رمضان.۵ـ صفر.۶ـ رجب. باقي شپږ منصرف دي.

فصل سوم درحروف غیر عامله:

## حروف غير عامله شپاړ س قسمه دي

د ريم فصل په بيان کي د حروف غيرعامله دي، او د ا شپاړس ـ۱۶ـ قسمونه دي او دا حروف دي چي رفع، او نصب، او جر، اوجزم، نه ورکوي يعني عامل نه واقع کيږي بلکي د يو څو فوائدو د پاره واقع کيږي چي مصنف يي په دي فصل کي ذ کر کوي.:

| | |
|---|---|
| ۱ـ حروف تنبيه. | ۲ـ حروف ايجاب. |
| ۳ـ حروف تفسير. | ۴ـ حروف مصد ريه. |
| ۵ـ حروف تحضيض. | ۶ـ حروف توقع. |
| ۷ـ حروف استفهام. | ۸ـ حروف ردع. |
| ۹ـ تنوين. | ۱۰ـ نون تاکيد. |
| ۱۱ـ حروف زيادت. | ۱۲ـ حروف شرط. |
| ۱۳ـ لولا. | ۱۴ـ لام مفتوح برای تاکيد. |
| ۱۵ـ ما بمعنی مادام. | ۱۶ـ حروف عطف. |

قول اول حروف تنبیه وان سه است:

## د تنبيه تعريف

**تشريح:** تنبيه په لغة کي آګاهي ته وايي، او په اصطلاح کي هغه حروف دي چي راوړل کيږي په صدر د جمله فعليه يا اسميه کي د دي د پاره چي غفلت د سامع او مخاطب څخه لري کړي او متکلم وکلا م ته متوجه سي

۱ـ **ضابطه:** حروف تنبيه د ري دي :۱ـ الا.۲ـ اما.۳ـ ها.

۲ـ **ضابطه:** آلا د تنبيه څخه بغير د ځلور معناګانو د پاره راځي :

| | |
|---|---|
| ۱ـ تمنی لکه:الاتنزل بنا فتصب خيراً. | ۲ـ عرض « آلا تحبون ان يغفر الله لکم» |
| ۳ـ انکار او توبيخ لکه: آلازيدٌ قائم. | ۴ـ تحضيض « آلاتقا تلون قوما نکثوا ايمانهم». |

۳ـ **ضابطه:** دوهم حرف د تنبيه اما دي لکه:"اما لاتفعل". "اما والذي ابکی واضحک".

۴ـ **ضابطه:** دريم حرف : ها دي دا پر اسم اشاره باندي دا خليږي د ا رکم پرضمير باندي لکه: "هآ انتم هٰؤلاء".

او دارکم په "ايُّ" پوري متصل کيږي چي حروف نداء پري داخل وي "يا ايها الذين آمنوا".

**۵ـ ضابطه:** "ها" اسم فعل په معنی د "خذ" سره هم راځي لکه:"هازيداً"اي خذ زيداً اوپه اخير د دي پوري حرف خطاب هم متصل کيږي لکه:"هالک".

قوله: دوم حروف ايجاب وآن ششاست:

## حروف ايجاب

تشريح: دوهم حروف ايجاب دي ايجاب مصدر د باب افعال دي په معنی د ثابت کولو سره دا هم د يوشي د تقرراو ثبات د پاره وضع سوي دي.

**۱ـ ضابطه:** حروف ايجاب شپږ دي:۱ـ نعم.۲ـ بلي.۳ـ اجل.۴ـ اي.۵ـ جير.۶ـ انَّ.

**۲ـ ضابطه:**" نعم، اجل" د متکلم د کلام تصد يق د پاره راځي.

**۳ـ ضابطه:** "نعم" وضع سوي دي د مضمون د کلا م سابق د اثبات د پاره عام ترديچي کلا م سابق انشاء مثبت وي، او که منفي، اومنفي منفي ثابتوي، او مثبت مثبت ثابتوي لکه : "آجاء زيدٌ" په جواب کي "نعم" ويلي سي چي يقنيا زيد راغلي دي "اما جاء زيدٌ" په جواب کي نعم مطلب دادي چي يقينا زيد نه دي راغلي.

**۴ـ ضابطه:**"بلي" راځي د جواب د مانا فيه يعني نفي د کلا م سابقه مثبت کوي لکه:د "ماقام زيد" په جواب کي "بلي" مطلب دا چي دا سي نه دي بلکي "زيد" راغلي د ي.

**۵ـ ضابطه:** "جير" او "ان" راځي د پاره د تصديق د خبرعام ترديچي منفي وي، اوکه مثبت .

قوله: سوم حروف تفسير وآن دواست اي وان :

## حروف د تفسير

تشريح: د ريم حروف تفسير دي او دا دوه دي : ۱ـ اي.۲ـ اَنْ.

د يته ځکه تفسير وايي چي تفسير وضاحت ته وايی اوپه دوي سره هم وضاحت د ابهام کيږي کم چي په کلا م کي راغلي وي.

**۱ـ ضابطه:**د "اي" د استعمال طريقه "اي" په معنی د ( يعني) سره راځي لکه "جائني ابو حامد اي احمد" او کله کله د جملي د تفسيرد پاهر هم استعماليږي لکه :" قطع رزقه اي مات" او د د مابعد په ترکيب کي عطف بيان او يا بد ل واقع کيږي معطوف نه واقع کيږي.

۲ـ ضابطه: د "اَنْ" د پاره شرط دا دي چي واقع کيږي په مابين د جملتين کي او اوله جمله به په معنی د قول سره وي« ونا د يناه ان يا ابراهيم » اي بلفظ "هو قولنا ان يا ابراهيم".

قوله:چهارم حروف مصدريه وآن سه است :

## حروف مصدريه

تشريح : ځلرم حروف مصدريه دي

تعريف: د ا هغه حروف دي چي ځيل مد خول په تاويل د مصدر سره اړوي.

تعداد:حروف مصد ريه د ري دي : ۱ـ اَنْ.۲ـ ما . ۳ـ وانْ.

۱ـ ضابط: دغه حروف مصدریه مد خول خپل په تاویل د مصدر سره اړوي ځکه ورته حروف مصدریه وایي .

۲ـ ضابطه: ان پر ما ضي او مضارع د واړو دا خلیږي لیکن عمل فقط په مضارع کي کوي.

قوله:پنجم: حروف تحضیض وان چها راست:

## حروف د تحضیض

تشریح: پنځم حروف د تحضیض دي او دا څلور دي.

۱ـ ضابطه: ۱ـ الاَ.۲ـ وهلا.۳ـ ولولا.۴ـ ولوما. دا حروف پر ماضي او مضارع د واړو دا خلیږی فرق دا دي چي په ما ضي کي معنی د توبیخ پید ا کوي، او په مضارع کي معنی د ترغیب پیدا کوي.

قوله:ششم: حروف تو قع وان قد است:

## حروف د توقع

تشریح: شپږم حروف د توقع دي او دا یواځي قد دي.

۱ـ ضابطه: اودا د پنځومعناوو د پاره راځي.:۱ـ توقع: یعني "امید" عام طور په دي صورت کي دي پر مضارع باندي راځي لکه:"قد یقد م الغائب الیوم" توقع ده چي غائب به نن ورځ راسي.

۲ـ تحقیق: لکه: "قد افلح المؤمنون"په تحقیق سره مؤمنان کامیاب سوه.

۳ـ تقریب: چي ماضي حال ته نیژ دي کوي لکه :"قد قام زیدٌ"

۴ـ تقلیل :خواه په فعل کوي لکه:"قد یصدق الکذوب قد یجود البخیل"

او که په متعلق د فعل کي وي:لکه:"قد یعلم ما انتم علیه"

۵ـ تقصیر: لکه "« قد نری تقلب وجهک في السماء ».

سوال: مصنف صیغه د جمعي ویلي ده او سره د دي چي تاوویل چي دا یواځي یوحرف دي؟

جواب:دا په اعتبار د کثرت د افرادو د قد سره یا طرد للباب.

قوله:هفتم: حروف استفهام وان سه است:

## حروف د استفهام

تشریح: وهم حروف د استفهام دي

تعریف: استفهام په لغت کي پوښتنه ته ویل کیږي، او په اصطلاح کي حروف داستفهام هغه حروف دي چي دوي د یو خبري د پوښتلو د پاره د جملي په شروع کي راوړل کیږي.

تعداد:اود ا دري د ي:۱ـ ما.۲ ـ همزه.۳ـ هل.

۱ـ ضابطه: هل او همزه پر جمله باندي دا خلیږي که اسمیه وي، او که فعلیه وي د اول مثال: "اَزیدٌ قائمٌ، وهل زیدٌ قائمٌ".

د دوهم مثال لکه : "جاء زیدٌ، وهل جاء زیدٌ". د ما مثال لکه: "ما اسمک".

قوله:هشتم : حروف ردع وآن کلااست:

## حروف د ر ع

تشریح: اتم حروف د ر ع دي

تعریف: ردع په لغت کي انکار ته وایي یا وغند لو ته، اوپه اصطلاح کي حرف ردع هغه حرف دي چي سامع د یو خبري څخه د بندلو او یا د دهمکي ورکولو د پاره استعمالیږي.

تعداد: او دا یواځي کلا دي په معنی د واپس کولو سره دي په معنی سره د حق هم راځي.

۱ـ ضباطه: کله چي په ابتداء د کلا م کي راسي قاله کسائي وقال ابوحاتم والفراء بمعنی نعم.

مثال د کلا چي په معنی د حق سره وي« کلا سوف تعلمون»

چي په معنی د ردع سره وي کلا م د مخاطب "زیدٌ یبغِضُک" یقال في جوابه "کلا"اي لیس الامرکماقلت.

قوله: نہم: تنوین وآن پنج است . د دي بیان مخکي تیر سوي دي په بیان د علا ماتو د اسم کي.

قوله: دهم نون تاکید:

تشریح:دا د مضارع او امراو نهي په اخیرکي راځي.

۱ـ ضابطه: نون تاکید پر دوه قسمه دي:۱ـ ثقیله.۲ـ خفیفه.نون ثقله مثال لکه : لیضربنَّ.

نون خفیفه مثال لکه: لیرضبنْ.

قوله:یازدهم حروف زیادة وآن هشت است:

## حروف د زیاد ت

تشریح: یولسم حروف د زیادت دي

تعریف:حروف زیا دت هغه حروف دي چي دوي په کلام کي زائد واقع کیږي لیکن د دوي معنی نه اخیستل کیږي که څه هم دوي با معنی حروف دي بلکی دوي د تحسین د کلام د پاره راوړل کیږي.

تعداد: اودا اته دي :۱ـ ان.۲ـ ما.۳ـ ان.۴ـ لا.۵ـ من.۶ـ کاف.۷ـ باء.۸ـ لام.

حروف زیادت د یته وایي چي د دوي په غورځولو سره اصلي معنی د کلا م ته تغیر نه په رسیږي.

سوال: بیا چي کله د دوي په سقوط معنا ته نقصان نه رسیږي نو بیا یي د څه د پاره راوړي په کلا م کي؟

جواب:د یوڅه فائدي د پاره، یا په لفظ کي، اویا په معنا کي وي لکه:"تحسین د کلا م، یا وزن د کلا م سجع ،تاکید.وغیره.

۱ـ ضابطه: د زیادت معنا دا چي دوي همیشه به زائد نه وي کله به دوي زائد مستعمل وي .

۲ـ ضابطه: "انْ"مخفف، د "ما" نا فیه او یا مصد ریه اویا "لما" څخه وروسته زائد وي لکه: "ما ان رئت زیداً".

۳ـ ضابطه: "اَنْ" اکثره د "ما" شرطیه څخه وروسته راځي « فلما ان جاء البشیر».

۴ـ ضابطه: "ما" زائده د "اذا ، متی ، اي، این،انْ" چي دوي شرطي وي استعمال وره کیږي "متی ما تذهب اذهب، این تجلس اجلس« اماترینَّ من البشر احداً» "اما" په اصل کي "ان ما" دي .

۵- ضابطه: "لا" زائده اکثره د "واو" عا طفه څخه بعد راځي.
او داقسم مضارع متکلم څخه مخکي راځي. "ما عندي د رهم ولاد ينارٌ" « لاقسمُ بهذاالبَلَدَ».
۶- ضابطه: "من، کاف، با ، لام". دا حروف جاره زائده دی بيا هم ځيل مد خول لره جر ورکوي.
د "من" مثال« يغفر لکم من ذ نوبکم» د "کاف" مثال« ليس کمثله شيئٌ» د"لام" مثال « ردف لکم».
قوله: دوازدهم حروف شرط وآن دواست:

## حروف شرط

تشريح: دولسم حروف شرط دي اود ا دوه دي
۱- ضابطه: "امَّا" د شرط او تاکيد د پاره راځي او د تفصيل د پاره غالبا راځي،او د استناف د پاره قليلا راځي.
۲- ضابطه:"امَّا" شرطيه قائم مقام د "مهما" وي چي د ده فعل شرط هميشه محذوف وي او جزاء کي فاء راوړل لازمي وي: "امازيدٌ فمنطلقٌ".
« فاما ان کان من المقربين فروح وريحان وجنة نعيم»
۳- ضابطه: "لو" پر دري قسمه دي:
۱- اول مصدريه: « ودو لو تدهن فيدهنون»«يود احدهم لو يعمر الف سنة».
۲- تعليق في المستقبل: « وليخش الذ ين لو ترکوا»
۳- تعليق في الماضي : «ولوشئنا لرفعناه بها».
۴- ضابطه: "لو" د شپږو معنيو د پاره راځي په کلا م دعربو کي البته مصنف يوه معنا شرطيه ذ کرکړي ده :۱- لو برائي عرض: "لوتنزل عند نا فتصيب خيراً".
۲- برائي تقليل : "تصد قوا ولوبظلف محرقٍ".۳- لو برائي تمنی:" لو تاتينا فتحد ثنا.
۴- مصد ريه« ودَّولو تدهن فيدهنون».۵- لو برائي تحضيض لوتامرفتطاع.
۶- لو شرطيه لو جئتني لاکرمتک .
سيز دهم لولا واو موضوع است برائي انتفاء ثاني بسبب وجود اول لکه لولا عليَّ لهلک عمرُ:

تشريح : ديارلسم لولا دي او دا وضع سوي دي د پاره د انتفاء د ثاني په سبب د وجود داول
۱- ضابطه: داهم د حروف شرط څخه دي د دي استعمال د انتفاء د ثاني په سبب د وجود داول دپاره دي لکه : لولا عليَّ لهلک عمرُ:
واقعه داسي وه چي يوه ښځه حامله وه راغله زنا ځندي سوي وه حضرت عمرفاروق حکم وکړي چي هغه دي رجم کړل سي نوحضرت علي وويل چي د حاملي رجم بعد وضع الحمل وي په دغه وخت کي د حضرت عمر د خولي څخه د غه کلمات ووتلي .
قوله:چهار دهم: لام مفتوحه برائي تاکيد.

تشريح : څوارلسم لام مفتوحه دي او دا لام راځي دپاره د تاکيد د جملي پر اسم او فعل دواړو باندي دا خليږي او دی لام ته ابتدائيه واي« انَّ ربک ليحکم بينهم» .

قوله:پانزد هم: ما بمعنى ما دم:

تشريح: پنځلسم ما په معنى د ما دام دي لکه: "اقوم ما جلس الامير".

۱- **ضابطه:** د يته ظرفيه مصدريه وايي لکه: "اي اقوم وقت دوام جلوس الامير".

۲- **ضابطه:** "ما" پرلس قسم دي: ۱- حرفي .۲- اسمي. قد مر بيانه في بحث مالا.

شانزدهم: حروف عطف وآن ده است:

## حروف عطف

تشريح: شپاړسم حروف عطف دي اودا لس دي:۱- واو.۲- فاء.۳- ثم.۴- حتي.۵- اِما.۶- او.۷- امْ. ۸- لا.۹- بل .۱۰- لكن.

۱- **ضباطه:** په "واو"كي دوه مذهبونه دي: ۱- جمهور نحات.۲- كوفيين.

جمهور وايی داد معطوف، او معطوف عليه جمع راولي مطلقا لا مع الترتيب والتعقيب.

كوفيين وايی دا جمع راولي سره د ترتيب لکه:" جاء زيدٌ وعمروٌ".

۲- **ضابطه:** "فاء" راځي د معطوف او معطوف عليه په مابين كي د ترتيب بلا فصل د پاره اول حکم د معطوف عليه د پاره وي او بيا بلا فصل سره د ترتيب د معطوف د پاره لکه: "جائني زيدٌ فعمروٌ".

۳- **ضابطه:** "ثم" د پاره د ترتيب او تراخي راځي لکه:" جاء زيدٌ ثم عمرٌ".

۴- **ضابطه:** "حتي" چي دعطف د پاره وي څلور شرطونه غواړي:۱- معطوف به د معطوف عليه بعض حصه وي لکه : "اكلت السمكة حتي رأسها".۲- معطوف به د معطوف عليه جزء وي ياقوي لکه : "مات الناس حتي الانبياء" اوس انبياء بعض د الناس څخه دي خو قوي دي يا به ضعيف وي لکه:"قدم الحاج حتی المشاة" مشاة جزء دي ضعيف د الحاج دي.

۳- معطوف به اسم وي لکه : امثله مذ كوره سوه جمله يا فعل به نه وي.

۵- **ضابطه:** او "اِمَّا". دا راځي د پاره د نسبت د حكم يو د معطوف او معطوف عليه بغيرد تعين د يوه لکه:"جائني زيدًا اما عمرٌو، جائني زيدٌ اماعمروٌ، جائني زيداما عمروٌ.

۶- **ضابطه:** "او" دا د ډ ير معنايو دپاره راځي :۱- تخيير د معطوف او معطوف عليه كي چي كم يومختار كوي لکه: "تزوج فاطمه او اختها".

۲- براي اباحت معطوف او معطوف عليه په اختيار كي ستا د پاره رخصت او اختيار دي لکه :"جلس العماء او الزهاد".

۷- **ضابطه:** فرق د اباحت او تخيير په تخيير كي به د معطوف او معطوف عليه څخه يو مختار كوی او جمع يي صحيح نه ده لکه په مثال مذ كور كي او په اباحت كي د واړه جمع كولي سي ليكن سامع په ابهام كي واقع كوي لکه:"الكلمة اسم او فعل او حرف".

۳- برائي ابهام د متكلم يقين په احدهما كي وي ليكن سامع به په ابهام كي واقع كوی "جاء زيدٌ اوعمروٌ".

۴- برائي شک د متكلم په دواړ كي په تعين د احدهما كي په شک وي لکه : "جاء زيدٌ او عمروٌ".

۵ـ برائي اضراب په شان د بل حکم د معطوف عليه څخه نقل کوي ومعطوف ته.
۶ـ په معنی د "واو" د پاره چي التباس رانه سي.
**۸ـ ضابطه:** که چيري د "اما" د معطوف عليه په سره کي که بل "اما" ذ کرسي نوپه ده کي هم د او په شان مذ کور پنځه معناګاني راځي:۱ـ امابرائی تخير لکه خذ من مالي اما درهم واما ديناراً.
۲ـ تخيير. ۳ـ برائي اباحت لکه : جالس اما الحسن واما ابن سيرين.
۴ـ د تقسيم د پاره راځي لکه: الکلمة اما اسم وامافعل واما حرف.
۵ـ برائي ابهام وشک لکه : جاء امّآ زيدٌ واما عمروٌ.
**۹ـ ضابطه:** په "اما" کي د نحات اختلاف دي بعضي وايی چي د حرف عاطفه نه دي ځکه پر دي واو عطفه دا خليږي او حرف پرحرف نه دا خليږي .
او دا مختا رمذهب دي . بعضي وايی چي دا دعطف د پاره دي.
**سوال:** هرکله چي پر مختا رمذهب باندي "اما" عاطفه نه سو نو بيا يي ولی د لته راوړي؟
**جواب:** مجازاً د لته شمار کړي دي ځکه د بعضي حروف عطفه معنا ادا کوی.
**۱۰ـ ضابطه:** لا هم د حروف عاطفه څخه دي په دي سره عطفه کيدي سي :
۱ـ د نداء څخه وروسته:لکه: يات زيدُ لاعمرُ.
۲ـ د امر څخه وروسته لکه: اضربْ زيداً لاعمراً.
۳ـ وروسته تراثبات لکه : جائني زيدٌ لاعمرٌو.
**۱۱ـ ضابطه:** "لا" به د حروف عاطفه څخه هلته شمار وي چي معطوف عليه يي مفرد وي لکه په امثله مذ کوره کي.
**۱۲ـ ضابطه:** "لٰکن" سره عطف د نفي څخه وروسته کيدي سي، او يا بعد النهي مثال لکه: "ما ضربت زيداً لکن عمرواً".
مثال د نهي لکه:"لاتضرب زيداً لکن عمرواً".
په اثبات کي عطف په لکن سره صحيح نه دي لکه :"جائني زيدٌ لکن عمروٌ".
**۱۳ـ ضابطه:** بل: د دي د عطف دوه صورتونه دي:
۱ـ د نفي څخه وروسته لکه: "ما قام زيدٌ بل عمروٌ" .
۲ـ يا د نهي څخه وروسته: لکه لاتضربْ زيداً بل عمرواً.
**تاريخ:** وخت د فراغت د ترتيب او ډ زين په کمفوټرسره ۱۲ـ جماد الثاني ـ۱۴۴۲. د دوشنبي ورځ سهاراته کم دولس بجي.
لله الحمد من الله توفيق في الابتداء والانتهاء. تنقيح وتهذ يب تاريخ ۱۹الجمادالثاني ۱۴۴۲..
نوري کمفوټر اداره: افغانستان، هلمندي .
وخت اختتام :
نظر ثالث تاريخ ۲۴رجب ۱۴۴۲. ماپښين ځلور بجي دوه ويشت دقيقي بالا.
د دوشنبي ورځ.

# د حقیرفقیربنده مرتب سوي آثار:

| | |
|---|---|
| ایضاح التجوید | في الاجراء قرائت |
| ایضاح النمیر | پښتو شرح نحومیر |
| ایضاح الصرف | پښتو شرح ارشاد الصرف |
| ایضاح الهادي | پښتو شرح زرادي. |
| تحقیقات الحقاني | پښتو شرح ایساغو جي |
| تحریرات الحقانیه | پښتو شرح کند یا |
| اصول القضایا | یعني د قضاء کورس. |
| فتاوی حجاب المرأة المسلة | في الفقه الاسلا مي. |

*دفتوی : د لیکلو لارښونه وادابه*

*الرسالة: في تاویل الرؤیا ربه في المنام*

*الرسالة: في حکم التکبیرات التشریق*

*الرسالة: في بیان شرطیة المصرلوجوب الجمعة*

*الرسالة: في حفظ الاصول في حدیث الرسول مقد مة المشکوة*

*الرسالة: المسماة بأکسیرفي حفظ اصول التفسیر*

*الرسالة: المسماة بعورة الوثقی في تحقیق الایمان المنجیٰ*

*نوټ: دِ یر الرسالي چي لاتراوس ترکمفوتیرنه دي وتلوي.*